# آزاد خان افغان

## د ایران شهریار او د آذربایجان واکمن

۱۷۴۷ - ۱۷۸۱م




مهندس نجیم آزادزوی



وږی ۱۴۰۳ ش – سپتمبر ۲۰۲۴

# آزاد خان افغان

**د ایران شهریار او د آذربایجان واکمن**

۱۷۴۷ م- ۱۷۸۱ م

**مولف: مهندس نجیم آزادزوی**

بسم الله الرحمن الرحيم


**د کتاب ځانګړنې:**

د کتاب نوم: **آزاد خان افغان**

مولف: **مهندس نجيم آزادزوی**

ډيزاين: **حسيب الرحمن ساحل**

چاپ کال: **وږی ۱۴۰۳، سپتمبر ۲۰۲۴**

شمېر: **۵۰۰ ټوکه**

چاپ وار: **لومړی**

چاپ چاري: **منډيګک تاريخي بنسټ**



**د دې کتاب د چاپ، پرويېپاڼو او ټولنيزو رسنيو د خپرولو حقوق له خپرندوی سره خوندي دي.**



پته: ميرويس ميدان «کوټه سنګي» کابل – افغانستان.

ISBN 978-9936-1-0811-0

9 789936 108110

**مل کارت**

عنوان او لیکوال: **آزاد خان افغان/نجم ازادزوی**
موضوع: **بیوګرافي، تاریخ، افغانستان او ایران**
۱۵۵ مخونه، انځور لرونکي
978-9936-1-0811-0 :ISNB

**د مل کارت پربنسټ لړلیکنه:**

ډلبندي: ۹۲۰
د عامه کتابتون شمېره: ۱۳

# زموږ د تاريخ د يوه تت دوران سپړنه

بسم الله الرحمن الرحيم

ډېر خوشحاله يم چې د خپل ګران وطن، سرلوړو اوویاړلو مشرانو د واکمنیو او د تېر پرتم يوبل قيمتي اثر را ته مخه کې پرانيستی دی. د تاريخ مطالعې سره د ښوونځي له دورې مينه لرم. هر تاريخ مې چې لوستی، ورپسې مې د نورو تاريخي کتابو لوستلو ته ليوالتيا زياته شوې ده. د همدې ليوالتيا له مخې مې يو وخت د اروابناد غبار د۱۰۳۳پاڼو تاريخ پښتو ته وژباړه چې په ۱۳۹۴ل. کال سبا (ميوند) خپرندويه ټولنې نشر کړ. د اقتصاد د پوهنځيو د محصلانو لپاره مې په افغانستان کې د صنعت تاريخ، دمالی چارو تاريخچه، د ادارې او حکومتولي تاريخونه وليکل. دا دی اوس راته يوبل ډېر ښکلی کتاب مخکې له چاپ او خپرېدو په مخه راغی. د دې دري اديشن لومړی چاپ مې تقريباً اووه کاله مخکې لوستی و، دا دی اوس يې پښتو اديشن چاپ ته چمتو شوی دی.

افغانستان د خپل تاريخ په بهير کې ډيرې ځلانده دورې او وياړلې ځېرې لري چې له بده مرغه دا ټول وياړونه مو ثبت او ضبط کړي نه دي. دا زموږ بې غوري او بې خبري ده چې دخپلو ځينو مشاهيرو له کارنامو خبرنه يو. تر دې هم عجيبه دا ده چې زموږ زياتره مشاهير او د تاريخ ځلانده دورې د نورې نړۍ او نورو ژبو ليکوالانو او مورخينو په زرينو کرښو کې معرفي کړي دي. په دې کې يو هم د اوسني ايران او اذربايجان پراخو ورشوو کې نامتو ټولواک اروابناد افغان آزاد خان دی چې په ( آزاد خان افغان) مشهور دی. نوموړي په اتلسمه پېړۍ کې هلته د ټولواکي خول په سر کړی و.

کله چې له هندوستان ترآذربايجان (د هند او عربو دسمندر له غاړو دتور سمندر ترغاړو) او له کاشان او کاشغر تر پارس پورې د افغان پاچاهانو د دوران آبادي، د خلکو زړونو کې يې مينه او د حکومتولي طرز ګورو، افسوس کوو چې ولې مو دا ټول نه دې څېړلي، بلکې ډېر راڅخه هېر دي.

دغو ټولواکانو په دې پراخ وربوی کې د وياړنې وړ خدمتونه کړي او په اوچت درايت او عالی رهبرۍ سره يې اداره چلولې ده. د دوی پروژې، کارنامې، خدمتونه او آثار لا اوس هم شته. له فريدخان (شېرشاه سوري) تر احمد شاه بابا، هوتکيانو، غوريانو او افغان آزاد خان پورې بايد يو ځل بيا تر څېړنې لاندې ونيسو.

له نيکه مرغه زما خوږ دوست، ښاغلي پوهنمل مهندس محمدنجيم آزادزوی صاحب د دغو نامتو څېړو او واکمنانو له ډلې يو د درناوي او وياړ وړ څېره ( اروابښاد آزادخان افغان) په يوه ځانګړي کتاب کې راپېژندلی دی. د کتاب نوم" **آزادخان افغان**" دی  چې په ۲۰۲۴م./۱۴۰۳ل. کال کې بشپړ شوی دی. د دې کتاب لپاره د موادو راټولول، د اخځ موندل، د سيمو او شواهدوکتنه، دنقشو پلټل او د تاريخ استادانو سره د کتنې ټول جريان هم په کتاب کې راغلی دی. د آزاد زوی صاحب دڅېړنې تشريح شوی ميتود د تاريخ ليکونکو او د تاريخی آثارو د معرفي کوونکو لپاره يوه غوره بېلګه ده. دا کتاب لومړی ځل څوارلس کاله مخکې په دري ژبه خپور شوی، دا دی اوس يې پښتو ورژن هم له زياتونو سره بشپړشو. دا وروستی يې د دري هغه په پرتله يوڅه نوي معلومات هم لري، ځينی برخې يې د لنډيز په موخه حذف شوي هم دي. ليکوال د کتاب په سريزه کې د دې اثر د ليکلو د نيامت او پيل په هکله په زړه پورې خاطرات ليکلي دي، د ماخذ لټون او د ليکنې څرنکوالی يې په جذابه او خوږه ژبه بيان کړی دی.

کتاب پينځه څپرکي او يوه نښلونه لري: لومړی څپرکی د افغان آزاد خان پېژندنه او نسب دی، دوهم څپرکی په آذربايجان کې د آزادخان واک ته رسېدل او د ايران دهغه وخت د ګډوډيو کابو کول دي، درېيم څپرکی د اذربايجان او ايران دخلکو د هوسايني او هلته د غوره حکومتولي په موخه له کريم خان زند او نورو ياغيانو او طاغيانو سره مبارزه بيانوي. دوه وروستي څپرکي لازيات جالب دي، دا دوه څپرکي هغه معلومات لري چې تراوسه موږ ته نه و څرګند.

کتاب له پند ډکه او خواشینوونکی برخه د دغه اتل په وړاندې توطئې او دسیسې را پیادوي چې دښمنانو آن د ده د ژوند د ختمولو پلان یې جوړ کړی و.

تاریخ کیسه کوي چې که پخواني پارس کې د زند، صفویانو او قاجاریانو په شان ظالمان وو، خو ورسره دغو خلکوته د خدای پاک له لوري د ازاد خان او هوتکیانو په شان مهربانه، د ژغورنې، پوښتنې او لورېینې پربنتې هم مقررې شوي دي چې خلکو ته د داد ترڅنګ یې ډېر عمراني او اصلاحي کارونه کړي دي او یادګارونه یې تر اوسه شته دي.

متاسفانه د افغانستان په زیاترو تاریخي کتابونو کې د آزاد خان د واکمنې دوره او ځایونه زیات نه دي تشریح شوي، خو ډېر داسې بهرني اخځ په واک کې لرو چې دا دوره یې ښه او مستنده تشریح کړې ده.

نه غواړم د کتاب د محتوا په اړه تر دې زیات څه ووایم، یقین لرم چې داکتاب به لوستونکي په تنده اومینه ولولي. د لیکنې ژبه روانه، خوږه او مانوسه ده، ډېر جالب او حیرانوونکي مسایل پکې بیان شوي دي. له دې کتاب څخه موږ هغه څه زده کولای شو چې متاسفانه پخوا مو په غفلت سره پام ورته نه و کړی. د کتاب په لوستلو سره به لوستونکي ډېرو عجیبو پېښو ته هیښ پاتې شي. په کتاب کې کښل شوي انځورونه او نقشې کتاب نورهم په زړه پورې کړی دی. په کتاب کې د دغې افغاني کورنۍ تړوله شجره هم ثبت شوې ده. د هغه وخت سکې، نقشې، خطونه، لیکلي سندونه او نور ضمایم هم لري.

دا تاریخي اثر نه یوازې دا چې موږ او تاسو له افغان آزاد خان د واکمنې اود هغه عصر او دوران له پېښو خبروي، بلکې د هغه وخت جاري سیاست او سیمه کې د وخت د قدرتونو له کشمکش څخه هم خبرېږو. زه یقین لرم چې دا کتاب اوسنیو ایرانیانو ته لازیات جالب او حیرانوونکی دی. بویه چې دوی له ډېرو حقایقو خبر شي. د کتاب وروستیو پاڼو کې ۲۴ دري او پښتو او پنځه انګلیسي ماخذه راغلي دي.

د دغه ښکلي کتاب لیکوال ښاغلی **مهندس محمد نجیم آزادزوی** دی. آزادزوی غزني ولایت کې نړۍ ته سترګې پرانیستي دي. د حضرت سنايي(رح) معنوي برکات يې په نصیب شوي دي، د سنايي، باختر او غازي په لیسو کې يې زده کړې کړي دي، په اتلس کلنۍ کې د امریکې متحده ایالاتو ته د لوړو زده کړو لپاره ولاړ. بیا يې د کابل د انجینرۍ پوهنځي په ممتازه درجه پای ته ورسوه او د لوړو نمرو په لرلو سره د دغه پوهنځي په علمی کادر کې د اسیستانت په توګه جذب شو، وروسته د پوهنمل علمي رتبې (اسیستانت پروفیسور) ته لوړ شو. په ۱۹۸۱م کال پېښور ته مهاجر شو، هلته یی دیونیسف اداره کې کار پیل کړ او ترهغه وروسته بېرته د امریکا متحده ایالاتو ته ولاړ. هلته يې د امریکې معتبر پوهنتون (د مساچوسیتس د تکنالوجۍ انستیتیوت MIT) کې د مهندسي او ښار جوړونکی ماسترۍ تدریس پیل کړ. یو شمېر علمي آثار يې لیکلي دي، پوخ قلم لري. د افغانستان د تاریخ د ټولنې د موسسانو د ډلې د غړیتوب ویاړهم لري.

په درنښت

پوهاند محمد بشیر دودیال

د افغانستان د تاریخ د ټولنې د موسسانو غړی

۱۴۰۳/۶/۱۵ل.= 14/09/2024

آلمان

## دآزادخان افغان تاريخي ياد

په دې وروستېيوکې دازادخان افغان ترسرليک لاندې يوموهم کتاب چې مولف يې مهندس نجيم آزادزوی صاحب دی، کښل شوی دی.

دغه کتاب پنځه څپرکي لري، چې لومړی دآزادخان لنډه پېژندنه ده اوداسې راغلي چې آزاد خان دسليمان خان زوی دکابل دغلجي افغانانو څخه وو... د کتاب په ۱۲۹ مخ کې راغلي چې ۷۶ کالو په عمرله دې نړۍ سترګې پټې کړې، چې په دې حساب دده زوکړه په ۱۷۰۵ زیږدي کال يقيني ده.

په دې کتاب کې دارپېري په قول ددې خبرې پخلی هم شوی دی ، کله چې نادر افشار په ۱۷۳۸ کال کابل ونيو، آزاد خان ورسره يوځای شو.

افغانان له پارس نه ترهندوستانه نومي کتاب کې راغلي دي چې «دی د نادر افشار قومندان وو،ولې ځنې په دې اند دي،چې دی د سيدال خان ناصر ملګری وو او د هغه د مرستې لپاره يې د نادرافشار پر وړاندې له غزني څخه څو وارې خپل جنګيالي ور استولي وو.» (ياد کتاب۴۵۳مخ)

د آزاد خان پلار سليمان خان د غزني له نامتو خانانو څخه وو او د روايتونو له مخې په لويه پښه کې غلجی وو. خورشيد جهان کې راغلي دي،«آزاد خان يو مېړنی جنګيالی وو، لومړی يې له کريم خان زند سره دښمني درلوده، وروسته سره دوستان شول» (شيرمحمد ګنداپور۲۱۷مخ )

آزادخان سليمانخيل بيا منګولې سرې کړې

په مينځ ميدان ورګډ سو

مرادعلي غاړې ، بيخ نه ورته پرې کړې

ددې کتاب په دویم څپرکي کې هم ځینو مهمو ټکو ته اشاره شوې ده چې ددې څپرکي غوښنه برخه په آذر بایجان کې دده واک اوځواک دی... ښاغلي آزاد زوی په دې تړاو لیکلي دي«...کله چې نادرافشار (۱۷۳۸ز) کابل ونیو، آزادخان د نادر افشارپه موافقه آذربایجان ته ځي ... »

حقیقت دادی چې نادر افشار۱۰میاشتې کندهار کلا بند کړ او شاه حسین هوتک تر هغې تسلیم نشو ترڅو چې ټوله کلا د درنو توپونو دبرید له امله ړنګه شوه ... نو ځکه نادر په دې پوهېده چې دی د افغانانو له مرستې پرته بري ته نشي رسېدلای، نو همدا لامل و چې احمد شاه ابدالي او آزاد خان افغان یې د ځان ملګري کړل.

دغه دوه افغان شخصیتونه چې یو په قوم ابدالی اوبل په قوم غلجی وو... نادر دواړه په خوا کې ونیول او د هنري جورج راورټي په اند که چېرې دغو دواړو ټبرونو لاس یو کړی وای، پرته له شکه به د دغو جګړو پایلې بل ډول وی.»

(د ډېرو معلوماتو لپاره وګورئ راورټي... افغانستان، ۶۱۰ مخ )

د دغه کتاب په درېیم څپرکي کې دازاد خان افغان د پاچاهي اعلان، دده مبارزې د کریم خان زند سره، علي مردان خان څوک و؟، ابوالفتح څوک و؟ ، آزاد خان افغان او کریم خان زند جنګونه او یو شمېر نور سرلیکونه د ساري په توګه یادولی شو.

ګنداسنګ د آزاد خان د ځواک او واک په تړاو لیکلي چې دده خیالات ډېر اوچت ول ... غوښتل یې چې ایران، افغانستان او هندوستان یو هېواد کړي. (افغانان له پارس نه تر هندوستانه ۴۵۵مخ )

د کتاب په څلورم څپرکي کې د ازاد خان افغان او محمد حسن خان قاجار، د اصفهان نیول ...، دایران په شمالي ایالتونو کې دازاد خان پوره واکمني، د محمد حسن قاجار وژل

کېدل، د کریم خان زند له خوا د افغانانو د قتل عام فرمان او یو شمېر نور سر لیکونه کښل شوي دي.

آزادخان سره د هغې چې دواک په سر له بیلابېلو سیالانو سره لاس و ګرېوان و، ولې بیاهم ده په ۱۷۴۷کال په داسې حال کې چې احمد شاه ابدالي په افغانستان کې د یوې لوې جرګې له خوا واک ته رسیدلی وو، ده د آذربایجان د لاتینګښت او پایښت لپاره یوه پیاوړې پوځ اوځواک ته دنده سپارلې وه چې د پلازمېنې په توګه آذربایجان وساتي.

ولې بیا هم د **مجمع التاریخ** له مخې کریم خان خپل ارمان ته ورسېد، ده ګڼ شمېر افغانان چې ګڼې د نوروز دجشن په ویاړ ډالۍ اوانعامونه ورکوي... تهران ته راوغوښتل او بیاېې خپلو پوځیانو ته دتول وژنې امر وکړ.(مجمع التاریخ ۳۲۲ـ۳۲۳مخونه).

د کتاب په پنځم څپرکي کې د «آزاد خان افغان وروستۍ ورځې» تر لوې سرلیک لاندې، څو نورو سرلیکونو ته ځاې ورکړ شوی دی، لکه: ولې آزادخان عراق ته ځي؟، په ګرجستان کې آزاد خان ته د کریم خان زند پیغام، د آزاد خان افغان مړینه، د آزادخان افغان موخې... او په پاې کې د ضمیمه تر سرلیک لاندې د موضوع په اړه لازمې څرګندونې شوي دي.

زما د معلوماتو له مخې آزاد خان افغان، کریم خان زند او محمد حسن خان قاجار یو بل سره څو څوځله په جګړو کې ښکیل شول، خو وروستۍ برۍ په بشپړه توګه د هیچا په برخه نشو او د عجب تصادف له مخې درې واړه همزولې هم ول، خو د «پیري» د څرګندونو له مخې آزادخان د کریم خان زند له مړینې نه دوه کاله وروسته په ۱۷۸۱ز یړدي کال د۷۶ کالو په عمر ومړ.

آزادخان په اوو ۷ ژبو رواني خبرې کولای شوې، لکه پښتو، پارسي، کردي، ازبکي... دی نه یوازې یونامتو جنګیالی وو، بلکې هوښیار، سوله خوښونکی اود انصاف څښتن انسان هم وو... ده د یو شمیر فرمانونو له مخې ټولنیزو اصلاحاتو ته لاره اواره کړه ... د ده له مړینې

وروسته کورنۍ یې په لغمان کې مېشته شوه، ولې نه ده څرګنده ،چې چېرته ؟ (افغانان له پارس نه تر هندوستانه ۴۵۸ـ ۴۵۹ مخونه)

د «آزاد خان افغان» ترسرلیک لاندې کتاب چې دښاغلي اوپیاوړي لیکوال مهندس نجیم آزادزوی صاحب له خوا تالیف شوی دی یوګټور تاریخي کتاب دی، د کتاب مینه وال دېته رابولم چې دغه ګټور کتاب ولولي.

په پای کې زه آزادزوی صاحب ته مبارکي وایم چې په ډېر زیار ګالنې یې دغه په زړه پورې کتاب درنو لوستونکو ته وړاندې کړی دی ... له څښتن تعالی نه ورته د لابریو هیله کوم.

په ډېر درناوي.
پوهاند شهسوار سنګروال
لندن
۲۰۲۴\۱۰\۶

# د لیکوال سریزه

## د لوی خدای په نامه

له نن څخه پوره څوارلس کاله وړاندې خدای تعالی ماته دا توان راکړ چې د افغان تاریخ د ستر اتل آزادخان افغان د تاریخ لومړنی کتاب بشپړ او په دري ژبه  خپور کړم. په دې څوارلس کلنه دوره کې ډېرو دوستانو له ما وغوښتل چې د افغانستان دغه ارزښتناک او هېر سوی تاریخ پښتو ته وژباړم او چاپ کړم.

له نېکه مرغه تېر کال د مندیګک بنسټ چې د افغانستان د تاریخ اړوند څېړنیز بنسټ دئ، ورېغبېدم او د آزادخان افغان د تاریخ په اړه مي د نورو معلوماتو غونډولو هڅه وکړه. د منډیګک بنسټ له مؤسس سردارولي پښتنون زوی سره مي خبري وکړې او د ښه مرغه د آزاد خان په اړه منډیګک بنسټ زما څو لنډي لیکني هم خپرې کړې چي زه د سردارولي او د هغه د همکارانو له همکاری څخه مننه کوم.

د خبرو پر مهال د آزاد خان افغان تاریخ کتاب پښتو ته د ژباړي او بیا چاپولو اړتیا ذکر سوه.  ښاغلي سردارولي ژمنه وکړه چي د منډیګک بنسټ به دغه کتاب له دري په پښتو وژباړي، وروسته له دې د آزاد خان د تاریخ د کتاب د ژباړي چاري پیل او د ښه مرغه د دي کتاب لومړنی پښتو ژباړه چمتو شوه.

د څوارلسو کلونو په موده کې چي د کتاب لومړی ګڼه په دري ژبه خپره سوه، ما نوي معلومات له تاریخي منابعو په تېره بیا د ایران له اول لاس منابعو ترلاسه کړي او تر یوه حده مي دا نوي معلومات پدې کتاب کې ضمیمه او شامل کړي دي. ځینو ملګرو دا وړاندیز وکړ چي که امکان ولري د آزاد خان افغان د تاریخ په پښتو ژباړه کې باید د یو لړ تاریخي موضوعاتو له ذکر څخه ډډه وکړم چي د آزاد خان افغان له فعالیتونو سره مستقیمه اړه نه لري، لکه: د غلزو په اړه پراخ وضاحتونه، د غزني او افشارو تاریخ، د نادر افشار، کریم خان

زند او قاجاريانو په اړه مفصل توضيحات او داسي نور چي په دې پښتو ژباړه کي په خلص ډول راوړل سوي.

ليکوال په دې باور دی چي د آزاد خان نه د مخکي تېر سوي تاريخ مطالعه او د شخصيتونو پېژندنه او د سياسي او پوځي حالاتو پلټنه به د آزاد خان افغان په پېژندلو کې مرسته وکړي. زه هيله لرم چي د آزاد خان افغان د تاريخ په دريم چاپ کي، که خدای تعالی ماته دا بريا را په برخه کړي, دا مفصل معلومات  د کتاب په وروستۍ برخه کي شامل کړم.

موږ ويلای سو چي ستاسي په لاس کي دا چاپ او ژباړه نه يوازي له دري څخه پښتو ته د کتاب د ژباړي په توګه، بلکي د کتاب د بيا کتني په توګه هم مهم وګڼو، همدارنګه لوستونکي کولای سي، حذف سوي معلومات د کتاب په دري ګڼه کي ولولي.

مهندس نجيم آزادزوی

## د دري متن سریزه

د خپل پلار روح ته دعاګاني کوم. زما پلار میرزا محمد نسیم خان آزادزوی به همېشه ویل: که چیري تاریخ **ګیتي ګشا**، **مجمع التواریخ** او **مجمل التواریخ** کتابونه وپلټی د آزاد خان تاریخ او سرګذشت به ومومی. په هغه وخت کي یعني ۱۳۵۰ هـ ش زه د کابل پوهنتون محصل وم او څو ځلي د کابل عامه کتابتون ته ولاړم او په دغه کتابونو پسې وګرځېدم، راته وویل سول دغه کتابونه ساتل سوي دي او چاته نه ورکول کیږي، په دې کښي کلونه تېر سول او موږ هم له خپل وطن څخه مهاجر سوو، یوه ورځ د هارورډ پوهنتون وایډنر کتابتون(Harvard University, Widener Library) ته ورغلم. د منځني ختیځ د کتابونو په برخه کي پسي وګرځېدم، ددغه برخي مسئول یو انګرېز وو، د دري ژبي په ایراني لهجه ئې رواني خبري کولای سوای، ټول ذکر سوي کتابونه ئې راته راوړل.

د ده سره د خبرو په ترڅ کي په دې وپوهېدم چي د آزاد خان او د هغه دورې د تاریخ په هکله ډېر معلومات لري، د کتابونو دغه مسئول یو نوی کتاب چي په انګلیسي ژبه لیکل سوی وو راته راوړ او د لوستلو وړاندیز ئې راته وکړ، دا هغه د جان آر پیري (John R. Perry) کریم خان زند د ایران تاریخ ۱۷۴۷-۱۷۷۹ م کتاب دئ چي د شیکاګو پوهنتون (۱۹۷۹م) چاپ کړی دئ، په دغه کتاب کي د شروع څخه تر اخیره پوري د آزاد خان یادونه سوې ده او ددې کتاب د اولي برخي په درېیمه حصه کي ۱۴ مخونو یوازي د آزاد خان بحث ته ځانګړي سوي دي. ما څو واره دغه کتاب لوستلی دئ او د پروفیسور پیري له زحمتونو مننداوی یم. کله چي په ۲۰۱۰م کال کي د خپل مسلکي کارونو له پاره کابل ته د شپږو میاشتو له پاره تللئ وم، یوه ورځ مي د کابل عامه کتابتون ته چي په زرنګار پارک کي موقعیت لري سر ورښکاره کړ، ما د کتابتون د آمر پوښتنه کوله چي د محترم عبدالرحمن خان په نامه شخص د کتابتون د آمر په حیث ځان معرفي کړ، له هغه وروسته ئې زه د کتابتون د کتلاک له مدیر حاجي صاحب محمد شفیع سره معرفي کړم ما د پنځلسو دري او پارسي ژبو لیکل سوو کتابونو لیست هغه ته وړاندي کړ، هغه ماته د همکارۍ وعده راکړه چي په دغه کتابونو

پسي به حتماً په کتابتون کي پلټنه کوي. دوې اونۍ وروسته ئې د تليفون له لاري  راته وويل چي سره وينو، هغوی راته وويل چي  په کتابتون کي تر پنځلسو ډېر داسي کتابونه سته چي  د آزاد خان په باره کي پکښي بحث سوی دئ. ما له هغوی څخه غوښتنه وکړه که چيري امکان ولري ټولي هغه صفحې چي د آزاد خان ذکر پکښي سوی دئ راته کاپي کړي.  هغوی زما دغه غوښتنه په خوشحالۍ سره ومنله، په سبائې د هغه صفحو څخه اخيستل سوي کاپياني، چي تعداد ئې، له دوه سوه صفحو څخه ډېر وو، راته راوړی. د يادوني وړ ده چي دواړه دې ته حيران وو، چي ددغسي تاريخ په هکله تر اوسه پوري ولي هيڅ څوک معلومات نه لري، زه د دوی دواړو د همکارۍ او مرستي مننه کوم، له هغه وروسته د افغانستان د علومو اکاډمۍ ته ورغلم او په اتفاقي ډول د افغانستان د معاصر تاريخ ليکوال محترم حبيب الله رفيع سره معرفي سولم، هغه راته وويل: چي د افغانستان ددغه تاريخي شخصيت په باره کي ډېر معلومات لري او کلونه کيږي چي د آزاد خان په باره کي د يوه کتاب هيله په زړه کي لري.

وروسته د کابل پوهنتون د اجتماعي علومو پوهنځی ته ولاړم او هلته د محترم الحاج پروفيسور داکټر عبدالباقي حصاري سره معرفي سوم.  پوهاند حصاري ددغه پوهنځی د تاريخ د څانګي آمر دئ، د هغه سره د آزاد خان موضوع له شريکولو څخه په دې وپوهېدم چي پوهاند حصاري هم د آزاد خان او د هغه تاريخي دورې په هکله چي آزاد خان پکښي اوسېدی ډېر معلومات لري. ده هم د آزاد خان په باره کي د کتابونو د ليکولو سيمنارونو او کنفرانسو جوړول اړين وبلل او په دې برخه کي ئې د هر ډول همکارۍ وعده وکړه، يوه بله ورځ د پوهاند حصاري سره د کابل پوهنتون رئيس ته ورغلم، هغه هم د اجتماعي علومو د پوهنځی د پروګرامونو په چوکاټ کي د آزاد خان په هکله سيمنار جوړول ومنل. زه د پوهاند حصاري له همکاريو منندوی يم.

پوهاند حصاري د غلام حيدر مصباح په نامه يو ځوان چي د کابل پوهنتون د اجتماعي علومو د تاريخ د څانګي څخه تازه فارغ سوی وو راته معرفي کړ، غلام حيدر د تاريخ د څانګي  يو له ممتازو زده کوونکو څخه دئ. غلام حيدر موافقه راسره وکړه چي د آزاد خان

په هکله د یوه کتاب د څېړنې مرستیال په توګه به همکاري وکړي ما د هغه صفحو چې د کابل د عامه کتابتون څخه مي تر لاسه کړي وې، یوه کاپي غلام حیدر ته ورکړه او هغه ته مي وویل چې اوس له دغه معلوماتو څخه استفاده وکړه او په دې هکله پلټنه شروع کړه. که څه هم غلام حیدر مخکې له دې د آزاد خان په باره کې هیڅ معلومات نه درلودل، اما ددې موضوع په هکله هغه ځانګړې علاقه وښودله. زه دده هڅې، ستړیاوي او زحمات  د زړه له کومي ستایم.

ددې کتاب رسمونه او سکېچونه، فردوس صمیم د انجینري پوهنځی د مهندسی د ځانګې محصل کښلي دي. فردوس دوه واري غزني ته سفر وکړ تر څو د آزاد خان کلا اندازه کړي.  زه له ده څخه د زړه له تله منندوی یم.

په هغه غونډو کې چې څو ځلې په کابل کې جوړې سوې؛ ډېرو دوستانو ګډون وکړ او په دې هکله ئې خپل نظرونه واورول. زه له هریوه څخه جلاجلا مننه کوم.

د ټولو هغه ځوانانو او آزادزویانو څخه مننه کوم چې د کابل پوهنتون په مختلفو پوهنځیو کښې ئې زده کړي کولې او په بېلابېلو برخو کې ئې مرستې کړي دي چې متاسفانه زما د ټولو نومونه په یاد نه دي؛ په ځانګړي ډول له اسرافیل آزاد زوی، نثار احمد آزاد زوی، او جاوید احمد آزاد زوی څخه مننه کوم.

مهندس  نجیم آزادزوی

# فهرست


تقریظ: پوهاند بشیر احمد دودیال........................................................................1
تقریظ: پوهاند شهسوار سنګروال........................................................................5
د پښتو ژباړې سریزه............................................................................................9
د دري ژباړې سریزه...........................................................................................11

لمړی څپرکی...................................................................................................17
د ازاد خان افغان لنډه پېژندنه.............................................................................17
آزاد افغان څوک وو؟..........................................................................................22
د ازاد خان افغان د نسب لړۍ...............................................................................28

دوهم څپرکی...................................................................................................28
آزاد خان افغان په آذربایجان کښې......................................................................28
په آذربایجان کې د آزاد خان واک ته رسېدل.........................................................28
د ایران ګډوډه سیاسی حالات...............................................................................30
رابه سو آزاد خان ته:.........................................................................................33
د کرمانشاه مشرانو ته د آزاد خان لیک:...............................................................34
د ګُرجستان نیول او د ارګُل (هیراکلیوس) د خور سره واده:...................................36

دریم څپرکی...................................................................................................42
د آزادخان افغان د پاچاهۍ اعلان.........................................................................42
د اصفهان نیوله...............................................................................................42
د آزاد خان مبارزې د کریم خان زند سره...............................................................43


علي مردان خان څوک وو.......... 43
ابوالفتح خان څوک وو .......... 45
د آزادخان افغان او کریم خان زند جنگونه.......... 46
د قاضی عمر خبري اتري .......... 48
د دوآبه جنګ او د آزاد خان دوهمه بریا پر کریم خان.......... 61
د آزاد خان درېیم ځل بری پر کریم خان زند.......... 63
د آزاد خان تر واک لاندي سرحدونه ۱۷۵۳-۱۷۵۵ م.......... 66
د آزادخان د وژلو پلان او د قمشه جنګ.......... 66
د آزادخان د کرمانشاه د کلا د نیولو فکر.......... 71
د کمارج جنګ او د شېراز نیول ( ۱۷۵۴ م) .......... 76
اصفهان څرنګه د آزاد خان له لاسه ووت.......... 83
کریم خان زند او احمدشاه دُراني.......... 87

څلورم څپرکی.......... 90
آزادخان افغان او محمد حسن خان قاجار .......... 90
د محمد حسن خان قاجار لنډه پېژندنه .......... 90
د آزادخان مبارزې د محمد حسن خان قاجار سره د ۱۱۶۸/۱۷۵۴ه.......... 92
اُرومیه د آزادخان او محمد حسن خان د جګړو په لمبو کښې .......... 92
د اصفهان نیول د محمد حسن قاجار په لاس.......... 95
د اصفهان نیول د آزادخان په لاس دوهم ځل.......... 96
د ایران پر شمالي ایالتونو د آزادخان پوره واکمني .......... 100
په اصفهان کې د محمد حسن خان یو ځل بیا بری.......... 102
د محمد حسن خان قاجار وژل .......... 103
د کریم خان زند لخوا د افغانانو د قتل عام فرمان.......... 105

پنځم څپرکی ........ 107
د آزادخان افغان ورستی ورځې ........ 107
ولی آزادخان عراق ته ځي؟ ........ 107
د مراغه جګړه او د آذربایجان د بیرته نیولو د ازاد خان هڅه ........ 112
په ګُرجسان کې آزاد خان ته دکریم خان زند پیغام ........ 115
د آزاد خان افغان مړینه ........ 121
د آزادخان افغان موخې ........ 124
ولې د افغانستان په تاریخ کې د آزادخان یادونه نه ده سوې؟ ........ 125
ضمیمهAppendix ........ 128
آزادخان بابا ........ 128
د آزادخان کلی په غزنی کښې ........ 131
د آزاد خان څخه پاته سوې کورنی ........ 134
فهرست مآخذ ........ 144

# لمړی څپرکی

## د ازاد خان افغان لنډه پېژندنه



*آزاد خان افغان*

آزادخان  څوک وو؟ نه يوازي دا چي د نادر افشار له مرګ وروسته د نوموتو افغان سياسي مشرانو له جملې څخه ګڼل کېدی، بلکه په خراسان، پارس، آذربايجان، کُردستان، ګُرجستان او عراق کښې ئې هم وياړونه او لاسته راوړني لرلي دي. آزاد خان په دغو هيوادونو

کښې په آزادخان افغان باندې شهرت درلود او د احمد شاه بابا همدوره او یا هم له هغه یوځه مخکې وو.

د ایراني مشرانو په لاس د نادر افشار له وژل کېدو وروسته احمدشاه بابا کندهار ته ځي او هلته د نوي افغانستان بنسټ ږدي، آزادخان افغان په هغه وخت کې تر احمدشاه بابا په عمر زیات وو او نسبت احمدشاه بابا ته ئې سیاسي او نظامي تجربه ډېره وه. د ایران د پولو ټینګولو له پاره یې د یاغیانو او شورشیانو سره مقابله کړې ده او د خراسان له سیمو نیولې، چې د نننې افغانستان لوېدیځې سیمې پکښې شاملې وې، د ایران شمالي سیمې، اصفهان، شیراز، آذربایجان، ګُرجستان او کُردستان تر خپلې ولکې لاندې راوستلې ول. دوه ځلې ئې د صفویانو پایتخت چې اصفهان وو تر خپلې ولکې لاندې راوستلی دئ. په خپل نامه یې سکه وهلې، په آذربایجان او کُردستان کښې ئې حکومتونه جوړ کړي دي او په تاریخ کښې ئې د هغه هیوادونو د مشهورو خلکو او واکدارانو په نوملړ کښې خپل نوم ځای کړی دئ.

آزاد خان له غزني د اندړو اولسوالۍ څخه راپورته سوی دئ. پر کابل باندې د نادر افشار له یرغل څخه وروسته فقط په څو محدودو تاریخي نسخو او حماسي شعرونو کې د آزاد خان افغان یادونه سوې ده اما د ایران، ګُرجستان او روسیې تاریخي آثارو، او په دې ورستیو کښې اروپایي او امریکایي نشراتو په تفصیل سره د آزاد خان په ښو ټکو یادونه کړې ده.

یوې غربي سرچینې د آزاد خان په باره کښې دارنګه یادونه کړې ده: "آزاد خان مشهور په آزاد بیګ، د سلیمان زوی، د کابل د افغانانو څخه دی او په خټه غلجی دئ". دغه مطلب امریکایي لیکوال پروفیسور جان آر پیري (John R. Perry) د کریم خان زند په کتاب کښې په مفصل ډول بیان کړی دئ. د مثال په توګه (جان آر پیري) د خپل کتاب په ۴۸ صفحه کې

داسي ليکي:[1]

"آزاد خان د سليمان خان زوی د کابل د غلجي افغانانو څخه وو، ددې احتمال سته چي کله چي نادر افشار په کال ۱۷۳۸م کابل ونيوی د هغه سره يو ځای سوی وي..."[2]

لکه څرنګه چي مخکي وويل سول آزاد خان په غالب ګمان سره په غزني د اندړو ولسوالي کښي زېږدلی او د هوتکيانو په دوره کښي د کابل او غزني په سيمو کښي د يوه «عيار» په توګه اوسېدلی دئ. د نادر افشار له راتګ څخه وروسته د هغه سره يو ځای سوئ او له هغه څخه وروسته يې د ايران او آذربايجان خواته حرکت کړی دئ، ليکن د شواهدو څخه دا معلومېږي چي آزاد خان يو ځلي د لنډ وخت له پاره د افغانستان د غزني سيمي ته تللی دئ، همدارنګه ګنډاسنګ په خپل کتاب «دُرانی احمد شاه» کي، چي مرستيال سر محقق نصرالله سوبمن په پښتو ژباړلی، ليکي:

"آزاد خان ډېر لوی فکر درلود، ده غوښتل چي افغانستان، ايران او هندوستان د يوه قدرت تر ادارې لاندي راولي او يوه لويه امپراتوري جوړه کړي، ددغه هدف د لاسته راوړلو له پاره ئې قومي او مذهبي مسايلو ته اهميت نه ورکاوه ټولو ته ئې په يوه سترګه کتل او خپلو هيلو ته د رسېدو له پاره ئې دغه تګلاره ګټوره بلله. د ده راتګ و غزني ته هم د ده د اهدافو يوه برخه وه".

ډاکټر ګنداسنګ، د فراير (Fryer) څخه نقل کوي:

"آزاد خان افغان د خپل ملت له نورو لويانو په پرتله ډېر کلک، زړه ور او منور سړی وو. د ده د عدالت د برابرۍ افکار او له شيعه ګانو څخه دده پلوي ددې سبب سول چي زيات شمېر پارتيزان کسان دده شاوخوا راغونډ سي؛ کله چي ده خپل زياتېدونکی قدرت وليد، نو

[1] جان آر پيري، کريم خان رند، د ايران تاريخ ، ۱۷۴۷-۱۷۷۹. (تهران:۱۳۶۵، ص ۴۸)
[2] جان آر. پري کريم خان زند ، د ايران تاريخ، ۱۷۴۷-م۱۷۷۹-م. (تهران:۱۳۶۵، ص: ۷۲)

په ښکاره ئې د عراق، خراسان او حتی د افغانستان د نیولو مرام اعلان کړ." [3]

د جان آر پیري د لیکنو څخه دا جوتیږي چې د نادر افشار له مرګ څخه وروسته کله چې احمد شاه بابا د څلور زرو (۴۰۰۰) پوځیانو سره کندهار ته ځي، په همدغه وخت کې آزاد خان افغان د اته زرو (۸۰۰۰) نورو افغاني پوځیانو سره یو ځای د ایران غربي پولې ته کومه چې له عراق سره پرته ده ځي او هلته د ایران د قدرت نیولو له پاره هڅه کوي. آزاد خان د آزاد بیګ په نامه هم یاد سوی دئ. دلته باید توجه وسي چې د "بېګ" کلمه یوه ترکمنۍ کلمه ده، څرنګه چې نادر او افشاریان په ختهٔ ترکمن وو، نو د بېګ (شهزاده) لقب ددوی لخوا و آزاد خان ته ورکړل سوی دئ. د نادر افشار له مرګ څخه وروسته، د ایران سیاسي حالات کړکېچن او خطرناک وو، آزاد خان په ډیري هوښیارۍ او سیاسي تدبیر سره وکولای سول چې په زر هاوو نظامي افغانان د مرګ څخه وژغوري او د هیواد څخه لیري د سُني مذهبه کُردانو سیمو او عراق ته ځان ورسوي او هلته د راتلونکي له پاره نور پلانونه جوړ کړي. اسلامي دایرة المعارف د جان آر پیری له قوله داسي لیکي:

"آزاد خان افغان، د غلجي آزاد بېګ په نامه شهرت درلود او دی د افغاني لویو قومندانانو او سیاتمدارنو له جملې څخه ګڼل کېدی. د نادر افشار له مرګ څخه وروسته په دیارلس کلنه ملوک الطوایفی دوره کې د ایران د مشرانو او خانانو له جملې څخه هر یوه په خپله سیمه کې خپلواکي اعلان کړه. آزاد خان افغان یو له هغو مشرانو څخه وو چې خپلې مبارزې ته ئې په مسلحانه، پرېکنده او دوامداره توګه ادامه ورکړله؛ حال داچې نور ووژل سول یائې میدان خالي کړ، آزاد خان خپلې مبارزې ته بېله ستړیا او په ټینګې ارادې سره ادامه ورکړله. دوه ځلې ئې د ایران د خاوري پر لویه برخه خپل واک ټینګ کړی او د پاچاهۍ اعلان ئې کړی دئ."

[3]ډاکټر ګنداسنګ. درانی احمد شاه، ترجمه نصرالله سوبمن منګل،(کابل: مطبعه اسد دانش، ۱۳۸۸) ص: ۲۰۰.

محمد آصف هاشم ايرانی تاريخ ليکونکی د "رستم التواريخ" د کتاب په ۳۵۱ صفحه کښي داسي ليکي:[4]

"داګړی د کوم ايراني مشر د نه موجوديت له امله آزاد خان د ايران د پاچاهۍ پر پلاز (تخت) ناست دی، د اصفهان دارالسطنه ئې د سلطنت مقام ټاکلی، د نادر افشار د قوانينو او تګلاري مطابق حکومت کوي او د حکومتولۍ څخه ئې داسي ښکاري چي د خلکو سره ئې کړه وړه په عدل او انصاف سره دي..."

په دې ورستيو کښي د افغانستان معاصرو ليکوالانو هم هر يوه په خپل وار ددې نوموتي افغان په باره کښي يو څه ويلي دي او په ښو ټکو کي ئې ياد کړی، هغه له دې امله چي د آزاد خان سياست د سيمي د اکثرو افغانانو له نړۍ ليد سره ورته والی لري له دغي ډلي څخه الحاج خليل الله ناظم باختري تر دغه عنوان لاندي «هغه مېړنی چي په نامه ئې سکه ووهل سوه» د کابل پوهنتون د پخواني استاد سيد مسعود څخه رانقلوي چي ده په خپل کتاب (غزني د مېړنو خزانه) کښي ليکلي دي:

"آزاد خان د غزني د نوم کښو خانانو څخه بلل کيږي، دی په قوم اندړ د غزني د اندړو د اولسوالۍ اصلي اوسېدونکی دئ او د غزني ښار ته راغلی دئ. هغه سيمه چي آزاد خان پکښي اوسېدی د آزاد خان په کلا باندي شهرت لري"[5]

همدارنګه علی احمد جلالي په خپل کتاب د «افغانستان تاريخ د عسکري له نظره» په ۱۸۹ صفحه کښي د الفنسټون په حواله ليکي:

"د شاه اشرف هوتک څخه وروسته لوی واکدار چي په ايران کښي راپورته سو هغه آزاد خان «اندړ» دئ، ده ځان د ايران پاچا اعلان کړ او د نادر افشار له مرګه څخه وروسته د

---

[4] آصف، محمد هاشم، رستم التواريخ، تهران ۱۳۵۲

[5] الحاج خليل الله ناظم باختري، د ښو خلکو څخه په ښو يادونه وکړو.ص: ۴۳.

کریم خان له ټینګو دښمنانو څخه شمېرل کېدی. د افغاني او ایراني روایاتو پر اساس ددې دواړو دښمنانو اوږد مهاله جنګونه د ایران د تاج او تخت د نیولو له پاره بالاخره د یوې رښتیني طرحي پر اساس په سوله او دوستۍ سره پای ته ورسېدل، آزاد خان وروسته له دې سولې څخه ډېر کلونه د خپل پخواني رقیب او دښمن په دربار کښې په ډېر احترام او عزت تېر کړل". دانشنامۀ بشر هم دغه روایت په ډېر لږ تفاوت سره بیانوي: آزاد خان افغان (چې په کال ۱۱۵۹ هـ ق/ ۱۷۸۱م کې وفات سوی دئ) د کابل د نیول کېدو پر وخت د نادر افشار په لاس د هغه له پوځ سره یو ځای سو. او له هغه څخه وروسته د آذربایجان له امیر اصلان خان افشار سره مل سو. د دوی په منځ کښې د اختلافاتو د راپیدا کېدو وروسته آزاد خان له اصلان خان افشار څخه ولاړ او د ابراهیم شاه سره ئې لاس یو کړ. د ابراهیم شاه له ماتي وروسته ارومیه ته ولاړ او د هغه ښار له مشرانو سره یو ځای سو او د هغه ځای کلا ئې ټینګه کړه. په کال ۱۱۶۶ هـ ق، ۱۷۵۳ م کې آزاد خان کرمانشاه ته ولاړ او د هغه ښار په شاوخوا کښې د کریم خان زند سره وجنګېد او هغه ته ئې ماته ورکړه له هغه ځای څخه اصفهان ته ولاړ او هلته ئې په خپل نامه سکه ووهله. په کال ۱۱۶۸هـ ق/۱۷۵۴م آزاد خان ګیلان ونیوی خو وروسته محمد خان قاجار مات کړ او هغه سیمه یې بایلوله.[6]

په دې ځای کښې د پورته ذکر سوو روایاتو پر اساس متوجه کېږو کله چې آزاد خان په کال ۱۷۵۳م کښې کرمانشاه په خپله ولکه کې راولې اصفهان ته ځي او بیا هلته خپله پاچاهي اعلانوي، په همدغه وخت کښې احمد شاه بابا څو نظامي سفرونه د افغانستان په شمال او ختیځ کې تر سره کړي دي او د افغانستان سرحدات ئې تر پنجاب او بخارا پوري پراخ کړي وه او د ایران نیشاپور ته تللی وو.

همدارنګه لوی اسلامي دایرة المعارف د آزاد خان په باره کښې ځیني تاریخي مسایل بیان کړي دي لکه د هغه یو موټی کېدل د نادر افشار سره، جګړې ئې او پخپل نامه د سکې

---

[6] د بشر دایره المعارف، جام: امیر کبیر، ب- ت- ص:(۵۷)

وهل، خو په پای کې يې د هغه څخه په ښه نوم هم يادونه کړېده او داسې ليکي:

"آزاد خان ته د کريم خان زند په دربار کښې په ډېره درنه سترګه کتل کېدل. دی د کريم خان تر ټولو اميرانو لوړ وو، او د شيراز په ښار کې چې د زنديانو پايتخت وو اوسېدی او د کريم خان د مرګ دوه کاله وروسته بالاخره د خناق (Diphtheria) په ناجوړۍ وفات سو. د ده له وصيتونو څخه يو دا وو چې پس له مرګه دي، دی د موقت وخت له پاره د امانت په توګه په شيراز کښې ښخ کړل سي او په مناسب وخت کې دي کابل ته انتقال سي، خو د ده دا وصيت د هغه وخت د سياسي بدلونونو له امله عملي نسو". اسلامي دايرة المعارف سربېره پر دې چې آزاد خان ئې له هغو افغانانو سره مقايسه کړی چې په ايران کښې واک ته رسېدلي، هغه ئې يو بانظمه او معتدل انسان معرفي کړی دئ.

کاظم موسوي ليکي:

دی دومره معتدل او منځپالی سړی وو  چې همېشه به ئې د ماتي خوړلي لښکر د ښځو په ساتنه کې پوره هڅه کوله. يو ځل ئې د کريم خان سره په يوه جګړه کښې د زنديه ټولي ښځې چې په جنګ کې يې نيولي وې خپل يوه قومندان خضر خان ته وسپارلې چې اصفهان ته ئې ورسوي او له هغه ځايه څخه يې په زرنګارو  کجاوو کښې شيراز ته واستوي، دده دغه ډول د عزته ډک چلند وو چې کريم خان هم هغه ته په درنه سترګه کتل.

په هغه ليکنه چې رستم الحکما ته نسبت ورکړل کېږي، آزاد خان ته د زړه سوانده، عادل او مېړني مشر خطاب سوی دئ.  وايي کله چې به د آزاد خان سُني مذهبه پوځيانو شعيه ګانو ته آزار ورکاوه هغوی ته به ئې ډېره  ټينګه جزا ورکوله[7]. محمد هاشم آصف په رستم التواريخ کتاب کې د آزاد خان د عدالت او مهربانۍ په باره کښې ليکي:

---

[7] :  محمد هاشم، آصف «رستم التواريخ».

"قدر وړ آزاد خان باانصافه او عادل پاچا وو؛ په پریکړو کښي یې د پوره ځیر اوغور څخه کار اخیست، ډېر ښه اخلاق، ښه څېره، پراخه حوصله، زړه ور توب، سخاوت، حیاء، مېړانه او وفا ئې درلودل په خپل ریاست کښي د غوره سیاست درلودونکی وو. ټول ښه خویونه په هغه کښی نغښتي وو د نیکو اخلاقو څښتن وو، په زغم، دروندوالی، ښه طبیعت او ښه وضعیت کښي ئې ساری نه درلود؛ کله چي به ظلم کېدی او دی به ترې خبر سو د حق مطابق به ئې فیصله کوله..." ، نوموړی لیکوال هاشم آصف د آزاد خان په باره کښي یو بل تاریخي واقعیت داسي بیانوي:

"دی یوه ورځ په ناڅاپي ډول د پاچاهی په دبدبه پر لار تېرېده، د ده له نژدې غلامانو (عساکرو) څخه ئې یوه د مېوې خرڅونکي څخه یوه دانه انار د نېزې په زور واخیست، مېوه خرڅونکی آواز پورته کړ، آزاد خان ئې آواز واورېدی، مخ ئې ور واړاوه او امر ئې وکړ چي هغه غلام ته جزا ورکړي"[8]. دا ټکی هم باید ذکر سي چي د آزاد خان په وخت کښي دوو نورو سیاسي قدرتونه هم په ایران کښی سرونه راپورته کړی وو؛ یو ئې محمد حسن خان قاجار وو چي پاچاهي ئې خپل حق ګڼله او د استراباد، مازندران او خراسان سیمې یې په واک کښي وې. بل سیاسي قدرت کریم خان زند وو، دی هم د آزاد خان د مخالفینو څخه وو. د شېراز، پارس، خوزستان او لرستان سیمې ئې په واک کي وې.

مګر آزاد خان اصفهان، چي هغه د ایران پایتخت وو، په خپل واک کي درلودئ؛ همدارنګه ئې تهران، علي شکر، قُم، کرمانشاه، کاشان، ګیلان او بیا تر آذربایجان پوري تر خپلي ولکې لاندي راوستلي وو.

امریکایي تاریخ لیکونکی جان آر پیري آزاد خان او فتح علی خان قاجار سره مقایسه کړي، له دغي مقایسې څخه دا نتیجه اخیستل کیږي چي آزاد خان ډېر لوی جنګیالی او مېړنی انسان وو، دی لیکي:

---

[8]: محمد هاشم، آصف «رستم التواریخ».

"زنديه بنديانو سره، چي په هغوی کښي ځوانان او ښځي هم شاملي وې، د آزاد خان په عزت او پاک لمنۍ سره برخورد، چي دا ډول چلند يو افغاني خوی او خصلت ګڼل کيږي، آزاد خان په يوه مېړني انسان باندي مشهوره کړی وو".[9]

## د آزادخان افغان د نسب لړۍ:

سره بېره پر دې چي آزاد خان غلجي قوم ته منسوبيږي، په ډيرو تاريخي سرچينو کښي دا هم راغلي چي د آزاد خان د پلار نوم سليمان خان دئ او له هغه قبيلې څخه دی چي په غزني کي د اندړو په اولسوالی کي اوسېدله، همدارنګه ئې آزاد خان د کابل د افغاني غلجيو څخه بللی، خو کابل په هغه وخت کښي يو لوی ولايت وو چي ميدان، وردک او د اوسني غزني يوه برخه پکښي شامله وه.

د آزاد خان په ځوانی کښي کابل ښار د مغولي دولت په لاس کي وو اما اطراف ئې خپلواک او يا هم د کندهار د هوتکيانو د دولت لخوا اداره کېدل. آزاد خان د هوتکيانو سره هم تړاو لري ځکه هغوی ټوله غلجيان (غلزيان) وو. د تر سره سوو معلوماتو څخه داڅرګنديږي چي آزاد خان د شاه اشرف هوتک ۱۷۲۵-م ۱۷۲۹م سره چي په ايران کي د هوتکيانو د دورې دوهم افغان ټولواک وو کورني روابط او اړيکي درلودلې. دلته د لوستونکو توجه هغه شعر ته را اړوو چي قدرت الله حداد د «مېړاني او مېړنو خبري» په کتاب کي رانقل کړی دئ:

"کله چي نادر افشار کندهار ونيو، سيدال خان ناصري په ربړ او کړاو کي وو نو خپل ملګري ور په ياد سو، (ناره):"

---

[9] : جان آر پيری، کريم خان زند، د ايران تاريخ ۱۷۴۷-۱۷۷۹ م ترجمه علی محمد ساکی، تهران ۱۳۶۵ هـ ش.

**سیدال خان ویل لښکر مي سو بزې بزې**
**آزاد خان سلیمان خېل مي توري شپې وخوړکه ورځي**
**آزاد خان سلیمان خېل"بیا منګولي سرې کړې"**
**په میدان ورګډ سو د مراد علي غاړي ئې پرې کړې**

دلته د آغلي قمر حبیبي په مرسته د قدرت الله حداد د زوم ښاغلي ضیاء احمد پښتون تفسیر چې د پورته شعر په باره کې ئې کړي دي راوړو:

"پورته شعر بي بي زینب ویلی دئ. بي بي زینب د میرویس خان هوتک لور او د شاه محمود هوتک او شاه حسین هوتک خور ده. د «بزې» لغت دلته د سره پاشل کېدو، تیت او پرک معنی ورکوي، «مراد علی» د یو ځای نوم دی نه د شخص. آزاد خان د جنګ له پاره هلته تللی وو او د دښمن مخه ئې نیولې وه. «منګولي سرې کړې» دلته د آزاد خان په مېړانه جنګ ته اشاره ده. پخوانی زمانه کښې ددښمن سره په مېړانه جنګېدلو د پاره کله د «منګولي سرې کړې» اصطلاح استعمالېدله یعني د مېړاني او شجاعت توره ئې راپورته کړې ده، دښمن به ووژني".

د پورته شعر د تفسیر او معنی څخه دا معلومېږي چې سیدال خان ناصری دده همدوره او ملګری وو. په ضمن کښې بي بي زینب د آزاد خان د مېړاني څخه پوره خبرتیا لري، داچې «مراد علی» چیرته موقعیت لري پر دې باید څېړنه وسي. له دي شعر څخه داهم څرګندیږي چې آزاد خان د سیدال خان ناصری سره یو ځای د نادر افشار په مقابل جنګېدلی او سیدال خان ئې په مراد علي کښي د مرګ څخه ژغورلی دی. د هوتکیانو د دورې په تاریخ کښي له آزاد خان څخه یادونه نه ده سوې، یو دلیل ئې دا دی چې هوتکیانو د میرویس نیکه څخه وروسته پایتخت د کندهار څخه اصفهان ته انتقال کړی وو په داسي حال کي چي آزاد خان

په دغه وخت کښي ځوان وو او د ځوانۍ ورځې شپې ئې په کابل کي تېري کړي دي. په هغه وخت کي چي نادر افشار پر کابل او غزني باندي يرغل کړی دئ له آزاد خان څخه د یوه مېړني په حيث يادونه سوې ده.

په هر صورت په اتلسمه پېړۍ کښي دنادر افشار له مرګ وروسته په مرکزي آسيا او منځني ختيځ کي آزاد خان د يوه «**افغان**» په شهرت د نوموتو سياسي، علمي، او تاريخي شخصيتونو له جملې څخه پېژندل سوی دئ. آزاد خان د هغه وخت له علومو او هنر څخه برخمند وو او په مختلفو ژبو ئې خبري کولای سوای. د«مېړاني او مېړنو خبري» د کتاب ليکونکی وايي چي:

"آزاد خان د ژبي او هنر خاوند وو، په مېړنتوب کي پهلوان وو او په ادبياتو کي ئې خاص لاس درلود"[10]

لاندي مقطع د آزاد خان څخه رانقل سوې ده:[11]

بخصم نصرت و فيرزوييم خدا داد است
کمر به بندګيش بست هر آنکه آزاد است
*سنه (۱۱۶۵ هـ ق/۱۷۵۲ م)*

**ترجمه**

پر غليم باندي بری راکړی خدای دئ
بندګي ته چي د ده ملاتړي «آزاد» دئ

---

[10] قدرت حداد، د مېړاني او مېړنو خبري.

[11] د غزلي يا قصيدې اخيرنی بيت.

# دوهم څپرکی

## آزاد خان افغان په آذربايجان کښي

### په آذربايجان کي د آزاد خان واک ته رسېدل

دلته زموږ بحث په آذربايجان اړه لري نو لازمه ده چي لومړی آذربايجان لنډه معرفي کړو.

پاته دي نه وي چي آذربايجان د پخواني شوروي اتحاد د ماتېدلو وروسته ازادي واخيسته. دا مملکت د قفقاز شاته، د قفقاز د غرونو په شرقي سلسله کي د خزر د بحيرې او د اراس د رود پر څنډو پروت دی. بل د ايران د آذربايجان ايالت دی چي د ايران په شمال لوېديځ کي دئ. موږ د آذربايجان په اړه خبري کوو، چي د ايران په شمال لويديځ کي موقعت لري.




د آزاد خان تر واک لاندی سيمی د ۱۷۴۷-۱۷۵۰ م

د ایران په شمال غرب آذربایجان کې د آزاد خان واک ته رسېدل د نړۍ مهمو تاریخي سرچینو تائید کړی دئ له دغه جملې څخه د «دانشنامهٔ ایران و اسلام» په اول ټوک کې راغلي دي:



د «اُرومیه کلا»

«وروسته له دې چې نادر افشار کابل ونیوی آزاد خان د نادر افشار په موافقه د آذربایجان حاکم «اصلان خان قرقلو یا قرخلو[12] ته ورځي او هلته پاته کېږي». دا امکان لري چې د ۱۷۴۰-۱۷۴۱م کلونو تر منځ دا پېښه واقع سوې وي. یوه بله منبع داسی نقل کوی چه:

کله چې نادر په ۱۱۵۰قمری/۱۷۳۸ م کال کې کابل فتح کړ، نو آزاد خان د یوه ډلی افغانانو سره د نادر لښکرو یو ځای شو او د نادر د هند د فتح کولو له پای ته رسیدو وروسته یو ځای ایران ته راغیی.[13]

ذکر سوی مآخذ ددې په ادامه لیکي چې د نادر افشار له قتل وروسته ۱۷۴۷م د آذربایجان د مشرانو تر منځ د اختلاف په سبب آزاد خان نور هم ځواکمن سو، ځکه چې هر

[12] نادر افشار د قرخلو افشار له طایفه څخه وو او امیر ارصلان د نادر د عمه زوی وو

[13] غفاری کاشانی ۱۳۵۶. آذربیگدلی ۱۳۷۸

یوه دا غوښتل آزاد خان له ځان سره ملګری کړي نو آزاد خان له نورو څخه ډېر پر مختګ وکړ. آزاد خان د اُرومیه **(Urmia)** کلا نیسي او د خپل حکومت مرکز ئې ټاکي او د دېرش زرو (۳۰۰۰۰) په شاوخوا کې پوځ جوړوي».[14]

د امریکایي لیکوال جان آر پیري قضاوت د آزاد خان په باره کې دادي چې آزاد خان په شروع کې خپل ځواکونه راټول کړل، ولې ددې پر ځای چې «میرسید» سره د مشهد په لور ولاړ سي، دائې غوره وبلله چې د «**شهر زور**» د ښار په لور کوم چې د ایران او عثماني تُرکانو پر پوله پروت وو حرکت وکړي او هلته خپل بخت وازمایي.[15]

د جان آر پیري د قضاوت له مخې آزاد خان افغان او افغاني ځواکونه ئې چې اکثره غلجي پښتانه وو د شهرزور په ښار کې نسبت مشهد ته لږ تر لږه په دې سبب چې خلک یې د سُني مذهب پیروان وو د عامو خلکو لخوا نه آزارېدل. د۱۷۵۰م په پای کښې آزاد خان د تبریز او اورمیه ښارونه په خپل واک کې راولي او نقي خان د آذربایجان د نایب الحکومه په حیث ګماري. د نقي خان تر څنګ د نورو مخورو او د افشار ټبر مشرانو جذب ته جدي پاملرنه کوي، آزاد خان له دې امله په افشارو باندې ډېر اعتماد کاوه، ځکه نادر افشار په ده اعتماد کړی وو، له دغه کسانو له جملې څخه چې ده پرې اعتماد کاوه مهم کسان فتح علي خان ارشلوي افشار او شهباز خان دنبلی د غرو د طایفو رئیسانو وو.

## د ایران ګډوډه سیاسی حالات

اوس به راسو د ایران په هغه اوضاعو او حالاتو به ځان په لنډ ډول خبر کړو، کوم چې د آزاد خان واک ته د رسېدلو نه مخکې واقع سوي دي.

د نادر افشار له قتل څخه وروسته د هغه وراره علي قلي خان چې په هرات کې وو مشهد

[14] احسان یارشاطر، دانشنامه ایران و اسلام. جلد اول،(تهران: بنګاه و ترجمه ونشر کتاب،۱۳۵۴) ص: ۸۳س:۲.

[15] جان ار پیري، تاریخ ایران بین سالهای۱۷۴۷-۱۷۷۹م.(تهران:-،۱۳۶۵ ص ۷۲)

ته ولاړ او د نادر د کورنۍ شهزاده ګان (ړوند رضا قلي میرزا، نصرالله میرزا او امام قلي میرزا) یې قتل کړه او یوازې شاهرخ میرزا یې ددې له پاره ژوندی پرېښود که چیري د پاچاهۍ خوب یې رښتیا نه سو شاهرخ میرزا به پاچا کړي او د هغه د نامه څخه په استفادې سره به د ملک واګې په لاس کې واخلي.

علي قلي خان په ۱۱۶۰هـ ق د جمادي الاخر په ۲۵/۲۷ جون ۱۷۴۷په مشهد کې د (عادل شاه) په لقب سره پر تخت کښېناست او خپل کشر ورور ئې ابراهیم خان د عراق مشر او د اصفهان مامور مقرر کړ، میر سید محمد متولی د شاه سلیمان صفوي د لور زوی ته یې د صدارت لوړ سلطنتي مقام ورکړ. یو کال وروسته ابراهیم خان د خپل ورور علی قلی خان (عادل شاه) په مقابل کې راپورته سو، له هغه جنګ وروسته چې زنجان ته نژدې د دواړو وروڼو ترمنځ وسو، علی قلی خان (عادل شاه) ماته وخوړه او ورور په سترګو ړوند کړ، له دې پېښي وروسته ابراهیم خان شاهرخ میرزا له مشهده ورغوښت تر څو سلطنت د ده په نامه کړي، سره له دې چې د مشهد خلکو دا یو چل باله، ولي بیا یې هم په ۱۱۶۱هـ د شوال په نهمه چې د ۱۷۴۸م سره سمون خوري، شاهرخ په مشهد کې د سلطان په حیث قبول کړ. اما وروسته ابراهیم خان د ذلحجې په ۱۷، ۱۱۶۱ هـ؛ په تبریز کې ئې په مخالفت شروع وکړه او د شاهرخ سره د جنګ له پاره د آذربایجان څخه د خراسان په لور وخوځېد. د یادوني وړ ده چې افغانان مخکې له نادر افشار څخه یعني د هوتکیانو په دوره کې هلته اوسېدل او حکومت ئې کاوه، هغه ډله افغانان چې په قُم کې وو له هغو څخه جلا دي کوم چې د آزاد خان سره د ایران او عراق پولې ته تللي وه.

ابراهیم شاه ماتي وخوړه او د ابراهیم شاه د ماتي خبرو میر سید محمد متولي ته چې هغه وخت په قُم کې وو ورسېد، د قُم خلکو د میر سید محمد متولي څخه ملاتړ اعلان کړ، میر سید محمد متولي قزلباشان د ښار په ساتلو وګمارل، خو الله یارخان افغان او شاهین خان ددغه کار په مقابل کې په تُنده لهجه وویل چې موږ به د خپل قدرت، دولتي خزانو او کارخانو څخه لاس وانه خلو. د افغانانو دغه دعوه پر قزلباشو باندي سخته او ګرانه

پرېوتله او پر افغانانو ئې حمله وکړه او ماته ئې ورکړه، پنځه ورځې وروسته ابراهيم شاه بيا د عطاخان، مراد خان ازبک، شهباز خان او د څلوېښت زره ( ۴۰۰۰۰) سپرو په ملتيا سره د قُم دوه فرسخي ته چي تقريباً ۶،۲۴ کيلومتره يا يو فرسنګ کيږي داخل سو، همدلته بايد د آزاد خان څخه يادونه وسي ځکه چي د همدغه لښکرو سره مل قُم ته ور ننوتی.

آزادخان يو د اعتماد وړ سړی مير سيد محمد متولي ته ولېږه او له هغه څخه ئې غوښتنه وکړه چي له افغانانو سره وګوري. کله چي د قزلباشو مشران او د قُم اوسېدونکي له دغه موضوع خبر سول مير سيد محمد ته ورغلل او هغه ته ئې وويل چي د ښار د باندي د آزاد خان سره دده ملاقات به د هغه په خير نه وي؛ مګر که چيري ابراهيم شاه د آزاد خان د لښکر څخه پرته ښار ته راسي کوم مشکل نه لري. مير سيد محمد متولي هم د هغوی خبره ومنله او ابراهيم شاه ته ئې د نه جواب ورکړ. ابراهيم شاه په دغه جواب قهرجن سو او د آزادخان او افغانانو څخه ئې وغوښتل چي په زور ښار ته ننوزي، د دوی په مقابل کي د قُم اوسېدونکي او د قزلباشو مشران د مير سيد محمد سره د ښار د دفاع له پاره راووتل جنګ شپږ ورځې دوام وکړ په دغه شپږو ورځو کي د قزلباش د ټبر پنځه زره (۵۰۰۰) کسان ددې له پاره د ښارڅخه ووتل چي د شپې لخوا پر دښمن حمله وکړي، د هغوی له دغه کار څخه د آزاد خان او ابراهيم شاه پر جنګياليو بېره حاکمه سوه.

آزاد خان ددغه ډول محاصرې او قتل عام طرفدار نه وو، اما په سيمه کي د افغانانو د نامعلوم برخليک له امله مجبور وو يو څه وکړي. آزاد خان د پنځلس زره (۱۵۰۰۰) افغان سپرو سره يو ځای د ابراهيم شاه څخه جلا سو او د مير سيد محمد سره ئې د صلحې خبري اتري شروع کړې، طرفينو سولې ته غاړه کښېښوله او آزاد خان د ميرسيد محمد او قزلباش ټبر په مشوره د قزوين او ساوه په لور حرکت وکړ.

د آزاد خان ددغه پريکړې څخه وروسته د ابراهيم سره نور پاته مشران هم زړه نا زړه سول او سره جلا سول، ځيني افغانانو ئې کندهار ته ولاړل، وروسته ابراهيم شاه د ورپاته

کم پوځ سره په قلاپور یعني د ساوه او قزوین تر منځ سیمه کښي د قزلباشو تر حملې لاندي راځي او په پای کښي نیول کیږي او په سترګو ئې ړندوي.

## رابه سو آزاد خان ته:

وروسته له دې چي افغان لښکرو یوځه وخت په ساوه او قزوین کښي تېر کړ، ویې لیدل چي د سیمي حالت ګډوډ دی او هر د واک خاوند غواړي چي پاچاهي لاس ته راوړه، نو آزاد خان هم په دې فکر سو چي باید نور هم ځواکمن سي د همدې لپاره ئې د آذربایجان په لور حرکت وکړ.

د آذربایجان مشرانو هم هر یوه ځانته خپلواکي اعلان کړه او یو د بل سره ئې دښمني کوله، کله چي خبر سول چي آزاد خان آذربایجان ته راغلی دئ، نو ټولو ورته د دوستۍ دروازې پرانیستې؛ ځکه چي آزاد خان د هغوی په نظر یو با انصافه شخص وو او هیڅکله ئې د هغوی سره دښمني نه وه کړې او له بل اړخه آزاد خان د هغوی په منځ کښي پردی وو او د مېلمه حیثیت ئې درلود او هر یوه غوښتل د هغه سره جوړ وي، فتح علی خان افشار او شهباز خان دنبلي د آزاد خان سره تعهد وکړ چي اتفاق به کوي او آزاد خان ئې خپل مشر وټاکه. ده په لومړي ګام کي د تبریز ښار، مراغه او نوري سیمي په واک کښي راوستلې، څرنګه چي فتح علي خان افشار او شهباز خان دنبلي د آزاد خان  پیروي کوله نو ئې آزاد خان ته د سردار لقب ورکړ. له دې وروسته آزاد خان له یو لړ مخالیفونو لکه موسی خان افشار او کاظم خان قراچه داغي او نورو خانانو سره جنګونو وکړل چي په دغه ټولو جنګونو کښي آزاد خان بریالی سو او ورځ په ورځ ئې واک ډېرېدی. دغه پیښي په ۱۷۵۰ م کال کي واقع سولې.

آزاد خان چي اوس په سردار آزادخان باندي یادېده، د آذربایجان ډیري سیمي په خپله ولکه کي راوستلې؛ وروسته ئې خپله کورنۍ او خپلوان د اُرومیه په کلا کښي چي یو مشهوره کلا ده ځای پر ځای کړل او هغه کلا ئې خپل د استوګني همېشنی ځا ی وټاکه.

آزاد خان د فتح علی خان افشار او شهبازخان دنبلي سره یو ځای او د امنیت او سولي

د راوستلو په غرض د نورو یاغیانو په ځپلو لاس پوري کړ. موسی خان او یو شمېر نور مشران هم د آزاد خان سره یو موټي سول، په دې کار سره د آزاد خان واک نور هم زیات سو.

د آزاد خان سره د موسی خان د یو ځای کېدو علت هم شاید د فتح علی خان او نورو خوانینو اتفاق وو، له دې نه وروسته د آزاد خان د پوځ تعداد دېرش زره (۳۰۰۰۰) ته رسېدی. د آزاد خان سره د آذربایجان د امیرانو اتفاق او یو ځای کېدل آزاد خان د پاچاهۍ په فکر کښې واچاوه، لکه څرنګه چي ئې په عراق کښي هم وخت تېر کړی وو. د هغه ځای د اوضاعو څخه هم ښه خبر وو او د هغه ځای د مشرانو سره ئې هم اړیکي لرلې، نو له همدې امله په دې فکر کښې سو چي د کرمانشاه کلا د خپلي توپخانې او جبه خانې په زور په ولکه کي راولي، تر څو خپل هدف ته ورسیږي، آزاد خان یو لیک میرزا محمد تقي خان ګلستانه او د هغه توپچي باشی عبدالعلی خان د کرمانشاه مشرانو ته په لاندي ډول لیږي چه آزاد خان سره متحد شي:[16]

## د کرمانشاه مشر انو ته د آزاد خان لیک:

«څرنګه چي د نادر افشار ظلم د ایران د خلکو په مقابل کي اوج ته ورسېد او اعمال ئې د خدای (ج) د خوښي خلاف وه د ایران خلک ځني تنګ سول او هغه ئې خپل په سزا ورساوه. تر اوسه پوري چي څومره موده د نادر افشار د مرګ څخه تېره سوې ده په دغه لږ وخت کي خلکو څو کسه د واک پر تخت کښېنولي او بیرته ئې د واکه ګوښه کړي دي او برخلیک ئې معلوم نه دئ او دغه د خلکو خیر غوښتونکی د آذربایجان د خانانو او مشرانو سره متحد سوی دي او د خپل ځان او خلکو د ساتني له پاره هلي ځلي کوي، لکه څرنګه چي هدف د خلکو او د خدای د مخلوقاتو خدمت دئ نو ستاسي څخه (موخه ئې د کرمانشاه

[16] ابوالحسن ګلستانه د محمد امین ګُلستانه زوی او د محمد تقی خان ګلستانه وراره د افشاریه دوره تاریخ لیکونکی (مجمل التواریخ) او درباری شخصیت وو چه په وحت کی د کرمانشاه په کلا کي وسیده

مشران دي) هیله کیږي چي له دغه خیر غوښتونکي سره یو ځای سئ اوعراق او آذربایجان په خپل واک کي راولئ او د بیچاره او غریبو خلکو خدمت ته تر هغه وخت پوري ادامه ورکړئ تر څو د مځکي او اسمان خالق یو د دبدبې خاوند پاچا کړي، توله به د هغه په خدمت کي سو او د هغه د ښېګڼي د سترخان څخه به برخمند او سرلوړي سو. له دغه کړاو لیدلي خیر غوښتونکي سره د یوالي په صورت کي به چاري د وعدې سره سم پر مخ ولاړي سي او دښمن به ناکامه سي.[17]»

که څه هم ددغه لیک تاریخ چي آزاد خان په کښي ځان حکمران اعلان کړی معلوم نه دئ، د اټکل له مخه په ۱۷۵۰ م کي دغه د حکمرانی اعلان سوی دئ، په هر شکل ددغه لیک هدف دا وو چي مخکني تېر نظام چي مشر ئې نادر افشار وو د ایران له خلکو څخه ډېره فاصله پیداکړې وه. البته بل هدف ئې دا وو چي د ایران خلکو ته ثابته کړي کوم اعتماد چي نادر افشار پر افغانانو باندي درلود هغه د افغانانو د هغه مېړاني له امله وو چي افغانانو په ایران او هرات کي له ځانه ښوولې وه او نادر په خپلو سترګو لیدلې وه او پر نادر افشار ئې اثر کړی وو. پر افغانانو باندي دغه اعتماد وو چي د ایرانیانانو او د هغه ترمنځ فاصله پیداسوه او هغه ئې په قتل ورساوه، د نادر په قتل کښي افغانانو هیڅ لاس نه درلود.

د آزاد خان مهم هدف دا وو چي د غلجیو (هوتکو) له لاسه وتلی سلطنت په ایران کي، چي هغه وخت د افغانستان یوه برخه وه، بیا را ژوندی کړي، دغه هدف د پورته لیږل سوي لیک څخه چي د کرمانشاه کلا ته ئې لیږلی وو له ورایه معلومیږي.

آزاد خان غوښتل چي د ایران ټولواک سي او ددغه ټولواکی د لاسته راوړلو له پاره یې د خپل ټول توان څخه کار اخیستی، له همدې امله ئې د کرمانشاه د کلا د خلکو ملاتړ ضروري او حتمي باله. عبدالعلي خان او میرزا محمد تقي د لیږل سوي لیک د موضوع څخه خبر سول او په جواب کي ئې لاندي لیک ولیکئ:

---

[17] ابوالحسن بن محمد امین گلستانه. مجمل التواریخ.(تهران: چاپخانه دانشگاه، ۱۳۴۴،)ص:۱۸۵.

«مخکي له دې چي د هغه  واکمن سردار لیک را ورسیږي، د هغه ستړانسان د خدمتګارانو د نیکمرغۍ د هیلي څخه خبر سوو او پوه سوو چي د بې وزلۍ د درملني هدف او د لوی کار هڅه ده. خو متفق کېدل پداسي حال کي لازم او مطلوب دي چي قران سعدین په یوه برج او درجه سره یو ځای سي چي ګټي یې ورځ په ورځ بلکه سمدستي راښکاره سي. اوس به د اوږدې فاصلې له امله او چي سرداران د کلا او توپخانې په ساتنه بوخت دي دا کار د یو څه مودې لپاره وځنډول سي. که د عراق سرداران نفاق وکړي، نو به بې له ځنډه ستاسي سره د اتفاق سلسله پیل کړو. والسلام».

د کرمانشاه مخورو، عبدالعلي خان او تقي خان د آزاد خان د قدرت په مقابل کي بېله تسلیمۍ بله چاره نه درلوده او دائې بهتره ګڼله چي همکاري ور سره وکړي له همدې امله یې د آزاد خان د لیک جواب په ډېر احترام سره ورکړ او د آزاد خان د پاک نیت څخه یې، چي د وړو او کمزورو خلکو لاس نیوی وو، هر کلی وکړ.

ددغه چاري په مقابل کي یوازي خنډ چي دوی لیدئ هغه د آزاد خان ډېره فاصله د کرمانشاه د کلا څخه وه، خو آزاد خان ته یې د همکارۍ ډاډ ورکړ او اطاعت ته ئې غاړه کښېښودله او ظاهراً تسلیم سوه.

## د ګُرجستان نیول او د ارګُل (هیراکلیوس) د خور سره واده:

کله چي آزاد خان د کرمانشاه د کلا د مشرانو د جوابیه لیک د موضوع څخه خبر سو نو ئې زړه تسلي سو او د دوی په تسلیمي یې قناعت وکړ. وروسته له دې څخه په دې فکر کي سو چي د آذربایجان ټولي سیمي ونیسي حتی هغه شمالي سیمي چي د روسانو تر حاکمیت لاندي وې. آزاد خان لیري او نزدې سیمو ته خپل استازي ولېږل او هغوی ته ئې د دوستۍ بلنه ورکړه، دغه بلنه د ګُرجستان خلکو ته هم ورکړه سوه خو د ګُرجستان پاچا **تیموراز (تهمورث)** او د هغه سلحشوره زوی ارکل (اراکلیوس) مثبت جواب ورنکړ او آزاد خان ته ئې

د لیک په استولو پروا ونکړه. آزاد خان د تبریز ښار څخه د ګُرجستان د خلکو د سزا ورکولو له پاره راووت پر خپل ځای ئې د آذربایجان له خانانو څخه یو وګماره، د ګُرجستان دولت او خلک هم د دفاع له پاره تیار سول، همدا وخت وو چي د ګُرجستان پر پوله یو غټ جنګ واقع سو. د آزاد خان افغان لښکري د ګُرجي لښکرو مخنیوی کوي او هغوی ته ماته ورکوي، اما تهمارس پاچا، او ورسره لښکر یې د خپلو اسانو له زینو څخه راکښته کیږي او پر افغان پوځ په ټوپکونو حمله کوي، په دغه حمله کي افغاني پوځ ډېر تلفات ورکوي او مجبوره کیږي چي پر شا ولاړ سي او بالاخره په دغه جنګ کښي ماته وخوري او بیرته د تبریز خواته ولاړ سي. آزاد خان پر ګُرجستان باندي د بیا حملې لپاره د پوځ د راټولو فکر کوي. دوهم ځل د افشارو د قبیلې پوځ هم له ځانه سره یو ځای کوي، له مخکي نه د جنګ له پاره چمتو کېږي او د ګُرجستان د نیولو له پاره حرکت کوي. د دوی په مقابل کي ګرجی پوځ هم تیاري نیسي، دا ځل د دواړو اړخونو د ډېرو تلفاتو نه وروسته ګرجی پوځ د ډیري غټې ماتي سره مخامخ کیږي او تېښته کوي.



تیموراز (تهمورث) د ګُرجستان پادشاه

آزاد خان یوځل بیا د ارګل د خور له پاره مرکه استوي داځل ارکل مرکه مني او خپله خور ورته نکاح کوي او خپله هم د آزاد خان لیدو ته ځي، د واده وروست دواړه اړخونه سره دوستان کیږي، آزاد خان وروسته له دې څخه چي د ګُرجستان په اړه ډاډمن کیږي د آذربایجان پاته ښارونه هم له ډیرو جګړو وررسته په خپله ولکه کي راولي او بیا د تبریز خواته ځي.

امریکایي لیکوال جان آر پیري وایي چي د ګُرجستان پاچا تیموراز (Teimuraz) او د هغه جنګیالی زوی ارکل یا ارکلی (Heraclius, Erakli, Irakli) د آزاد خان لپاره خنډ وو. د نادر افشار له مرګ څخه وروسته تیموراز میدان خالي لیده او د ایران جنوب ته ئې سترګي ګنډلي وې.

د هغو اسنادو له مخه چي د فرانسې د باندنیو چارو وزارت په ارشیف کي پراته دي د تیموراز یرغلونه دفاعي ستراتیژي بلل سوې ده، ځکه چي د اراس د سیند په جنوبي ایالتونو کي د حکومت خلا منځ ته راغلې وه او د عیسوي مذهبه ایالتونه ئې د ګډوډۍ چور او چپاول او وژنو سره مخامخ کړي وه، شهزاده ارکل په یو شمېر حملو لاس پوري کړی وو، او تر یوې اندازې پوري ددغه حملو سلسله تبریز ته نژدې سوې وه. داسي ویل کیږي چي دافغان پوځ یوه اندازه پوځیانو هم د ارکل سره ملګرتیا کوله چي وروسته آزادخان د همدې سببه په۱۷۵۱م کي د ایروان په محاصره لاس پوري کړ. ارکلي چي د خپل افغاني سیالانو څخه په بېره کي وو، د ارمنیانو په کمک او همکارۍ سره د افغانانو په مقابل کي راووت او د ډیرو تلفاتو په ورکولو سره ئې د افغانانو حمله شاته وتمبوله. جان آر پیري له محمد امین ګلستانه څخه نقل کوي:

"وروسته له دې چي تیموراز آزاد خان ته د لور ورکولو مرکه رد کړه، آزاد خان د حملې

اراده وکړه ".[18] ارکل ددې له پاره چې تبریز ونیسي په خپله حرکت وکړ او هلته ئې ځواکونه ځای پر ځای کړل خو په پای کښې د هغه خطر له امله چې د قفقاز د خوانینو د اتحاد په سبب د شا له خوا ورته متوجه وو شا تګ ته مجبور سو.، وروسته له یو لړ حملو څخه چې په دغه سیمه کې ئې وکړلې په ۱۷۵۱م کال کې ناچاره تفلیس (Tbilisi, Tiflis) ته ولاړ.

د جان آر پیري په حواله، آزاد خان له خپلې کامیابۍ څخه ګټه پورته کړه او د ارکل له خور سره ئې واده وکړ. مخکې ارکل دغه پیشنهاد ته د رد ځواب ورکړی وو. بالاخره آزاد خان په دې وتوانېد چې یو ځل بیا خپل ځواکونه په ارومیه کې ځای پر ځای کړي او خپله د ۱۷۵۲ م کال د جنوري په میاشت کښې تبریز ته ولاړ سي، د تاریخ لیکونکو له انده آزاد خان دغه وخت په آذربایجان کې د خپل قدرت تر ټولو لوړ پړاو کښې وو ځکه چې د اراس سیند ټولې جنوبي برخې، او د اردبیل څخه نیولې بیا د ارومیه او د اراس د سیند تر څنګ ټولې سیمې د نخجوان ایالت پورې د ده تر واک لاندې وې.

هغه څه چې کاظم موسوي لیکلي دي د جان پیري د بیان سره یو څه تفاوت لري چې دلته ئې په مختصر ډول راوړو:[19]

"آزاد خان د خپل حکومت د ټینګښت او د ټول آذربایجان د نیولو د هڅو په ترڅ کې په تبریزکې خپل ځای ناستی کښېنولی وو، پوځ یې پر ګُرجستان حمله وکړه او وروسته له یو لړ سختو نښتو چې د ده او ارکل تر منځ واقع سولې بېرته تبریز ته ولاړ. اما آزاد خان له لږ ځنډ وروسته د خپل پوځ په راټولو او قوي کولو بوخت سو او بیائې حمله وکړه. دا ځل د ډېرو هلو ځلو وروسته یې ګُرجیانو ته سخته ماته ورکړه او هغه سیمه ئې هم پخپله ولکه کې راوستله. ارکُل مجبور سو چې دوستۍ ته غاړه کښېږدي. د آزاد خان فرمان ئې ومنئ او خپله خور ئې ورته نکاح کړه".

---

[18] جان ار پیري، کریم خان زند، تاریخ ایران ۱۷۴۹-۱۷۷۹ ص:۷۴

[19] کاظم موسوی؛ دایرت المعارف بزرگ اسلامی جلد ۱، تهران ۱۳۶۹.

د کاظم موسوی له نظره په دغه وخت کې آزاد خان ته یو بل غټ سر خوږی جوړیږي، هغه داچې د فضل علي خان په نامه د آزاد خان لاس پوڅي پر ګُرجستان باندې د ددو حملو د مصارفو د پوره کولو له پاره د تبریز پر خلکو ډېر درانه مالیات وضع کړل، خلک په تنګ راغلل د آزاد خان د لاس پوڅي په مقابل کې ئې بلوا وکړله او هغه ئې وواژه، لکه څنګه چې خلک له دې څخه بېرېدل چې آزاد خان به انتقام واخلې نو ئې د ښار کلا ته پناه یووړه او د آزاد خان له اطاعته ئې سرغړونه وکړه. تبریزیانو د ښار د شاوخوا ایالتونو څخه مرستې وغوښتلې او تر ډېر وخت پوري یې د آزاد خان په مقابل کې استقامت وکړ او خپله کلا او ښار ئې وساته اما بالاخره په ۱۱۴۶ ق-۱۷۵۱م کال د روژې په میاشت آزاد خان یوار بیا د تبریز ښار ونیوئ. په دغه جنګ کې د تبریز ښار څلور زره (۴۰۰۰) کسه اوسېدونکي ووژل سول.[20] په دغه ډول آزاد خان ټول آذربایجان ونیوی او تر خپل ادارې لاندی یې راووست.[21].

سربېره پر دې آزاد خان د یو بل سړي له خوا، چې نوم ئې کاظم خان قراچه داغي وو او ډېر یو هوښیار او په کار پوه سړی وو، ډېر مشکلات ولیدل. کاظم خان په لومړي سر کې د نادر افشار سره وو او هغه ته ئې نظامي مشورې ورکولې، د ده د ډېري پوهې او ځیرکی له امله نادر افشار بد ګمانه سو او دی ئې ړوند کړ، سربېره پر دې چې ړوند وو د نادر افشار له مرګ وروسته ئې د خپلواکۍ اعلان کړی وو، د آذربایجان خانان له ده څخه په بېره کښې وه کله چې کاظم خان په دې پوه سو چې د آذربایجان خانان او مشران د آزاد خان ملګرتیا کوي، نو دی هم مجبور سو چې د آزاد خان سره یو ځای سي او پیروي یې وکړي، د کاظم خان په تسلیمۍ سره آزاد خان پر ټول آذربایجان باندي حاکم سو او په آذربایجان کښې د آزاد خان مطلق سلطنت منځ ته راغی.

لکه څنګه چې آزاد خان د **لزګیانو** (چیچنیان او یا چیچین) له مرستو څخه برخمن نه وو نو ئې نسوای کولای چې د شمال خوا ته پر مختګ وکړي. له بله اړخه د جنوب څخه په

[20] عبدالعظیم، رضایي، تاریخ ده هزار ساله ایران.(تهران: اقبال، ۱۳۶۳،) ص: ۳۲۰

[21] تبصره: څلور زره کسو وژل ممکن مبالغه وي

تشویش کښي وو. له ناچارۍ ئې خپل د حاکمیت سیمه یوازي د اراس د سیند جنوب ته محدوده کړه.

اراس هغه سیند دی چي ګُرجستان او آذربایجان یو له بل څخه بېلوي، مطلب داچي آزاد خان د ګُرجستان نیول سوي سیمي خپل اخښي ته پرېښودلې او خپله ئې د آذربایجان په خاوره قناعت وکړ. آزاد خان خپله توجه د جنوبي سیمو ټینګښت ته واړوله. د آزاد خان د دغه شان سلوک له سببه ارګُل، د افشار قبیلې او د آذربایجان نورو قبیلو له ده سره ښې اړیکي پاللې، دغه وضع ددې باعث سوه چي آزاد خان د۱۷۵۳م کال په پسرلي کي د جنوب لور ته درې سوه (۳۰۰) میله کښته له آذربایجان څخه خپل بخت وازمایي. دغه سیمي د کریم خان زند تر ولکې لاندي وې، نوموړی د علي مراد خان او د هغه له متحدینو سره په جګړه کښي وو او داسي معلومېده چي کریم خان به خپلي سیمي بایلي.

یو بله منبع دا به هم زیاتوی چي د ټول آذربایجان د نیوني وروسته، آزاد خان دا غوښتل چي د مشرانو، جنګیالیو او خپل افغاني پوځ سره یو ځای خراسان او له هغه ځایه بیا افغانستان ته ولاړ سي، احمد شاه ابدالي سره چي د افغانستان پاچا او امپراتور وو د راتلونکي په باره کي خبري وکړې او خپله هلته حکومت وکړي، ولي آزاد خان د خپلو مصرفیتونو له امله چي آذربایجان او ایران کښې درلودل، په دې ونه توانېد چي دغه چاره تر سره کړي. وروسته په کتاب کي د آزاد خان او احمد شاه بابا د حالاتو د څرنګوالي په باره کي لنډه لیکنه لرو.

# دریم څپرکی

## د آزادخان افغان د پاچاهۍ اعلان

### د اصفهان نیوله

راسی وګورو آزادخان سربېره پر ټولو مشکلاتو او د ایرانۍ ټولني په بې ثباتۍ کښي له خپلو دوو غټو سیالانو لکه کریم خان زند او محمد حسن قاجار سره څرنګه مخ کیږي. کریم خان، چې له یوې محرومي او څپلي طایفې څخه وو، د آزاد خان سره سیالي پیل کړه او غوښتل ئې د ایران واګي په خپل لاس کي واخلي، نوئې خپله قبیله له ځانه سره کړه او د کومک غوښتنه یې ځني وکړه او هغوی ته ئې د یوالي او سختیو د زغملو بلنه ورکړه.

د زند قبیله که څه هم د شمېر له نظره ډېره کمه وه خو د نورو قبیلو په منځ کي له ډېر اعتبار څخه برخمنه وه. ځیني خلک په دې نظر دي د زند قبیلې ته د دې لپاره زند ویل کیږي چې زردشت د زند او اوستا د کتاب د ساتني وظیفه دوی ته سپارلې وه. کریم خان نسبت و خپلو نورو سیالانو ته د ایران د خلکو اعتماد او باور لاس ته راوړی وو، او غوښتل ئې چې پاچاهي وکړي، ده ددې هیلي د لاسته راوړلو له پاره آزاد خان ته د غټ خنډ او سیال په سترګه کتل. په هرصورت د علی مردان خان[22] د مرګ وروسته، کریم خان زند او محمد حسن قاجار د آزاد خان د پرمختګ په مقابل کي ډېر غټ خنډونه بلل کېدل. آزادخان په دغه وخت کي پر آذربایجان حکومت کاوه. علي رضا چې ضیاءالملت والدین ورته ویل کېدل داسي لیکي:

---

[22] علی مردان خان چهارلنګ بختیاری د نادر افشار له جنرالانو څخه و او د شاه اسمعیل دریم او شاه حسین دوم استازیتوب یی کاوه. هغه د قندهار په فتح او د هند په فتح کی برخه اخیستی وه. وروسته له کریم خان زند سره متحد شو او اصفهان یی فتح کړ.

" په اول جنګ کې چې د کريم خان او آزاد خان تر منځ وسو، کريم خان داسي ماتي وخوړه چې نه يوازي اصفهان بلکه شيراز ئې هم پرېښود او د ګيلويه د غره په لور وتښتېد" [23]

## د آزاد خان مبارزې د کريم خان زند سره

که څه هم دغه دوه سيالان، چي دواړو د پاچاهۍ دعوی کوله، بالاخره سره دوستان سول خو په شروع کښي يې يو د بل سره ډير جنګونه وکړل، ددغو جنګونو په سبب ډېر انسانان ووژل سول. کله چي د دوی دوو تر منځ د جنګونو بحث کيږي، لازمه ګڼل کيږي چي د محمد حسن قاجار څخه هم يادونه وسي، ځکه په دغه وخت کي ددوی درو تر منځ درې اړخيزه سيالي روانه وه. لومړی موږ دلته له هغه جنګونو څخه بحث کوو چي د آزاد خان افغان او کريم خان تر منځ واقع سوي دي، ددې وروسته به بيا هغه جنګونه وڅېړو کوم چي د آزاد خان او محمد حسن خان قاجار تر منځ سوي دي.

د کريم خان او آزاد خان ترمنځ جنګونو ډېر عوامل لري اول او لوی علت ئې دا وو چي دواړه د تاج او تخت مدعيان وه، ولې د دوی دوو ترمنځ د اول جنګ علت د کريم خان او علي مردان خان بختياري تر منځ دښمني وه. دلته دا لازمه ګڼو چي د بختياري قبيلې مشران علي مردان خان او ابوالفتح خان، چي په ايران کي د ډير تاو تريخوالي او جنګونو باعث سول، په لنډ ډول و پېژنو، وروسته په بيا د کريم خان او آزاد خان تر منځ جنګونه په ترتيب سره راوړو.

## علي مردان خان څوک وو

على مردان خان د بختباري د چهارلنګ طايفې او د زمان خان له اولادې څخه وو. د پلار نوم يې حيدر خان دی له ده څخه د اقتدار وړ زامن پاتي نسول خو د تره زامنو يې تر ډېره د

[23] د نور تفصيل له پاره دری کتاب وګورئ!

بختیاري قبیلې ریاست پر غاړه درلود. په دوی کې د راشد خان له اولادې څخه تقی خان هم له انګریزانو سره د تړاو له کبله شهرت موندلی وو.

دغه دوه کسه د بختیاري طایفې سرداران خپل منځي مخالفتونه لري. د بختیاري طایفې ددغه دوو سردارانو د مخالفت له پاره جالبه ده چې د شاهرخ میرزا لخوا د اصفهان د حکومت د بخښلو کیسه ابوالفتح خان ته بیان کړو. د محمد حجازي د لیکنې په اساس د اصفهان حکومت شاهرخ د بختیارۍ قبیلې یوه خان ابوالفتح خان ته وسپاره. د بختیاري طایفې بل خان علیمردان خان له ابوالفتح خان سره جنګ وکړ او ماتې یې وخوړه او د انتقام په لټه کې سو. د علي مردان خان او ابوالفتح خان تر منځ سیاسي رقابت په ډیري چټکۍ مخته روان وو. ابوالفتح خان رسماً د شاهرخ لخوا د اصفهان د نایب الحکومه مقام درلود. د صفویانو د پخواني پایتخت د کنترول لپاره او د شخصي او قبیلوي کښې په اساس، دغه دوو د بختیاري قبیلې مخورو رقابت کاوه؛ خو ابوالفتح خان د هفت لنګ قبیلې رئیس وو او بختیاري قومي مشر بلل کېدی او خاص نژادي مقام یې درلودی یعنی د مور لخوا د شیخ زاهدګیلاني او د شیخ صفی الدین اردبیلي صیفي له اولادو څخه شمېرل کیدی. علی مردان خان د چهارلنګ قبیلې سردار وو. دی یو خودخواه او متکبر سړی وو چې د نادر په دربار کې د موقعیت له امله یې شهرت درلود. د علی مردان خان او ابوالفتح خان لومړی جنګ په۱۱۶۳ هـ/۱۷۵۰م کال کې وو چې دا نېټه په آذربایجان کې د آزاد خان له واک سره سمه ده. علي مردان په ښکاره ډول ماته وخوړه او اصفهان ته پر شا ولاړ. سرتېرو ئې ښار ته د ننوتلو مخه ونیوله او هغه ئې د ګلپایګان په نامه سیمې ته وشاړه. ده له مجبورۍ په نورو اقداماتو لاس پوري کړ، او د لنډ مهال له پاره یې د ګز ښار چې له اصفهانه شمال لور ته درې فرسنګه فاصله لري تصرف کړ وروسته ئې پر جلفا برید وکړ خو د اصفهان عسکري قوه دومره پیاوړي وه چې دی ئې حتی د ښار د محاصرې ته هم نه پرېښود. علي مردان خان خپل استازی خپلو سیمه ایزو سیالانو له هغې جملې کریم خان او ذکریاخان ته واستول او له هغوی سره ئې یوه اتحادیه جوړه کړه. محمد حجازي په دې باور دی چې

علی مردان د کریم خان په مرسته ابوالفتح خان له اصفهانه پسي واخیست. بالاخره دغه درې تنه یعني کریم خان، علی مردان خان او ابوالفتح خان یو له بله سره متحد سول چي په ګډه یې د شاه سلطان حسین دلور لخوا لمسی د دریم شاه اسماعیل په نامه د سلطنت پرتخت کښېناوه او په دې ډول علی مردان خان نایب السطنه، کریم خان د لښکر مشر او ابوالفتح خان د اصفهان حاکم سو.

## ابوالفتح خان څوک وو

ابوالفتح د هفت لنګ د قبیلی یو مشر وو او د بهداروند (بختیاروند) کورنی څخه وو. په مخامخ جګړه کی یو مخالف ونیو او د خان لقب یی ورکړ. وروسته هغه د کورنی شهرت ترلاسه کړ. په تیرو کلونو کی د دوی یو بل مشهور مشر غلام رضا خان نومیده.

درې ګونی یوالی چي مخکي ذکر سو د لاندي سرنوشت سره مخ سو چي په پوره ډول به بحث پرې وسي. داسي ویل کیږي چي علیمردان خان له ماتي وروسته آزاد خان ته پناه وړې او سره ملګری کیږي. خو دی له ډیري مایوسي په تلوار سره کرمانشاه ته ولاړ. دغه جنګ د آزاد خان او کریم خان تر منځ هم د جګړو سبب سو چي په لاندي ډول دي. [24]

[24] محمد، حجازي. خلاصه تاریخ ایران تا انقراض قاجاریه.(تهران: ابن سینا،۱۳۳۵،)ص:۲۰۰.

## د آزادخان افغان اوکریم خان زند جنګونه

د یو بل روایت پر اساس په ۱۱۶۶ هـ کي چي ۱۷۵۳م د مارچ سره سمون خوري کله چي کریم خان په اصفهان کي اوسېدی په دې باندي خبر سو، چیعلی مردان خان بختیاري د ځان له پاره پوځ اماده کړی او د مصطفی خان بېګدلي سره متحد سوی او یوکس یې چي نسب ئې معلوم نه دئ او شاملو نومېږي په شاهي اعلان کړی دئ او د کرمانشاه لوري ته راغلی دئ.



کریم خان زند

کریم خان د علی مردان خان سره د جګړې له پاره د اصفهان څخه کرمانشاه ته ولاړ او د علی مردان خان له پوځ سره په جګړه اخته سو، بالاخره علی مردان خان ماته وخوړله. علی مردان خان له آزاد خان افغان څخه چی په اُرومیه کی اوسیږی مرسته وغوښته. کله چي علی مردان خان د کریم خان سره په جګړه بوخت وو، آزاد خان چي دغه وخت په اُرومیه

کښې وو د اته زره (۸۰۰۰) افغان او افشار پوځیانو سره د کرمانشاه لورته د علی مردان خان مرستې ته ور ودانګل خو چې دوه درې منزله لارو کرمانشاه ته پاته وه، آزاد خان د علی مردان خان د ماتې واورېدل. آزادخان د بیرته تګ پرېکړه وکړه خو کریم خان بیرته ګرځېدو ته پرېنښوول.[25]

کله چې آزاد خان غوښتل د آذربایجان په لور حرکت وکړي په کومه سیمه کې چې دی تم وو هلته د کریم خان پوځیان ننوتل. آزاد خان څو ځلي د خپل اوسېدلو ځای بدل کړ او د کریم خان سره ئې د جنګ دلچسپي نه درلوده؛ ځکه نه ئې غوښتل چې د جګړې د اور بلونکی سي. دا چې کریم خان دی تعقیباوه بالاخره ناچاره سو د خپل پوځ د مشرانو لکه فتح علی خان افشار شهباز خان دنبلی سلیم پاشا او افغان خانانو سره د مشورې له پاره کښېني. بالاخره ئې پرېکړه وکړه چې څو کسه به د قاضي او شیخ الاسلام سره د آزاد خان دا پیغام کریم خان ته وړي چې د کریم خان هدف د آزاد خان د تعقیبولو څخه څه دئ؟ آزاد خان خو د هغه سره د جنګ هیڅ اراده نلري.

کریم خان د آزاد خان استازو ته وویل: ستاسي څخه لاس اخیستل یوازي په هغه صورت کې کوم چې آزاد خان د خپلو مشرانو سره یو ځای زما حضور ته راشي او زما د غلامۍ حلقه خپلي غاړې ته واچوي او زما اطاعت وکړي. د کریم خان له دغه وینا څخه وروسته د آزاد خان استازي له دغه پیغام سره آزاد خان ته ورغلل. آزادخان افغان له خپلو افغاني مشرانو سره تر مشورې وروسته د افغاني ښه دود پر اساس دعا وکړه او د جنګ له پاره ئې اراده وکړه.[26] ددې برعکس د کریم خان زند د پوځیانو تر منځ یو نظر نه وو، حتی مخکې له دې څخه چې جنګ شروع سي، د زند د پوځیانو تر منځ اختلاف راپورته سو، محمد خان او شېخ علي د آزاد خان سره د جنګ غوښتونکي نه وه او غوښتل ئې آزاد خان آذربایجان ته د تللو په لار کې کوم مشکل ونلري او وکولای سي چې آذربایجان ته ولاړسي، که

[25] محمد امین ګلستانه، مجمل التواریخ.ص:۴۶۵

[26] ابوالحسن بن محمد امین، ګلستانه. مجمل التواریخ.(تهران: چاپخانه ابن سینا، ۱۳۴۴،)ص:۲۷۳.

څه هم دغه اختلاف تر ډېره ځایه ښکاره نه وو اما دوی نه غوښتل د کریم خان له پاره نوره قرباني ورکړي. دوی په دې جنګ کښې ډېر مقاومت و نه ښود، د مثال په ډول شېخ علی خان او محمد خان زند[27] تر خپل لاس لاندي پوځیانو ته اجازه ورکړې وه چي مخکي له مخکي د جنګ څخه لاس واخلي او سره وپاشل سي. سکندر خان هم خپلو پوځیانو ته د شاتګ امر وکړ.

سلیم خان بابان چي د آزاد خان د کُردي متحدانو څخه وو د زند پر پوځ حمله وکړه د سلیم خان د حملې او د آزاد خان د جنګي تاکتیک له اثره بالاخره کریم خان له یوې شرمناکي ماتي سره مخ سو، لږ ګړی مخکي د لمر لوېدو آزاد خان د جنګ میدان وګټی.

محمد امین ګُلستانه هم په دې باره کښې داسي لیکي:

"که څه هم کریم خان ددې له پاره راوتلی وو چي د آزاد خان لار ونیسي اما ګټه ئې ونکړه او پوځیان ئې په هر لوري وتښتېدل، د کریم خان څخه ټول پاته سوي مالونه او خزانه افغانانو په غنیمت یووړله، او له ډېر لږ پوځ سره کریم خان، شېخ علی خان، محمدخان، اسکندر خان او زندیه مشران د کمازان او پري پر لور ووتل. کله چي کریم خان هلته ورسېد اسکندر خان ئې له ځان سره ملګری کړ او د اصفهان په لور وخوځېد او نور پاته ټول زندیه مشران ئې د پري اوکمازان په کلا کي پرېښودل. دغو خانانو د کلا په چمتوالي لاس پوري کړ"

آزاد خان وروسته له بري څخه کله چي د شپې درې څلور ساعته تېر سوي وه، د کریم خان خېمې ته ننوت. پوځیانو ئې عبدالعلی خان او میرزا محمد تقي خان چي د کریم خان له پلویانو څخه وه او د توپخانې مسؤلین وه د نورو بندیانو سره یو ځای د آزاد خان حضورته وروستل. هغوی د کریم خان سره د نه تلو علت آزاد خان ته ووایه آزاد خان ددغې خبري په اورېدو سره خورا خوشحاله سو او د خپل پوځي مشرانو څخه ئې یو د پنځوسو پوځیانو

[27] محمد خان زند او شیخعلی خان زند د کریم خان زند له مشهور جنرالانو او جنګیالیو [څه وو.

سره د دوی په ساتنه و گماری. آزاد خان د عبدالعلی خان او میرزا محمد تقی خان سره خورا ښه چلند وکړ او دوی ته ئې د زړه تسلي ورکړه، عبدالعلی خان ئې له ځان سره ملگری کړ، میرزا محمد تقی ئې د کرمانشاه په لور رخصت کړ او خپله د کریم خان په تعقیبولو بخت سو.

په قزوین کی په بریا سره، آزاد خان هڅه وکړه چی له وضیعت څخه گټه پورته کړی. محمد تقی گُلستانه او عبدالعلی خان هم د آزادخان سره یو ځای شول. دغه دوه کسان چی له ویري او اړتیا له مخی له کریم خان یو ځای شوی وو، د کریم خان له ماتی وروسته له آزاد خان سره یو ځای شول. آزاد خان عبدالعلی خان توپچی باشي له خپل لښکر سره یووړ او محمد تقي خان ته یی د کرمانشاه د واکمنی دنده وسپارله. نو له دي ماتي وروسته د کرمانشاه مهم ولایت د آزاد خان له خوا ونیول شو.

د پري او کمازان کلا ته نژدې آزاد خان ته خبر ورسېد چي کریم خان خپله اصفهان ته تللی او د زندیه قبیلې مشران ئې د پري په کلا کښي پري ایښي دي. د آزاد خان پوځیانو د کلا په محاصره کولو لاس پوري کړ، آزاد خان د خپلو سردارانو څخه یو د کریم خان د پوځ مشرانو ته لکه شېخ علی خان او محمد خان چي په کلا کي بند پاته وه واستاوه د دي پیغام سره:[28]

"زما دا هوډ نه وو چي ستاسي سره جنگ وکړم هر څومره چي مي عاجزي وښودله کریم خان قبوله نکړه، د ناچارۍ څخه جگړې ته مجبور سوم او بری د افغان او افشار پوځیانو په برخه سو، اوس به دا خیر وي چي کلا تسلیم کړی او زما سره ووینی". زندیه مشرانو د آزاد خان استازي ته توندي خبري وکړې او پر خپل مقاومت ئې ټینگار کاوه، د زندیه پلویانو به کله نا کله د افغان پوځیانو سره یو په یو جگړه کوله ولې ببله دې چي کوم څه لاس ته راوړي بیرته په کلا ننوتل. آزاد خان بالاخره یو ځل بیا خپل څو معتبره سرداران کلا ته ولېږل او

28

دسولي خبري ئې پېشنهاد کړې، جان آر پیري وايي:

"آزادخان د خپل پوځ قاضي هغوی ته د سفیر په حیث ولېږی تر څو هغوی دې ته وهڅوي چي آزاد خان سره دوستانه لیدنه وکړي."[29]

ګُلستانه لیکي:[30]

"څو کسانو د سولي خبري اتري شروع کړلې او دوی ته ئې وویل چي آزاد خان ستاسي سره د لیدني څخه هدف دادې چي دواړه خواوي د چارو په تر سره کولو کي یو موتی واوسي، یو د بل څخه د خطر احساس و نلري؛ د ډاډ د ترلاسه کولو وروسته به آزاد خان د آذربایجان په لور ولاړ سي او همېشه به د دوی تر منځ د دوستۍ د پیغامونو استولو دروازه خلاصه وي. زندیه مشرانو په جواب کي ورته وویل: چي موږ ددې کار د تر سره کولو اجازه نلرو، ولي الدوله (کریم خان زند) دي خبر کړي هر څه چي د هغه رایه وه موږ ئې منو".[31]
څرنګه چي دا خبر آزاد خان ته ورسېد، ده (آزاد خان) د پري کلا د نیولو له پاره د سیاسي چال نه کار واخیست. آزادخان افغان خپل د پوځ قاضي چي قاضي عمر نومېد راوغوښت.

جان ار پیري لیکي:[32] دی هم د ګُلستانه له کتاب څخه نقل کوي چي:

"آزاد خان خپل قاضي ته لار ښوونه وکړه او ورته یې وویل چي تا کلا ته واستوم او هر څنګه چي کیږي زندیه مشران به زما سره د لیدلو له پاره راولې. قاضي ورته وویل، چي دا کار ماته ډېره آسانه دې، هغه چي یو ډېر پوه او سیاستمدار سړی وو همغه ګړی د آزاد خان څخه رخصت سو او د کلا په لور روان سو".

[29] جان ار پیریو تاریخ ایران بین سالهای۱۷۴۷-۱۷۷۹م.(تهران:-،۱۳۶۵ ص 76.

[30] ابوالحسن بن محمد امین، ګلستانه. مجمل التواریخ.(تهران: چاپخانه ابن سینا، ۱۳۴۴،)ص:274.

[31] ابوالحسن بن محمد امین، ګلستانه. مجمل التواریخ.(تهران: چاپخانه ابن سینا، ۱۳۴۴،)ص:275.

[32] که څه هم جان آر پیري په خپل کتاب کي هغه د قاضي عسکر په نوم یاد کړی دئ ولي بیرته ئي واضح کړې ده چي د آزاد خان د پوځ قاضي قاضي عمر وو

**د قاضي عمر خبري اتري د زنديه مشر انو سره او د زاغج د سيمي پېښه:**

په لنډ ډول به ووايو د آزاد خان استول سوی استازی قاضي عمر هغوی ته په سياستمداری ماته ورکړله. هغوی بېله دې چي آزاد خان غوښتنو ته مثبت جواب ووايي بله چاره نه ليدله او تسليم سول. محمد خان، شېخ علی خان او د زند قبيلې نور مشران دې ته حاضر سول چي د آزاد خان سره ووينې. ټول مشران د کلا څخه د آزاد خان د پوځ په لور ولاړل، اما آزاد خان هغوی ټول بنديان کړل په دې سبب چي هغوی ئې دوستانه بلنه څو ځله رد کړي وه او پر خپله خبره ټينګ ولاړ وه او اوس چي ماته يې وخوړه بلنه ئې ومنله. بلې ورځې ته ئې ټولو ته جوغ او زولنې ور واچولې او د دې بنديانو او د ټولو هغو غنيمتونو سره چي په جنګ او د پري کلا څخه په لاس ورغلي وو د اُروميه خوا ته روان سو، هدف ئې دا وو چي دغه بنديان يوسف خان هوتک د اُروميه حاکم ته تسليم کړي چي د اُروميه په کلا کښي يې وساتي. آزاد خان زنديه بنديان خپل د اکا زوی ته وسپارل چي په اُروميه کي يې يوسف خان هوتک ته تسليم کړي او هلته بنديان وي او وروسته د هغوی په باره کښي فيصله وکړي او خپله د خپل پوځ سره د کريم خان د تعقيبولو په نيت د اصفهان په لور وخوځېد.[33]

د آزاد خان د حکم سره سم علم خان، دده د اکا (تره) زوی، د اوه سوه افغان سپرو او نور متفرقه پوځ سره چي تعداد يې څلور زره (۴۰۰۰) کسانو ته رسېدی. د پري او کمازان څخه د آذربايجان په لور حرکت وکړ چي دغه بنديان يوسف خان هوتک ته تسليم کړي. په دغه وخت کي آزاد خان په خپله د اصفهان په لور ولاړ. علم خان چي ددغه بنديانو د رسولو مسئول وو داسي امر کړی وو چي تر اُروميه پوري هره پلا چي د استراحت له پاره درېږو دغه بنديان بايد زما د خېمې شاته وساتل سي او هيڅوک حق نلري د دوی خواته ور تېرسي.

همداشان ئې امر کړی وو چي د زنديه مشرانو د عزت ساتلو د پاره هغوی به د يوه منزل څخه تر بل پوري پر خرو سفر کوي چي په پښو منزل ته رسېدل ډېر سخت کار دی او د

[33] غفاری کاشانی، ۱۳۵۶، ص ۸۱-۸۳

هغه کسانو ته یې، چې د غنیمتونو او بندیانو د رسولو وظیفه په غاړې وه، امر کړی وو چې تر اخره پوري به دغه امرونه پرځای کوي او په همدغه شکل به ئې تر اُرومیه پوري رسوي. په دې ډول ئې دوه درې منزله لار ووهله تر څو چې علم خان د بندیانو سره څلورم پړاو ته ورسېد او هلته د هوسایۍ له پاره تم سو، دغه سیمه د **زاغج** سیمه وه.

د علم خان بندیان د ده د امره سره سم پر خرو باندي سپاره وو، په دغه بندیانو کي یو لږ ښځي هم وې، داسي ویل کیږي چې د کریم خان زند مور او دری خویندی او لمسیان هم په دغه بندیانو مینځ کي وو.

هغه ساتونکو چې آزاد خان د ښځو د ساتني له پاره ګمارلي وه د ښځو څخه لیري حرکت کاوه، داسي ویل کیږي چې په دغه بندیانو کښي یو بندي د محمد صادق په نامه وو چې د محمد خان کوچنی ورور وو. په ظاهري بڼه یو بدرنګه او سخوټ سړی وو او ساتونکو هغه نه پېژندی او په غلامانو کښي ئې شمېرلی وو. هغه ته ئې خر نه وو ورکړی او په پښو یې په نورو خرو پسې کړی وو چې پر لاره یې سم کړي. کله چې علم خان د زاغج سیمې ته ورسېدی د استراحت له پاره هلته تم سو، لکه څرنګه چې د بندیانو سره ښځي هم وې نوئې د هغوی له پاره لیري خېمه ووهله. یو څه لیري دبندیانو څخه د آسانو او مالونو له پاره ځای ټاکل سوی وو خصوصاً هغه غنیمتونه چې د پري کلا د جنګ څخه په لاس ورغلي وه. ساتوونکو هر یوه د ګرمۍ له امله په خپله خېمه کښي استراحت کاوه، بندیان هم ټوله په خېمه کي وه، محمد خان شیخ علی خان ته وویل« آیا دا معلومه ده چې آزادخان به له مورږ سره څه کوي؟» شیخ علي خان ورته وویل: «د آزادخان اراده داده چې مورږ ووژني او ښځي مو له ځان سره بوزي »

محمد خان یې په جواب کښي ورته وویل:

"ستا دغه فکر سم ندی، آزادخان په افغاني فرهنګ سره تربیه سوی او د مېړاني له دودونو څخه پوره خبر دی او زمورږ د کلونو پوهه ورسره سته". هغوی به یو بل ملامتول په

اخر کې يې سره وويل؛ بېله تسليمۍ بله هيڅ چاره نلرو پر تېرو باندي پښېماني هيڅ ګټه نلري. يو وخت د دوی دې ته فکر سو چي ټول پوځيان او ساتونکي سره د علم خان د لاري د سختۍ او ګرمۍ له امله د غفلت په خوب بيده دي، دوی په خپل منځ کښي ووې: بايد ځانونه خلاص او ازاد کړو.

زنديه مشرانو د علم خان ددغه بې پروايي څخه پوره ګټه واخيسته. وروسته له يو څو خبرو څخه محمد خان خپل کشر ورور صادق خان چي ازاد او خوشي وو وروغوښت هغه ته ئې وويل؛ که يوه ټوټه اوسپنه يا چاړه پيدا کولای سې، ژر ئې راته راوړه، که هغه نه وي يو ټوټه هډوکی چي له هر ځايه وي پيدا کړه او تر مايې راورسوه. صادق خان د محمد خان کشر ورور، چي پوځيانو د غلام فکر ورباندي کړی وو، ډېر ژر يو ټوټه هډوکی پيدا کړ، دغه هډوکی د ټولو بنديانو د خوشي کېدو سبب سو. کله چي صادق خان هډوکی محمد خان ته ورورساوه هغه هډوکی د مېخ په شان تېره کړ او د دوښاخې غوندي ئې کار ځني واخيست او ځان ئې خوشي کړ، هډوکی ئې شېخ على ته ورکړ هغه هم ځان خوشي کړ، په همدغه شکل ټول هغه زنديه مشران چي د علم خان سره بنديان وه آزاد سول، هر يوه د ځان له پاره يو د هغو آسانو څخه په نظر کي ونيوی کوم چي ساتونکو په خېمو کي درولي وه. دوی ټولو په يو وار ځانونه آسانو ته ورسول، هر يو پر يوه آس سپور سو او د ساتونکو نېږې يې چي هغوی پر ځمکه درولي وې له ځانه سره يو وړې. بايد وويل سي د سردار علم خان ددغي ماتي علت دده او د ملګرو بې پروايي وه، دوی فکر نه کاوه چي صادق خان به د ټولو د آزادېدو وسيله سي، له بل پلوه د افغانانو ځواني او انساني کرامت ته په ښه سترګه کتل هم د بنديانو په خوشي کېدلو کي اغېز درلود.

افغانان په جګړو کي لږ د ماتي سره مخ کېږي خو ځينی وخت د دوی شجاعت، مېړانه، زړه سوی او انسان دوستي د دوی د ماتي لامل سوي دي، په دغه پېښه کي هم د دوی زړه سوی د زنديه بنديانو سره د دوی د ماتي لامل سو. وروسته له دې شکر علي خان چي يوه دانه توره ئې د اوړو په جوال کي پټه کړې وه را وايستله او ده او سفر على هغه خېمې ته

ځانونه ورسول چي علم خان استراحت پکښي کاوه او بیده وو. سردار علم خان په لاره کي د بندیانو او تر خپل لاس لاندي خلکو سره په مهربانۍ برخورد کاوه، علم خان د هغوی د پښو په آواز د خوبه راویښ سو، خو دا هغه وخت وو چي شکر علی خان د توري سره د هغه سرته ولاړ وو او کار تر کار تېر وو. شکر علی خان د توري په یوه ګزار، چي د علم خان پر اوږو ئې وکړ، هغه له پښو وغورځاوه، له بل اړخه سفرعلي په تفنګچې وار پر وکړ او هغه ئې وواژه. په دغه وخت کي د آزاد خان ټول پوځیان او ساتونکي د ډیري ستړیا له امله بیده وه، چي د خوبه راپورته سوه د وسلوال بندیانو سره مخامخ سول چا چي د دوی د خوب په وخت کي ځانونه مسلح کړي وه. دا وخت د عسکرو هیڅ په وس نه وه پوره او یوازي ئې له هغه غنیمتونو څخه ساتنه وکړله کوم چي یې له ځانه سره راوړي وه، بندیان د سردار علم خان له وژلو وروسته وتښتېدل. یوه بله حیله چي بندیانو استفاده ترې وکړه، د وکیل راغی! وکیل راغی! ناري وې په دې کار سره د بندیانو روحیه لوړه سوه او ټولو ځانونه آزاد کړل.

په هر صورت د آزاد خان پوځیان چي مشري ئې سردار علم خان وو، یو څه ویښ او ډېره برخه ئې بیده ول، چي د بندیانو د حملې او درواغ ویلو په اثر تیت او پرک سول او په دې فکر چي کریم خان راغی د صحرا او غره په لور ولاړل. د زندیه بندیانو شځینه ډله چي تعداد ئې تقریباً پنځوس (۵۰) شځو ته رسېده ځانونه سندوخونو او مالونو ته ورسول او څو کسه پوځیان یې چي ویده ول زخمیان کړل او پاته نور پوځیانو چي د بندیانو د ساتلو وظیفه ئې درلودله په داسي حالت کي چي ګنګس او له خوبه وه ځانونه درو ته ورسول او د زندیه بندیانو او د هغوی د ښځو له ناځاپي حملې څخه ئې ځانونه وساتل. نورو بندیانو هم ځانونه ازاد کړل او یو څه توکي ئې له ځان سره یووړل. وروسته له دې چي زندیه بندیان په تېښته بریالي سول او د سردار علم خان افغان پوځیان هري خواته سرګردانه خپاره سول د زندیه پوځ پاته برخه د صحرا او غره د لوري راټول سول او د سردار علم خان پر پاته ملګرو ئې حمله وکړه. افغان مشرانو دغه د غمه ډکه واقعه په پوره تفصیل سره آزادخان ته ولیکله او دغه لیک یې د یوه افغان حنظله بېګ افغان په لاس د یو بل سپاره ملګري سره

آزاد خان ته ولېږئ. له همدې سره سم زندیه مشرانو په ډېره بیړه ځانونه  چمچال ته ورسول، کله چې د خزل دڼلي (اصلاً قزل دئ)، چې د کُردانو د سیمي اوسېدونکي وه، د بندیانو د راتګ د چمچال و سیمي ته واورېدل تقریباً له دروزرو (۳۰۰۰) سپرو او پلي پوځیانو سره د هغوی مرستي ته ورغلل او د هغوی سره یو موټی سول، همدارنګه د دلفان دډله، چې اصلاً د **لُر** قبیله وه او چمچال ئې د اوسېدو له پاره غوره کړی وو، هم د زر (۱۰۰۰) پیاده او سپرو سره د زندیه مشرانو سره یو ځای سول. زندیه تښتېدلي بندیانو چې اوس ئې نورو قومونو هم ملاتړ کاوه کریم خان ته د اوضاع د خبرتیا له پاره دوه نفره پیغام وړونکي د شېراز لور ته ولېږل، یوه ډله زندیه بندیان د خپلو پلویانو په ملګرتیا د **بروجرد** لوري ته ولاړل، همدا چې هلته ورسېدل د آزاد خان یو څه پلویان یې چې هلته وه ووژل، هر چیري چې به ئې افغانان لیدل، نیول به ئې او وژل به ئې. زندیانو د لښکر په جوړولو او راټولو لاس پوري کړ او د خپلي تېښتي داستان یې د عامو او خاصو خلکو تر غوږونو ورساوه. کریم خان، چې د اصفهان پر تخت ناست وو، د آزاد خان له بیري، د خپلو شپږ سوه (۶۰۰) عسکرو سره د خپل اوسېدو ځای د شېراز او اصفهان تر منځ بدلاوه. کریم خان د خپلو سردارانو د خوشي کېدو او **بروجرد** ته د رسېدو په خبر ډېر خوشحاله سو ځان ئې بروجرد ته ورساوه او د خپلو ملګرو سره یو ځای سو.[34]

[34] ابوالحسن محمد امین، ګلستانه، مجمل التواریخ.(تهران: ابن سینا،۱۳۴۴،) ص: ۲۸۳.

## په ایران کي د آزاد خان لخوا تاج پر سر ایښودل (۱۷۵۳-م/۱۱۶۶هـ ق/۱۱۳۲هـ ش)

د تاریخ د بیان پر اساس آزاد خان د صفوي شاهانو مرکز اصفهان دوه ځله نیولی او د پاچاهانو دود ئې پر ځای کړی دئ؛ تاج ئې پر سر ایښی دئ او په خپل نامه ئې سکه وهلې ده.

د پری او کمازان له خبرونو وروسته کریم خان له آزاد خان سره جګړه بې ګټې وګڼله او د پارس په لور وتښتېدی او مخکي له دي چي آزاد خان اصفهان ته راشی، له ښاره ووت او له دوه زره لښکر سره شیراز ته ولاړ. آزاد خان چي اصفهان ته ورسېدی د سلطنت پر تخت کښېناست سکه ئې په خپل نامه ووهله او خپلي پخوانۍ هیلي ته ورسېد، آزاد خان په کال۱۷۵۳ م د سیپتمبر یا د اکتوبر/۱۱۶۶ق د میاشت په شروع کښي اصفهان ببله دې چي جګړه وکړي لاس ته راووړ. کاظم خان موسوي هم وروسته له دې چي د زندیه مشرانو د بندي کېدو خبر ورکوي د آزاد خان د تاج پر سر ایښوولو بیان کوي او لیکي:

"کله چي آزاد خان په اصفهان کي ځای پر ځای سو د صفوي پاچاهانو پر تخت کښېناست او خپل په نامه ئې سکه ووهله چي د سکې نقش ئې دابیت وو".

تاکه آزاد درجهان باشد
سکه اش صاحب الزمان باشد
(تر څو چي آزاد په دې نړۍ کي وي - سکه به ئې چلیږي)



د ایران د پاچا آزادخان افغان، د سپینو زرو سکه



د ایران د پاچا آزادخان افغان، د سرو زرو سکه

(تر سو چي آزاد په دي نړی کي وي-سکه به یي چلیژی)

وروسته ئې خپل حاکمان شاوخوا ته واستول او د علی شکر، قُم، کاشان او ری سیمي ئې ونیولې.


محمد هاشم آصف د رستم التواریخ لیکونکی اصفهان ته د آزاد خان د راتګ او تاج پر سر ایښوولو په باره کښی لیکي:

"عالي مقام آزاد خان د ښېځي ډیرو افغان، ازبک، بلوڅ، افشار، کُرد، لُر، عرب، مکراني،

سنجابي او عراقي پوځيانو سره يو ځای د اصفهان د خلکو د هر کلي سره مخ سو او د صفوي پاچاهانو پر تخت کښېناست، د ملغلرو پر بالښت ئې تکيه وکړه او په اوامرو او احکامو کي ئې له انصاف، مهربانۍ او سخا څخه کار واخيست د نادر په ډول پر آس سپرېدې او دواړو خواو ته به يې چاوشان د زرينو لکړو سره روان وه".

روايتونه دا هم زياتوي چي: آزاد خان د پوره ځواک سره د فارس پاچاهانو پر تخت کښېناستی، په کامله توګه د عزت خاوند وو او ډېر خپلواک او مستعد انسان وو خپل افغاني ازبک او اردلاني مقتدر او ځواکمن اميران ئې د مالياتو په راټولو ګمارلي وه او په عدالت او برابري باندي يې ولاړ حکومت کاوه.[35]

[35] محمد هاشم، صف، رستم التواريخ. (تهران: امير کبير، ۱۳۵۲) ص:۲۶۳.



د آزادخان افغان د یوه حکم تصویر

د آزاد خان حکم یا فرمان د ابدال خان ضابط د مقرری له پاره د مالیې د مامور په حیث په څلورو سیمو کې د عسکرخان بېګ پر ځای.

د ګُلستانه په وینا، آزاد خان حتی د ایران څخه بهر فکر کاوه او د ایران د مرکزي سیمو له فتح کولو وروسته اراده وکړه چه خراسان هم فتح او له هغه ځایه د احمد خان درانی په خاوره برید وکړي. «او د احمد شاه درانی له تسلط وروسته پخپله خپلواک پادشاه شوي. خو دهغه سخت دشمن کریم خان هغه ته د دی کار مجال ورنکړه.»

په دغه وخت کې کريم خان زند پارس ته تښتېدلی وو او د شېراز په ښار کې ئې شاه اسماعيل له خپل ورور صادق خان سره د کافي لار ښوونو پر واک پر ايښي و، خپله کريم خان د پنځو شپږ سوه پوځيانو سره غوښتل پر آزادخان حمله وکړي نو د اصفهان په لور وخوځېدی.

## د دو آبه جنګ او د آزاد خان دوهمه بریا پر کریم خان

کریم خان د خپلو هغو سردارانو سره چې آزاد خان بندیان کړي وه او په تېښته بریالي سول د **بروجرد** په سیمه کې ولیدل، د لیري او نژدې قبیلو خلک لکه د سله قبیله، د دلفان ډله، د خزل (قزل) قبیله، د قراګوزلو قوم، د خدابنده لو قبیله او نور کوچري قبایل، چې د کریم خان د راتلو و **بروجرد** ته خبر سوه، په ډلو ډلو به ئې د کریم خان سره لیدل او د مرستي کولو تړتر به ئې واهه او خپل حیوانات ئې د هغوی خدمت ته درول. همدارنګه ښځې هم د کریم خان سره یو ځای سولې او نور کوچني ګروپونه هم په متفرقه ډول د کریم خان سره یو ځای کېدل.

داخبر آزادخان ته ورسېد او په دې پوه سو چې کریم خان د جنګ له پاره ځان چمتو کوي، په همدې اساس آزادخان د کریم خان د پوځ د مخنیوي له پاره د خپل شاهانه پوځ سره یو ځای وخوځېد. آزاد خان چې له دې جریان څخه خبر سو نو د دېرش زره (۳۰۰۰۰) پوځیانو سره یو ځای په شاهانه برم د اصفهان څخه د کریم خان په لور روان سو. د یو بل راویت پر اساس کله چې آزاد خان له دې څخه خبر سو چې کریم خان بروجرد ته تللی او جنګ له پاره ځان چمتو کوي له ډیرو پوځیانو سره یو ځای د اصفهان څخه راووت. د دغه دوو پوځونو نښته په **سېلابه** کښي وسوه.

څرنګه چې کریم خان د آزاد خان د حرکت څخه خبر سو، د بروجرد څخه د سیلاخور[36] په لور ولاړ او د دوآبه سیمي ته یې ځان ورساوه چې د سیلاخور شاوخوا سیمه شمېرل کیږي. کریم خان د قبیلو مشران او سرداران چې په بروجرد کښي ورسره یو ځای سوه ځانته ورغواړي او امر ورته کوي چې پلي او سپاره د جنګ له پاره اماده کړی، د ښځو څخه را جلا سي او د جنګ له پاره چمتو اوسئ!

کریم خان بیا خپل ملګرو ته وویل: «مخکي له دې چې آزاد خان راورسیږي ښځې، مالونه

[36] سیلاخور د بروجرد په شاوخوا کې یو لوی منطقه دي

او حیوانات هر هغې خواته چې امن وي واستوی او خپله د دښمن (آزادخان) په مقابل کښې د جګړې له پاره چمتو سئ».

داسې ویل کیږي، د کریم خان ځینو ملګرو ته دغه امرخوند ورنکړ، ورسره ئې ونه مانه او عذر ئې وغوښت. په دغه وخت کې خبر راورسېد چې آزادخان له دوی څخه دوه فرسنګه (د دوولس کیلومترو په شاوخوا کې) لیرې دئ. ځینې کسانو د کریم خان د سپارښت سره سم او هغو چې د خپل ځان په فکر کښې وه له ځانو سره وسایل، پسونه او نور حیوانات، ښځې او د ضرورت شیان واخیستل او لوړو او د خطر څخه تښو سیمو ته د عمومي لارو څخه لیرې ځانونه ورسول. هغه سرداران چې د علم خان څخه په تېښته بریالی سوي وه هغوی په دوی پسې سول لوړو غونډیو ته وختل شپه ئې هلته تېره کړه او د تقدیر امر ته منتظر وه. د لمر راپورته کېدو وخت ته لې ګړی پاته وو چې افغان او افشار پوځ د آزادخان په مشري سیمې ته نژدې سول، خېمې یې ووهلې او د جنګ له پاره تیار سول.

کریم خان او سردارانو ئې ډیري هلي ځلي کولې چې د قبایلو خلک جنګ ته تشویق کړي، ولې هغوی یو هم جنګ ته نه حاضرېدل او په دې فکر کښې وه چې څرنګه خپل حیوانات، مالونه او ښځې د جنګ له ډګر څخه وباسي. په دغه وخت کې افغان او افشار لښکرو کریم خان او سرداران له څلورو خواوو څخه محاصره کړل او لاري ئې د هغوی پر مخ وتړلې، د هغه وروسته جنګ شروع سو او له لږ جنګ وروسته کریم خان او سردارانو ئې ماته وخوړله. د یادوني وړ ده چې آزاد خان د خپل نامتو سردارانو څخه اشرف افغان چې په مېړانه او زړورتوب باندي ئې شهرت درلود له لسو کارپوه جنګیالیو سره د کریم خان د نیولو له پاره ولېږئ. ذکر سوو سپرو خپلو آسونو ته حرکت ورکړ او د کریم خان په تعقیبولو پسې ولاړل. یو ځای دغه لس سپاره تېر وتل او پر اشرف افغان ئې د کریم خان ګمان وکړ او حمله یې پر وکړه او وې واژه او په دغه ترڅ کې ټول تیت او ووژل سول. په اسلامي دایرة المعارف کښې راغلي دي چې د آزاد خان یوه ښځه د اشرف افغان لور وه.

آزاد خان ددغه پېښي له اورېدو سره په قهر سو او خپل پوځ ته ئې پر کریم خان د ډله ایزي حملې امر وکړ. دغه ډله ایزه حمله پر هغه لوړو غونډیو باندي وه چي کريم خان او تښتېدلي سرداران ئې هلته وه. هغوی ورسره قبايل جنګ ته او د خپلو ښځو دفاع ته تشويق کړل. دوی په جنګ سره د افغان او افشار پوځ د منګولو څخه ځانونه خلاص کړل او لیري سیمو ته وتښتېدل. کریم خان هم مقاومت ونسواى كولاى ښځي ئې د جنګ پر میدان پرېښوولې او خپله وتښتېد. وروسته له دې ماتي څخه زندیه او سرداران له هغو نورو قبايلو څخه بېل سول کوم چي په بروجرد کي ورسره یو ځاى سوي وه او کریم خان هم ورته خوشحاله وو. زندیه قبیله هم سره وپاشل سوه هر څوک یوې یا بلې خواته تيت سول. کریم خان او سکندر خان له نورو خپلوانو سره یوه لور ته ولاړل.

محمد خان، شېخ علي خان او نور خانان له خپلو ښځو او نورو خپلوانو سره د چمچال او هرسین خوا ته ولاړل، افغان پوځ په مېړانه د ډېرو غنیمتونو څښتنان سول، لکه څرنګه چي ئې د پري کلا څخه ډېر غنیمتونو ګټلي وو. دلته هم ډېر توکي او اسباب په لاس ورغلل، او له دې سببه چي بېله کوم جنګ څخه یې ډېر غنیمتونه لاس ته لوېدلي وه د تښتېدلو کسانو په تعقيبولو پسي ونه ګرځېدل.

کریم خان په دغه ژمي کي نه ښکاره کېدئ، ولي بیا هم په دغه حالت کي د ډېرو کړاونو په زغملو سره د پوځ په راټولولو بوخت وو. له بله پلوه آزادخان په شاهانه دبدبه او د ټولو شاهي نعمتونو په درلودلو د اصفهان پر شاهي تخت وخت تېراوه. آزاد خان د کریم خان د ځپلو له پاره عبدالله خان افغان خرم آباد ته واستاوه خو د زند پوځیانو هغه ته ماته ورکړه. آزاد خان د ۱۷۵۵ م تر پایه يعني دوه کاله د اصفهان پر شاهي تخت ناست وو.

## د آزاد خان دریېم ځل بری پر کریم خان زند

د ۱۱۶۷ هـ ق/ ۱۷۵۴م په پسرلي کي آزاد خان خپل تازه دمه پوځیان د تجهیزاتو او نسبتاً ډيري ذخيرې سره د فتح علي خان افشار په مشري د کریم خان سره جنګ ته

واستول، اما کریم خان چي لا تر اوسه يې توجه و تازه دمه پوځيانو ته وه او د پوځيانو په راټولو بوخت وو داځل هم د افغان ځواکونو په مقابل کې د جګړې توان په ځان کې ونه ليدئ او له ناچارۍ يې د کوهستانات په لور شاه تک وکړ او هلته ئې پنا يوړله. د **سيلاخور** د اطرافو په **دو ابه** سيمه کې چي د بروجرد څخه ډېره فاصله نه لري. کريم خان بيا يوازي پاته سو او آخري ورپاته ملګرو ئې د پيروۍ څخه لاس واخيست او دی يې يواځي پرېښود. هرڅوک د خپلي خوښي سره سم د خپل کور او وطن په لور ولاړل، کريم خان له ډير لږ پوځ سره پاته سو او د مالونو او ښځو د ساتني له پاره ئې يو سپک جنګ شروع کړ. اما د يادولو وړ ده چي افغان پوځ د ښځو مزاحمت ونکړ او هغوی ئې پرېښولې ترڅو د خپلو نارينو سره يو ځای و تښتي. دا د کريم خان دريم ځل تېښته وه چي دا ځل هم د کوهستانات په لور ولاړ، په دغه جګړه او تېښته کي افغان پوځيانو يو په يو جګړه هم وکړه. د کمرخان زند په نامه يو سپور پوځي چي په زنديانو کښي شهرت درلود ميدان ته راغئ او د يوه افغان سپاره سره ئې مقابله شروع کړه، څرنګه چي جان آر پيري امريکايي ليکوال ليکي:

"د افغان او زنديه ترمنځ په دغه يو په يو جنګ کي دواړو د يو بل خواته آسان وځغلول او د ګزارونو وروسته پر ځمکه راولوېدل دواړه مړه يا ګنګس سول". دغه يو په يو جنګ په ډيري مېړاني پای ته ورسېد او د ځينو ليکنو پر اساس دواړه افغان او زنديه جنګيالي په دغه جنګ کي مړه سول. د کمرخان وژني پر کريم خان ډېر تاثير وکړ او خپله ئې د جنګ ميدان ته ور ودانګل، اما د افغان جنګياليو سره د يوه لږ جنګ وروسته مات سو. د ځينو روايتونو پر اساس فتح علی خان افشار د ډله ايزي جګړې امر وکړ. په دغه اړه تاريخ داسي وايي: د افشار قبيلي خلک چي د نادر افشار له طرفدارانو څخه وه ټوله د آزاد خان خواته ورغلل او د افغانانو سره يو ځای يې د آزادخان د رهبرۍ او پاچاهۍ له پاره سر ښندنه کوله.


ددغه يو په يو جګړو په نتيجه کښي کريم خان ماته وخوړله، زنديانو د دښمن سره تر جګړې وروسته د چمچال په لور د لُرستان و غرونو ته عقب نشيني وکړه، آزادخان هغوی ډېر تعقيب نکړل. هغه له دې امله چي ده غوښتل خپل استازي او کار کوونکي د عراق

ښارونو او تر خپل واک لاندي نورو سیمو ته ولېږي او نه ئې غوښتل چي خپل وخت د کریم خان په تعقیبولو ضایع کړي. یو ایرانی لیکوال بیا لیکي چي د کریم خان د نه تعقیبولو علت دا وو چي افغانان او افشاریان د غنیمتونو په ټولولو لګیا سول.[37]

اما دا نظر سم نه معلومېږي ځکه چي افغانانو ډېر جنګي مهارت درلود او هیڅکله ئې خپل ټول ځواک د غنیمت په را ټولولو نه بوخت کاوه. نادر افشار د افغانانو د مهارتونو څخه د هند په نیولو کي استفاده وکړه او د نادر افشار دوستي د هغوی د مېړاني او مهارتونو پر اساس وه او هم دا سبب وو چي ایراني قزلباشانو وواژه.

آزاد خان له دغه بریا څخه درې ورځې وروسته د اصفهان په لور حرکت وکړ. د لاري د وهلو نه وروسته اصفهان ته ننووت، او د عراق د ټولو ښارونو (همدان، کرمانشاه، ری، اصفهان، او نور) ته ئې بري لیکونه ولیکل او د خپل ځان لخوا يې نمایندګان یا استازي وټاکل او هلته ئې ولېږل.

[37] جان ار، پیري. تاریخ ایران بین سالهای۱۷۴۷-۱۷۷۹م.(تهران:۱۳۶۵) ص:۸۰-۸۱




د آزاد خان تر واک لاندي سرحدونه ۱۷۵۳-۱۷۵۵ م

## د آزادخان د وژلو پلان او د قمشه جنګ

کله چي کريم خان د آزاد خان څخه په **دوآبه** کي چي د سيلاخور يوه سيمه ده ماته وخوړه د شېراز په لور يې د خپلو ښځو سره سفر پيل کړ. په لاره کي مختلفي زنديه ډلي، نور ډېر قبايل او درې سوه (۳۰۰) سپاره د کريم خان سره يو ځای سول. کريم خان موقع سمه وليده او بيائې د پوځ د چمتو کولو اراده وکړه. د هغه لومړی ارادې څخه چي غوښتل ئې شېراز ته ولاړ سي تېر سو او د شېراز سفر ئې لغو کړ. خپله کورنۍ او دوستان ئې په يوه خوندي ځای کي پرېښودل، خپله د پوځ په راټولولو بوخت سو او يو ځای به نه اوسېدی، يوه اندازه پوځيان ئې راټول کړل او هر چيرته چي به ئې افغان وليد حمله به يې پرې کوله او

واژه به يې.

دوې مياشتي ئې په صحراوو او غرونو کې تيرې کړلې او يو ګړی هم ارام نه کښېناست. د يوه اندازه لږ ځواکونو سره ئې ځان قُمشه ته ورساوه او د قُمشه خلک ئې په زور له ځانه سره يو کړل او د هغوی کلا ئې په خپل واک کې واخيسته. دغه خبر آزاد خان ته ورسېد آزاد خان فتح علي خان افشار د اته زره (۸۰۰۰) افغاني سپرو په مشرې قُمشه ته د کريم خان د نيولو له پاره واستاوه. په روايت کې داسې راغلي: "آزاد خان خپل د پوځ مشر فتح على خان افشار د افغان او افشار سپرو سره اصفهان څخه قُمشه ته استوی، هغه ځای ته په رسېدو سره کريم خان د درې زره (۳۰۰۰) پياده او سپرو ځواکونو په مټ پر هغوی حمله کوې. سکندر خان د کريم خان ورور له دوه سوه (۲۰۰) سپرو سره د جنګ ډګر ته ور ودانګل، له بل لورې فتح علي خان افشار هم د هغه په مقابل کې راووت او جنګ تود سو".

د آزاد خان د پوځ مشر فتح علي خان افشار د جګړې په شروع کې د چاپيريال سره د نابلدۍ له امله د سکندر خان څخه ماته وخوړه، او د پوځ ډېر کسان يې ووژل سول، آزاد خان چې له دغه واقعې څخه خبر سو ډېر ژر ئې چاره و سنجوله او خپله توجه هغې خواته واړوله.

آزاد خان د خپل يوې ډلې پوځيانو په ملګرتيا په شاهانه ډول او برم د اصفهان څخه راووت او د جنګ په کشمکش کې د قُمشه ښار ته ننووت، د ښي او کيڼ لاس پوځ ئې منظم کړ او د دښمن د پوځ زړه ته په ځانګړې دبدبې ودرېدئ.

کله چې اسکندر خان[38] د آزاد خان دبدبه وليدله، په بېړه کې سو او په وار خطايي سره ئې ځان کريم خان ته ورساوه او هغه ته ئې اوضاع بيان کړه، او د آزاد خان په مقابل کې ئې د ناتوانۍ عذر وکړ. اسکندر خان کريم خان ته وويل چې د آزادخان سره جګړه نسواى کولاى

[38] سکندر خان د کريم خان زند نا سکه ورور دي

خو له ځان سره يو پلان لرم.

سکندر خان کريم خان ته وويل:

"زه په يوازي تن د آزادخان پر پوځ حمله کوم که مي چيري آزادخان وواژه، د پوځ سره ئې بايد جنګ ته ادامه ورکړو، که چيري و نه توانېدم او ناکام سوم، د آزاد خان سره جنګ بايد ونه غځول سي".

سکندر خان د آزادخان د مهارتونو او رهبرۍ د وړتياوو څخه خبر وو او په دې پوهېدی که چيري آزاد خان نه وي پوځيان به ئې د جګړې توان ونلري. سکندر خان بيا هم کريم خان ته سپارښتنه وکړه او زياته ئې کړه: "که چيري آزادخان ونه وژل سو، ښه به دا وي چې د جنګ څخه لاس واخلې، ولاړ سې او که داسي پوځ جوړ کړي چي د انتقام اخيستلو وړتيا ولري، هغه وخت بايد د غچ اخيستل ونه ځنډوي". د خبرو د خلاصېدو وروسته يې د خپل آس زين ټينګ کړ پر آس سپور سو او نېزه په لاس خپل ځان ئې د آزادخان پوځ ته نژدې کړ. آزاد خان فکر وکړ چي دا به د کريم خان د سولې استازی وي، خپلو پوځيانو ته ئې امر وکړ چي لار ئې خوشي کړی. د افغاني خوی پر اساس ئې هغه ته ښه راغلاست ووايه او داسي فکر ئې کاوه چي دغه شخص به د دوستۍ په نيت راغلی وي، اما د آزادخان د پوځيانو د فکر بر عکس، کله چي سکندر خان آزادخان ته نژدې سو، حمله ئې پر وکړه خو نېزه يې د يو بل افغان پر سر چي آزاد خان ته نژدې وو ونښته او هغه افغان سپور پر ځمکه ولوېد او مړ سو. کله چي افغان پوځيان په دې پوه سول چي دغه شخص په بد نيت راغلی دئ اوغوښتل ئې چي آزاد خان ووژني اما نېزه ئې په غلطي کي د بل افغان پر سر ولګېده، نو ئې له څلورو خواوو څخه سکندرخان محاصره کړ او په نېزو او غشو ئې حمله پر وکړه. د بل راويت د مخه سکندر خان په نيم ژوانده حالت کي ځان کريم خان ته ورساوه، مګر دې روايت ته د ايرانيانو د مبالغې په سترګه کتل کيږي. ښه به داوي چي د لومړي روايت پاته برخه هم وويل سي. وايي کله چي سکندر خان ځان کريم خان ته ورساوه، مرګ يوازي دومره موقع ورکړه چي

د ليري څخه کريم خان ته ووايي چي ما د آزادخان په سپرو کي يو کس د آس څخه لاندي راوغورځاوه که چيري هغه آزادخان وي نو کار زموږ کار سم دی او که چيري بل څوک وي په جنګ کي مو ګټه نسته او چاره دي سنجوه. دغه خبري ئې وکړې د آس څخه را ولوېدئ او مړ سو.

د سکندر خان د مرګ آوازه د کريم خان د پوځ پر زړه د مردک د لګېدو په شان اثر وکړ. ټوله د آزاد خان د پوځ څخه په بېره کي سول او وتېښتېدل. کريم خان چي دغه حالت وليدئ د خپل ورور د مړي ښخولو وروسته د آزادخان د پوځ له بيري يې د خپل ورور پر خبره عمل وکړ او د ګندمان په لور وتښتېدی. داسي د سکندر خان د آزادخان د وژلو پلان عملي نه سو او د کريم خان له پاره ئې ګټه ونه کړه.[39]

جان آر پيري، هم د قُمشه جنګ ته اشاره کړې ده، هغه د قُمشه د جګړې علت بل څه بولي او ليکي چي: "کريم خان د اصفهان څخه له دې امله وتښتېدی چي آزاد خان د پَري کلا د کريم خان له کسانو څخه ونيوله. اوس چي آزاد خان په اصفهان کي حکومت کوي، خپل کسان د خوراکي موادو او د پوځ د مصارفاتو د برابرولو له پاره ليري سيمو ته استوي، ددغو سيمو څخه قُمشه چي يوه حاصل خېزه سيمه وه د آزادخان اوامر نه مني او آزاد خان هم په همدې سبب فتح علي خانافشار د يو څه لښکر سره هلته ولېږه".

د جان آر پيري له نظره کريم خان غوښتل چي آزاد خان سره د جګړې له پاره د شېراز شمال ته ولاړ سي اما کله چي د قُمشه خلکو د هغه هر کلی وکړ، نو کريم خان هم قُمشه خپله نظامي اډه وټاکله او ددغه اډې څخه يې کله ناکله د آزادخان د پوځيانو لار نيوله. هغه وو چي آزاد خان د کريم خان د ځپلو له پاره فتح علي خان افشار قُمشه ته ولېږئ او جګړه شروع سوله. همدارنګه جان آر پيری د قُمشه په اړه داسي ليکي: "کله چي د آزادخان پوځ هلته ورسېدئ دښمن تر دې اندازې پوري نا امېده وو چي سکندر خان د جګړې د شروع

[39] ابوالحسن، محمد امين، ګلستانه، مجمل التواريخ.( تهران: ابن سينا،۱۳۴۴،) ص: ۲۹۰.

څخه مخکې د آزادخان د وژلو اراده کړې وه او کریم خان د خپل ورور وړاندیز زړه نا زړه ومنی.″

جان آر پیري زیاتوي چې سکندر خان د افغان او افشار پوځ له منځه نا پېژندلی تېر سو. ځینو داسې فکر کاوه چې استازی دئ او د بخښنې غوښتلو له پاره راغلی دئ، ځکه ئې لار ورته پرانیستله. هغه د آزاد خان پر ځای په غلطۍ کې پر یو بل افسر د نېزې ګزار وکړ او وروسته د حملې یې شا وګرځوله چې وتښتي خو د آزادخان پوځیانو پر هغه د نېزو او غشو ګزارونو وکړل.

جان آر پیري زیاتوي چې هغه زخمي سوی وو، کله چې کریم خان ته ورسېد تر څو د پیښې تول بیان وکړي د کریم خان په پښو کې ولوېد او ساه ئې ورکړه. وروسته دا معلومه سوله چې سکندر خان په غلطۍ سره بل افسر وژلی دئ. دا ګړی د افغانانو د پرمختګ له پاره کوم خنډ وجود نه درلود. کریم خان د خپل ورور د مرګ څخه وروسته په ځان کې د مقاومت توان ونه ولیدی او د جنګ څخه یې د تېښتې لاره غوره کړه او د ګندمان د لارې یې سویل لوېدیځ لور ته مخ کړ او د **کیلویه** د سیمې په غرونو کې ئې پنا واخیستله.

جان آر پیري بیاهم لیکي:

سربېره پردې چې آزاد خان د هغو ځواکونو په اړه چې د بختیاري غرنیو سیمو ته تللي وه تشویش درلود، فتح علي خان افشار او شاهرخ خان افغان د خپلو پوځیانو سره د کریم خان په تعقیبولو لاس پوري کړ. کریم خان په ډېر مشکل سره د ځان دفاع وکړه او په دې و توانېد چې وتښتي. د کریم خان سره په دغه دفاعي جنګونو او کشمکش کې شاهرخ خان افغان، چې د آزاد خان د نامتو سردارانو څخه وو، په جنګ کې مړ سو. د شاهرخ خان مرګ ددې سبب سو چې فتح علیخان افشار په قهر سي او ډېر یو په یو جنګونه وکړي. ډېر

زندیان او د کریم خان پوځیانو ووژني او ګندمان څخه د اصفهان په لور ولاړسي.[40] خو نامي اصفهاني د کریم خان د ورور سکندر خان وژل په بل ډول بیانوي: "سکندر خان د کریم خان ناسکه ورور وو او د جنګ په میدان کې وژل سوی دئ او خپل ورور ته د پوره راپور ورکولو له پاره ژوندی نه دی پاته سوی".. د نامي د لیکنو څخه دا جوتیږي چې د سکندر په صفت کولو کښې یې د مبالغې څخه کار اخیستی دئ. له همدې امله ئې خبري د حقیقت څخه لیري دي اما دا ځنې جوتیږي چې سکندر خان د کریم خان امي ورور ( د مور لخوا ورور ) وو.

## د آزادخان د کرمانشاه د کلا د نیولو فکر

د کریم خان د پوځ دوه مشران شیخ علي خان او محمد خان زند چې په وار وار ئې د آزاد خان له لاسه ماتي خوړلي وې، د آزادخان بوختیاوو ته په کتو سره ئې آزادخان ته د مشکلاتو جوړولو په نیت د پوځ په چمتو کولو لاس پوري کړ چې پر آزاد خان پرله پسې حملې وکړې.

هغوی په همدې نیت د زهاب د سیمي په لور وتښتېدل او هلته ئې پناه یووړله. د وند، زنګنه او کلهر د قبیلو د مشرانو سره یې ولیدل او په دې باندي بریالي سول چې لس زره (۱۰۰۰۰) کسیز پوځ راټول کړي. هغوی هغه سیمي ته ننوتل کوم چې د زهاب د سرپل د سیمي په څنګ کې پرته وه. عبدالله خان چې د بغداد د پاچا له لوري د زهاب حاکم وو، د زندیه پوځ څخه ججه (باج) وغوښتله، اما محمد خان د ججې د ورکولو څخه ډډه وکړله. هغه د جاف د قبیلې او خپلي قبیلې څخه یو لښکر جوړ کړ تر څو خپلو موخو ته د نظامي لاري ورسیږي. د محمد خان زند له پاره یو بله ښه پېښه د ده سره د شقاقي کُردانو[41] یوځای کېدل وو. شقاقي کُردان د خراسان څخه تازه راغلي وه. په دې باندي زندیه پوځ نور هم قوي

[40] جان، ار پیري، تاریخ ایران بین سالهای ۱۷۴۷-۱۷۷۹ م.(تهران:- ۱۳۶۵)ص:۷۸-۷۹.

[41] شقاقي کردان د هغه کردانو څخه عبارت دي چې په اذربایجان کې اوسیږي او په مذهب کی شعیه دي.

سو، چې هدف پر آزادخان افغان باندې حمله ته یې په رسېدلو کې ور سره مرسته کوله. د شقاقي کُردانو کورنی چې په زهاب کی د محمد خان سره یو ځای سولې ویل کیږي چې د نادر افشار په وخت کې خراسان ته شړل سوي وې. په اول سر کې دوی غوښتل چی د آزاد خان د پوځ سره یو ځای سي اما د نامعلومو دلایلو له امله د زهاب لور ته وکوچېدل چې د زهاب د سرپل په سیمه کې په ناڅاپي ډول د کریم خان زند له استازو یعني شېخ علي خان او محمد خان زند سره مخامخ سول او د هغوی په پوځ کې داخل سول. د زهاب د حاکم عبدالله خان او محمد خان ترمنځ جنګ ونه سو ځکه چې د محمد خان زند په پوځ کې له مخکې د بې اتفاقي نښې لیدل کېدې.

د یادوني وړ ده چې آزاد خان څخه د کریم خان د اولې ماتې وروسته په پری کلا کې عبدالعلي خان عرب او محمد تقي خان چې د کرمانشاه د کلا پخواني قومندانان وه، زندیه نظامي اډه پرېښودله. عبدالعلي خان د آزاد خان سره ملګري سو او محمد تقي خان د کرمانشاه واکمن سو. دغه جریان د کتاب مخکې بیان سوی دئ، څرنګه چې موضوع د کرمانشاه بیا نیول دي لازمه ده چې هغه جریانونه دوباره او په مفصل ډول ذکر کړو.

د ګُلستانه د لیکنو څخه دا څرګندیږي چې د کریم خان د اول ځل ماتې څخه وروسته، عبدالعلي خان او میرزا محمد تقي خان د هغه پوځیانو سره چې د توپخانې په سرکې یې وو له خپل ځایه حرکت ونکړ او په همغه ځای کې پاته سول او یو کس ئې آزادخان ته ددې له پاره ولېږی چې د کریم خان سره د دوی د نه تللو خبر ورکړي. له دغه خبرتیا څخه آزادخان ډېر خوشحاله سو، او ویلي یې وه چې اوس د ماښام وخت رانژدې دی او پوځ هم د کریم خان په ماته خوړلي پوځ پسي تللی دئ، که دا سي نه وای زه په خپله د هغوی لیدلو ته ورتلم. اما آزادخان دغه وخت یوه پنځوس کسیزه ډله د یو افغان سردار په مشرئ د هغوی خواته ولېږله چې هغوی د افغان ځواکونو له حملې څخه وساتي او د خپلو کورنیو سره یو ځای خوندي او په امن کې واوسي. کله چې د شپې څخه یو ګړی تېر سوی وو او د آزادخان زړه د هر لوري ډاډه وو، د کریم خان خېمې ته ننوتی او د کریم خان دواړه سرداران عبدالعلي خان

او محمد تقي خان ئې خپل حضورته وروغوښتل، هغوی ئې په مهربانۍ سره ومنل له دوو ورځو د تېرېدو وروسته يې، عبدالعلي خان له ځان سره وګرځاوه او ميرزا محمد تقي خان ته ئې د کرمانشاه حکومت و سپاره او د خپل پوځ پنځه زره (۵۰۰۰) افغان سرتېري يې ورسره پرېښودل تر څو ساتنه ئې وکړي او د خبرو څخه ئې اطاعت وکړي.

مګر ميرزا محمد تقي خان دې ته حاضر نه سو چې افغان پوځيان هلته پاته سي، هغه له دې امله چې د کرمانشاه خلک به د افغانانو سره حسد او کينه وکړي او بالاخره به ئې په مقابل کې ودرېږي او ګډوډی به پيښه سي اما په مقابل کې ئې آزاد خان ته د خلکو د اطاعت کولو وعده ورکړه او دا هوکړه ئې ورسره وکړه که چيري خلکو له اوامرو غاړه غړوله آزادخان ته به خبر ورکوي او هر څه چې د آزاد خان رايه وي عملي کيږي به. د ګُلستانه نقل قول داسي دئ:

وروسته له دې څخه چې ميرزا محمد تقي د کرمانشاه د نايب الحکومه په حيث د مقررۍ فرمان د آزاد خان لخوا تر لاسه کړ پخپله آزادخان ته ورغئ او وېويل:

"ځرنګه چې دغه خيرخواه (ميرزا محمد تقي) د ځوانۍ څخه د پاچاهۍ په چارو کې حاضر وو او نادر افشار ته ئې لوی خدمتونو کړي دي لکه د همدان او کرمانشاهان حکومت، د عراق مستوفي الممالکي او په پای کې د ميرزا باشي وظيفه تر څو د عراق د ټولو حاکمانو څخه ماليه واخلي او د ارګ و خزانې ته ئې واچوي ، بنده ته د خانۍ خطاب ارزښت نه لري په هر کار چې ئې وګومارې هغه به تر سره کړي".[42]

آزادخان د محمد تقي خان د تقرير او بيان څخه چې د آزاد خان څخه به اطاعت کوي؛ هر کلی وکړ او ورته ئې وويل چې: «ما هرڅه تاسي ته د قانون سره سم ليکلي دي په هر څه چې تاسي ښه پوهېږی اختيار ئې لری». په دغه ډول محمد تقي خان د کرمانشاه د حکومت

[42] ابوالحسن، محمد امين، ګلستانه، مجمل التواريخ.( تهران: ابن سينا،۱۳۴۴،) ص: ۳۰۴.۳۰۷

اجازه واخیسته او د آزادخان څخه رخصت سو.

کله چي میرزا محمد تقي خان د ملازمانو او خپلو ملګرو سره کرمانشاه ته داخل سو، یوه اندازه د قبیلو مشران او مخور لکه مرتضي قلي خان زنګنه او نور د قومونو مشران د هغه لیدو ته ورغلل او د همدغه لیدني پر اساس د کرمانشاه خلکو اطاعت ته غاړه کښېښوده.

اما د زنګنه د قبیلې څخه دوو کسانو د آزادخان په اړه ښه نیت نه درلود او د موقع په انتظار وه تر څو آزادخان ته سرخوږی جوړ کړي. له هغه جملې څخه یو مرتضی قلی خان زنګنه وو چي دپلار او نیکه څخه د قوم مشري ورپاته وه او د خپل شوم فکر د عملي کولو له پاره ئې خپل د باور وړ کسان د وند قبیلې قومونو ته واستول او ډېر ژر ئې د وند په قبایلو کي ځان پټ کړ.

بل حیدرخان وو چي په "جامه بزرګي" باندي شهرت درلود. دی ډېر بد او شریر انسان وو، په پټه ئې د میرزا محمد تقي خان سره دښمني کوله او د کرمانشاه د یو څو مشرانو سره یې په پټه لیده کاته او خبري کولې او د خلکو رایه او نظر ئې د آزادخان له لوري خپل ځانته اړاوه.[43]

حیدر خان "جامه بزرګي" د محمد خان زند سره په ارتباط کي وو او ویل کیږي چي محمد خان زند حیدر خان لمساوه او ددغه فسادونو سبب سوی وو. محمد خان زند د کرمانشاه پر قومندانی باندي د حملې نیت درلود. د حیدر خان هم دغه ټکي ته ښه پام وو. محمد خان همدارنګه پر محمد تقي خان باندي د حملې اراده درلوده، دا هغه حیدر خان دی چي د زنګنه طایفې مشر وو. دی یو کال مخکي له یو څه بومي طایفو سره یو ځای، پر کرمانشاه باندي د حملې پر وخت، د علي مردان خان بختیاري او آزادخان سره یو ځای سوی وو خو

---

[43] همایون همایون ص:۳۰۶

ورو ورو يې ځان د جنګ د ميدان څخه ايستلی وو او خپلو غرنيو سيمو ته تښتېدلی وو. له دغه پيښې تر اوسه يو کال تېر سوی دئ. حيدر خان د محمد خان زند له اهدافو خبر وو او د هغه سره يې د آزادخان پر زد ملګرتوب کاوه.

آزاد خان پر کرمانشاه د خپل واک ساتلو له پاره محمد تقي خان د پنځه زره (۵۰۰۰) سپرو پوځيانو سره هلته ځای پر ځای کړ. له بل لوري حيدر خان هم پنځه دېرش زره (۳۵۰۰۰) نفره بومي او د نورو مختلفو قبيلو په ځانګړي ډول د لک قبيله او د کرمانشاه شاه وخوا خلک د ازادخان سره د مبارزې له پاره چمتو کړل. له همدې امله ميرزا محمد تقي د بيري په سبب د آزاد خان سره کړې وعده ماته کړه او د حيدر خان سره يو ځای سو. ددې کار په پايله کې ډېر خلک د غرونو، زهاب او حتی عراق په لور وکوچېدل، ډېر کورونه او مورچل وران سول د تک راتک لاري بندي سولې او زنګنه ځواکونه، چې د کوچېدو سره ئې علاقه نه لرله، مجبوره سول چې پر پوله باندي د محمد خان سره يو ځای سي.


حيدر خان زنګنه "جامه بزرګې" د محمد خان زند سره اړيکې درلودې؛ يو څه وخت وروسته يې ميرزا محمد تقي خان خپلي خېمې ته ور وغوښت او وې واژه مالونه ئې لوټ کړل خپلوان ئې ځني بوتلل او ورونه ئې له ځان سره بنديان کړل، خو د تقي خان ورونه په دې بريالي سول چې د زندان څخه د سرحد په لوري وتښتي. له دوو ورځو وروسته محمد خان زند او حيدر خان د کرمانشاه کلا ته ننووتل.[44] په دې ډول د کرمانشاه کلا د محمد خان زند او حيدر خان لاس ته ورغله.

---

[44] جان، ار پيري، تاريخ ايران بين سالهای ۱۷۴۷-۱۷۷۹م.(تهران:- ۱۳۶۵)ص:۸۲-۸۳

## د کمارج جنګ او د شېرازنیول ( ۱۷۵۴ م)

د کمارج کوتل د کازیرون د ښار د لاري پر سر واقع دی، کازیرون یو کوچنی ښار دی چي د شېراز لوېدیځ خوا ته په څلوېښت میله کي پروت دئ. د خِشت د مناطقو څخه شمېرل کیږي او خشت ته نژدې دئ. پخوا ئې تنګ تُرکان باله.




د کمارج کاروان سرای او کوتل

لکه څرنګه چي مخکي په تفصیل سره ذکر سول، کله چي د کریم خان وراوه رستم خان د قُمشه په جنګ کي ووژل سو نو خپله د کوه ګیلویه په لور و تښتېد او آزاد خان د هغه تعقیب کړ. کریم خان لږ څه وخت په کوه ګیلویه کي تېر کړ؛ او وروسته کازیرون ته ولاړ، او د تازه دمه ځواکونو په راټولولو بوخت سو چی پر آزاد خان حمله وکړي او اصفهان د آزاد خان څخه ونیسي. نو آزادخان هم د پارس په لور راووت. کله چي کریم خان په کازېرون کي خپلي موخي ته ونه رسېدی، نو د خشت په لوري ولاړ، آزادخان هم د شېراز په لوري حرکت

وکړ او ددې له پاره چې د کريم خان سره جنګ وکړي د خشت په لوري ولاړ چيرته چې کريم خان تللی وو.

مخکې ذکر سول چې کريم خان په کازېرون کې د ډېرو سختيو سره پوځ جوړ کړ تر څو شېراز ونيسي، مګر دغه هيله ئې تر سره نه سوه؛ ځکه چې په کال ۱۷۵۴م کې د اګست يا سنبلې په مياشت آزاد خان مخکې له دې چې شېراز ته داخل سي د هغه قبايلو د يو لړ مقاومت سره مخ سو چې د شېراز په اطرافو کې اوسېدل. دغو طايفو د دوه زره (۲۰۰۰) څخه ډېر پوځ نه درلود او د لَشنيانو په نامه بلل کېدلې. د عبدالمطلب په نامه يو شخص، چې د کربالی سيمې وو، د ذکر سوي پوځ مشري کوله، داچې دی د کربالی سيمې وو نو عبدالمطلب کربالي ئې باله. هغوی د آزاد خان په مقابل کې په مقاومت لاس پوري کړ خو ډېره سخته ماته ئې وخوړله او د مرو و دشت په لور وتښتېدل. عبدالمطلب کربالي د ماتې نه وروسته د کريم خان سره د يو ځای کېدو په نيت د سيمې څخه وتښتېد. دغه جګړه د لشنيانو لخوا شروع سوله، خو د ډيرو لړ تلفاتو په ورکولو سره آزاد خان وګټله، که څه هم د آزاد خان د پوځ په مقابل کې نور مقاومتونه هم منځ ته راغلل خو هغوی ټولو ماته وخوړله. د شېراز ښار آزاد خان افغان ونيوی او افغاني ځواکونه ئې هلته ځای پر ځای کړل.

کريم خان زند د نصيرخان لاري څخه د مرستي غوښتنه وکړه اما نصيرخان د هغه غوښتني ته جواب ورنکړ او مرستي ته ئې حاضر نسو. نصير خان د شروع څخه د هغه سره همکاري نه کوله؛ ځکه چې آزاد خان د بندرونو (د خليج پارس ساحلي ښارونه) حکومت ور منلی وو. نصيرخان په ښکاره ډول د آزاد خان اطاعت کاوه او د کريم خان په مقابل کې ئې بې پروايي ښودله. کريم خان هغه خپل تابع شمېرئ خو آزاد خان د عزت په سترګه ورته کتل نو له همدې امله د آزاد خان څخه راضي معلومېدی. نصيرخان لاري په ظاهره د آزاد خان اطاعت کاوه او تابع ئې وو، خو هيڅکله ئې ځان په قيد کې نه راوستی. آزاد خان ته به ئې ددې له پاره سوغاتونه ور استول چې ده ته ئې د بندري ښارونو واک ورکړی وو. په ضمن کې ئې د ځان له پاره پوځ جوړ کړی وو، توجه ئې د لُرستان خواته وه او نه ئې غوښتل چې هغې

خواته بل ځوک پر مختګ وکړي. مخکي یې یادونه وشوه چه آزاد خان د کریم خان سره د مبارزې له پاره کازیرون ته ولاړ. د ۱۷۵۴م کال د سپټمبر په میاشت کریم خان او متحد ځواکونه ئې چي ډېره برخه یې ښار مبشته خلکو او د دشتستان وګړو جوړوله، د آزاد خان په مقابل کي ماته وخوړله او دې ته اړ سول چي ښار پرېږدي او وتښتي. داځل کریم خان د خشت په لور و تښتېد او افغان ځواکونو هغه تعقیب کړ.

کریم خان د آزاد خان په مقابل کي د ډیرو ماتو خوړلو وروسته د خشت حاکم رستم خان ته ورغی، چي هغه د آزاد خان په مقابل کي د جګړې له پاره وهڅوی. د رستم خان له لوري د کریم خان د پوځ د مصارفو په غاړه اخیستل په خپله یو قوي لمسون او تشویق وه. ددې ترڅنګ میرزاعلي بېګ خورموجي د څلوېښت زره (۴۰۰۰۰) ټوپک لرونکو کسانو سره، او احمد شاه تنګستاني چي هغه ته ئې رئیس هم وایه د کریم خان سره یو ځای سول او د هغه ملاتړ ئې وکړ. په دې ډول کریم خان د هر ځلي نه زیات د آزاد خان په مقابل کي ځواکمن سو.

کریم خان له دې سببه چي د آزاد خان څخه ئې ډېري ماتي خوړلي وې خورا خواشینی وو؛ لکه څرنګه چي ځینو تاریخ لیکونکو په دې باره کي لیکلي دي:

"کریم خان د پر له پسې ماتو خوړلو او د پرې کلا د لاسه ورکولو په اثر د ور پېښ تشویش او خپلو بې ګټي هڅو ته په کتو سره ددې اراده درلوده چي یو وخت هندوستان ته ولاړسي او هلته د ایراني مهاجرو په منځ کي و اوسي."[45] یوازي د کریم خان د نوي متحدینو په ځانګړي ډول د رستم سلطان مرسته او په کلکه ملاتړ وو چي د کمارج په کوتل کي ئې د آزاد خان د وړاندي تلو مخنیوی وکړ. په دې ډول د کریم خان پرېشانی ورکه سوله او بلآخر د ایران د پاچاهۍ پر تخت کښېنستی. پر دغه ټولو مرستو سربېره کریم خان بیا هم ثبات نه درلود. د هغه وخت په پر تله چي اصفهان ئې دلاسه وتلی وو ډېر غمجن وو؛ ځکه په دغه

[45] جان ار پیري تاریخ ایران

ورځو کي مجبور وو چي پرله پسې وجنګیږي، اما د هرجنګ نه وروسته به ئې پر ماتو یوه بله اضافه کېده. اکثره وخت د کریم خان د خپلي ځاني سربښندني په مټ د کریم خان ځواکونو ته د تېښتي لار برابرېدله چي د آزادخان د ځواکونو د حملو څخه ځانونه وژغوري. د آزاد خان څخه د پرله پسې ماته خوړلو له امله کریم خان ته نور کومه هیله او امید پاته نه وو، د کریم خان له پاره په دغه وخت کي محمد خان زند د کرمانشاه او پارس تر منځ یو کوچنی امېد وو. څرنګه چي د کریم خان پوځ په ډېر حساس پړاو کښې وو نو ئې هغه ځای د تېښتي له پاره په نظر کي نیولی وو؛ که چیري ئې د خپل مقاومت آخري مورچل (کمارج) له لاس ورکړی وای کریم خان به بیا د آزاد خان پر ضد د پوځ د راټولولو او د ایران د مرکز د نیولو موقع له لاسه ورکړې وای. کریم خان په دغه کوتل کي علي مردان خان ته د ماتي ورکولو تجربه لرله، که چیري کریم خان هلته ماته خوړلې وای، آزاد خان به دې ته اړ ایستلی وای چي وتښتي او د خوزستان له غونډیو او زاګراس د غرونو له لمنو څخه چریکي حملې وکړي، په دغه ډول به یې د پوځ راټولو او د پایتخت نیولو له پاره ډېر لږ امید درلودلای. خلاصه داچي، دا جنګ د کریم خان د نویو متحدینو په تلاش او هڅه واقع سو او د افغان پوځ د پرمختګ مخ ئې ونیوی.

د کمارج د کوتل لار د انسانانو د تګ راتګ له پاره تر ټولو سخته لار وه. د کمارج کوتل دوه میله اوږدوالی درلود، په ډېرو ځایو کي ئې په بره سره دومره ځای درلود چي په یوه وخت کي یو سړی تر تېرېدلای سوای. ددغه تنګي لاري شاوخوا هم جګو غرونو او لویو پرښو (سنګلاخونو) نیولې وه، ددغه طبیعي مشکلاتو سر بېره د رستم سلطان له لوري داسي یو جنګي پلان جوړ سوی وو چي له هغه ځایه تېرېدل ئې ناشونی کړی وه. رستم سلطان خپل ټوپک لرونکي خِشتي جنګیالي د کوتل د غاړي د یوه سره تر بل سره د غټو پرښو شاته پټ کړي وه چي که افغان سپاره هلته ورسي. د کریم خان ځواکونه به له خپلو پُټ ځایونو څخه حملې پر وکړي. فتح علي خان افشار چي د آزاد خان له غټو متحدینو څخه وو نابېره او مستقیماً پر دغه کوتل حمله وکړه او خپل ځان ئې د دښمن په دام کي واچاوه. ټول ځواکونه

ئې په يو وار سره د دښمن تر ډزو لاندې راغلل، که څه هم هغوی مقاومت وکړ او د مقابل طرف يو څو کسان ئې ووژل، مګر بيا يې هم ماته وخوړله ولې چې د کوتل ستراتيژيک موقعيت له دښمن په لاس کې وو. په پايله کې هغه کسانو چې د پوځ په مخ کې وه شا ته زور وکړ او هغه چې د پوځ شاته وه د مرستې له پاره مخ ته د راتلو کوښښ وکړ. په دې ډول د پوځ نظم ګډوډ سو. کوم کسان چې ددې تنګي او مرګوني لارې څخه و هوارې دښتې په تېښته وو او و نه توانېدل د کريم خان د پوځ لخوا ووژل سول. د خشتي قوم قومندانانو په دغه جګړه کښې ځلانده برخه درلوده، ددې جګړې نقشه هغوی د سيمې څخه په پوره خبرتيا جوړه کړې وه.

د فتح علي خان د نابرې او ناڅاپي حملې له امله د جګړې لوری د افغان ځواکونو پر ضد واوښت، ددې جنګ په پايله کې ويلای سو، که چيرې د کريم خان د نوې متحدينو (رستم سلطان او ميرزا علي بېګ) ټينګار او استقامت نه وای، د کريم خان هغه خيال به رښتيا سوی وای چې هند ته ولاړ سي او د ايراني مهاجرو په منځ کې ژوند وکړي او نور د ايران نوم پر ژبه را نه وړي. موسوی نامي د کمارج کوتل د هغه سختيو په باره کې ليکلي دي چې د آزاد خان د پوځ د ماتې سبب سولې.

موسوي نامي په دې اند دی چې آزاد خان د کمارج په کوتل کښې د کريم خان څخه پدې ماته وخوړله چې د خشت په سيمه کې د کمارج د کوتل لار د غرونو او ګارو څخه ډکه وه. سربېره پردې دده د ليکونو څخه دا سرګندېږي چې د کريم خان نوی و متحدينو هم په دغه جګړه کې معلوم او مهم کردار درلود لکه هغه څلور زره (۴۰۰۰) د شتستاني ټوپک لرونکي. ويلای سو د کمارج په جنګ کښې کريم خان د رستم سلطان په مټ بريالی سو. آزاد خان د شېراز په لور و خوځېد او د هغه مصلحتونو پر اساس چې ده سنجولې وه په شېراز کې تم نه سو او صالح خان بيات يې د خپل ځای ناستي په حيث د شېراز په حکومت وګوماره. صالح خان بيات په دې ونه توانېد چې د ښار څخه د هغه زنديه پوځيانو په مقابل کې چې د کمارج د جنګ څخه راګرځېدلي وه دفاع وکړي. د کريم خان عسکرو د شېراز ښار د سيل په شان

محاصره کړ او په پای کې د ښار په نیولو بریالي سول. دا په خپل ذات کې د کریم خان له پاره ستره بریا وه. کله چې د شیراز ښار خلکو او مشرانو ولیدل په دې جنګ کښې برې د کریم خان په برخه دئ نو د ښار څخه د کریم خان د قوماندې مرکز حافظیه ته ولاړل. د شیراز د مخورو له جملې څخه میرزا محمد تقي، چې په اول کې یې پر کریم خان باور نه درلود، د کریم خان څخه د خلکو سره د ښه سلوک د وعدې په اخیستلو هغه ته د ښار د تسلیمېدو وعده ورکړه. په شیراز کې دوې طایفې، بیات او لشنیان تر ټولو ځواکمن ګڼل کېدل، هادي خان لشني د ارګ د ساتندویانو په نامه د یوې ډلې مشري کوله او د هغه وعدې پر اساس چې دوی کریم خان ته ورکړې وه داسي یوه نقشه یې جوړه کړې وه چې د ښار دروازه به پرانیستې پرېږدي تر څو مخکي له دې چې آزاد خان خبر سي ښار د کریم خان په لاس ورسي. په دې ډول ئې دروازه پرانیستې پرېښودله او د ۱۱۶۷ هـ ق کال د صفري د میاشتي په دیارلسمه چې د

۱۷۵۴م میلادی کال سره سمون خوري صالح خان بیات ووژل سو او ښار د کریم خان لاس ته ولوېد.

د شیراز کلا

کاظم موسوی وايي: «آزاد خان بېرته شېراز ته وګرځېد او هلته ئې صالح خان بیات خپل ځای ناستی وټاکه او دی په خپله په ۱۱۶۷هـ ق/۱۷۵۴م د اصفهان په لور و خوځېد. کریم خان شېراز ته راغئ د صالح خان بیات سره د سختي جګړې وروسته ئې ښار ونیوی. په دغه



اړو دوړ کي صالح خان ووژل سو».[46]

[46] کاظم موسوی ، دائرة المعارف بزرگ اسلامی ( تهران : مرکز دائرة المعارف بزرگ اسلامی ، ۱۳۶۹) جلد ۱، ص: ۳۲۲، س : ۲

د کاظم موسوي د ليکنو څخه دا څرګنديږي چي شيراز د ډيرو سختو جنګونو وروسته د کريم خان لاس ته ولويدی، د نامي اصفهاني د ليکنو خلاف چي وايي د شيراز ښار د جنګ په سر کي په ډيره آسانۍ سره د کريم خان لاس ته ولويد.

"...د جنګ په سر کي هغه لکه آسمان جګه کلا کريم خان ته په لاس ورغله. د صالح خان کار ژر خراب سو ، او د شاه ميرعلی حمزه په حدودو کي شيخ علی خان د لاس په لکړه وواژه او د شيراز ښکلی ښار يې ونيوی."([47])

## اصفهان څرنګه د آزاد خان له لاسه ووت

د ۱۷۵۴م کال د نوامبر په نه ويشمه کريم خان شيراز ونيوی، او دغه ژمي کي يې د پريشانۍ په حالت د ښار په کابو کولو لاس پوري کړ. ځکه لا تر اوسه په اصفهان کي د آزاد خان پلويان موجود وه او کريم خان حکومت ته هر ګړی تهديد او ګواښ شميرل کيدل. د شيراز خلک هم زړه نازړه ليدل کيدل او په دې باندي ئې باور نه راتلی چي د کريم خان حکومت به ټينګ سي. د همدغه وضعيت سره سم آزاد خان افغان په اصفهان کي د ځواکونو په راټولو بوخت وو او تازه دمه ځواکونه يې د شيراز د بيرته نيولو له پاره آماده کړي وه او دې ته منتظر وو چي د ژمي موسم تير سي او د جنګ موسم په پسرلي کي راورسيږي. د کريم خان د ځواکونو سرېيره د محمد حسن خان قاجار ځواکونه هم د شا لخوا آزاد خان ته جدي ګواښ وو؛ ځکه چي محمد حسن خان قاجار په دغه ورځو کي د شاه اسماعيل ثاني ملګرتيا کوله او هميشه به ئې آزادخان د شا لخوا تهديد کاوه. په يوه حساب افغاني ځواکونه په دغه وخت کي دوه ځايه په جنګ بوخت ول. آزادخان په شيراز او اصفهان کي د زند ځواکونو سره په جنګ مصروف وو له بل پلوه د زند ځواکونو يوه ډله د محمد خان په مشرۍ د آزاد خان د پوځ سره چي فتح علي خان افشار ئې مشري کوله په همدان کي په

---

[47]) موسوی نامي اصفهاني، محمد صادق. تاريخ ګيتی ګشاء در خاندان زند.(تهران: انتشارات امير کبير، ۱۳۶۳) صفحه:۴۶

جنګ شروع وکړه. همدارنګه د ۱۷۵۵م کال د جنوري (دلو) د میاشت په پای کي احمدشاه بابا تر نیشاپور پوري پر مختګ وکړ. نو پدې ډول آزاد خان له څو اړخونو څخه د دښمن تر فشار لاندي وو په خاص ډول بیا د شا لخوا د دښمن له جدي ګواښ سره مخ وو نو د ناچارۍ څخه یې د استرآباد په لور شا تګ وکړ.

آزادخان سربېره پردې چي له څو اړخونو د زند او حسن خان قاجار تر حملو لاندي وو د احمدشاه بابا حرکت هم هغه تهدید کاوه، لیکن بیا هم د ۱۷۵۵م کال تر دوبي پوري یې پر اصفهان خپل واک وساته چي د اټکل له مخي د آذربایجان تازه دمه ځواکونه ورسره یو ځای سوي دي او ځواکونه یې نور هم ډېر سوي دي. مګر ناڅاپه ئې اصفهان پرېښود. دلته دا سوال پیدا کیږي چي آیا آزاد خان اصفهان ددې له پاره پرېښود چي پر شېراز حمله وکړي او یائې د کوم بل علت له مخي دا کار وکړ. د یوه روایت پر اساس د آزاد خان څخه د مرستي غوښتنه وسوه چي شېراز ته ولاړسي، لیکن دی خپله هلته نه ځي او خپل پر ځای فتح علي خان افشار د دولس زره (۱۲۰۰۰) جنګیالیو سره مخکي له مخي هلته لېږی. ازاد خان یوازي له ځانه سره شل زره (۲۰۰۰۰) پوځ درلود. بالاخره آزادخان د ۱۷۵۵م کال د نوامبر (قوس) په دیارلسمه د خپل ټول پوځ سره یو ځای د اصفهان څخه ووت. د جان آر پیري د لیکني پر اساس د آزادخان د پوځ شمېر په دغه وخت کي د اوه څلوېښت زره (۴۷۰۰۰) په شاه وخوا کي اټکل سوی دئ.

جان آر پیري زیاتوي او لیکي:

"آزاد خان مخکي له دې چي له اصفهان حرکت وکړی د جلفا د ارمنیانو څخه شل زره (۲۰۰۰۰) تومنه واخیستل خو د خپل فرانسوي طبیب په منځګړیتوب ئې د اروپایانو څخه هیڅ وانه اخیستل". دا طبیب چي نوم ئې سیور سیمون (Sieur Simon) وو د فرانسې پټ جاسوس وو، او په دې اخیري وختو کي اصفهان ته راغلی وو. په طبابت کي ئې د مهارت درلودلو او یو ځل یې د آزاد خان ژوند ژغورلی وو. جان آر پري وایي چي ذکر سوی مبلغ د

جلفا د خلکو څخه نه دی اخیستل سوي. د فرانسوي طبیب[48]منځګړیتوب هم په سرچینو کې واضح او ښکاره نه دی څرنګه چې آزاد خان په ایران کې د مطلقه سلطنت خاوند وو او د افغاني او ایراني شاهانو خزانه ئې په لاس کې وه نو و هغو پیسو ته یې ضرورت نه درلود.

بل نظر دادی چې آزاد خان شېراز ته ددې له پاره حرکت و نه کړ چې کاشان ته ئې د تلو اراده درلوده. ځکه هلته فتح علي خان افشار چې د آزادخان متحد وو د زند او قاجار پوځ تر برید لاندي راغلی وو نو له همدې سببه ئې د کاشان په لور حرکت وکړ. کریم خان دغه وخت پر کرمان برید کړی وو څرنګه چې یې کاشان ته د آزاد خان د تلو واورېدل د څلور ورځني مزل نه وروسته ئې په ناڅاپي ډول خپل د حرکت لوری د اصفهان خواته واړاوه. آزادخان خپل ټول پوځونه د کاشان په لوري خوځولي وه اما یوه اندازه ډېر لږ پوځیان ئې په اصفهان کې پرې ایښي وه. نو کریم خان موقع مناسبه ولیده او خپل ډېره برخه پوځ ئې د اصفهان په لور وخوځاوه، د یوه روایت پر اساس په اصفهان کې د آزاد خان د پاته پوځیانو شمېر تر درې سوه (۳۰۰) کسانو ډېر نه وو. دغه کسانو هم د آزادخان سره خیانت وکړ او په پټه ئې اصفهان و کریم خان ته تسلیم کړ.

په دغه ډول د ۱۷۵۵م کال د دسمبر په نهمه او لسمه د جدي د آزاد خان د تګ څخه یوه میاشته وروسته اصفهان بېله کوم مقاومت څخه د کریم لاس ته ورغئ. کریم خان هم د دوو ورځو له پاره هلته پاته سو او په دغه دوو ورځو کې دومره موقع په لاس ورغله چې د ښار د خلکو څخه اته ویشت کسان د افغانانو سره د همکارئ په تور اعدام کړي. وروسته له دې د آزادخان په تعقیبولو پسې ووت. په همدغه وخت کې چې کریم خان اصفهان په نیولو بوخت وو ، د آزاد خان ځواکونه په تهران کې وه، د آزاد خان د نه موجودیت تشه په سیمه کې د دوو رقیبو ډلو ځانګړې توجه جلب کړې وه. دې ډلو د آزاد خان په نه موجودیت کې هر یوه ځان ډېر لوی قدرت باله. آزاد خان مخکې د ۱۷۵۶م کال د شروع څخه اُرومیه ته حرکت

---

48 جان، ار پیري، تاریخ ایران بین سالهای ۱۷۴۷-۱۷۷۹م.(تهران:- ۱۳۶۵)ص:۸۹

وکړ تر څو د محمد حسن خان د برید په مقابل کي د اُرومیې څخه دفاع وکړي.

د مجمل التواریخ لیکوال، ابوالحسن محمد امین گلستانه، په لاندی دول روایت کوی:

" آزاد خان د ماتي خوړلي پوځ سره اصفهان ته ستون سو (مقصد د کمارج د جگړې څخه په شیراز کي) او د خیمو په درولو او د جنگ د وسایلو په چمتو کولو مشغول سو. په دغه وخت کي خبر سو چي محمد حسن خان قاجار د آذربایجان په لور د اُرومیه د نیولو په نیت حرکت کړی دئ. د اُرومیه په کلا کي د آزادخان حَرم، ښځي، افغان مشران او د آزادخان ځواکونه اوسېدل. آزادخان د دې خبر په اورېدو سره بې اختیاره خپل لښکر د محمد حسن خان د مخنیوي لپاره د اُرومیې په لور و خوځاوه. د ارومیې کلا ته نژدې دا معلومه سوه چي محمد حسن خان د کلا د محاصرې کولو په حالت کي دی، افغان پوځ ته د صبر کولو وخت پاته نه وو او جنگ یې پیل کړ او د قاجار د لښکرو سره مخ سول. وروسته له یوې خونړې جگړې محمد حسن خان بری وموند او افغان پوځ ماته و خوړله". [49]

د افسوس ځای دادی چي ددې ماتي وروسته د آزادخان دوستان او پلویان لکه فتح علي خان افشار، شهباز خان دنبلی او د آذربایجان نور مشران د محمد حسن خان قاجار خدمت ته ورغلل او د هغه خدمت کولو ته ئې غاړه کښېښودله، اما آزاد خان دیوې غټي تولۍ سره د بغداد په لور حرکت وکړ. په دې ډول د صفوي او افغان هوتک شاهانو مرکز یو ځل بیا سقوط وکړ او هغه چا چی د هوتکیانو د افتخار ډکه دوره بیا را ژوندۍ کوله د خپلو پوځیانو د خیانت له امله ماته وخوړله.

هر هغه څه چي تر دې ځایه د آزادخان او دښمنانو په باره کي بیان سول یوه بله خبره هم واضح کوي هغه داچي د زند او قاجار پوځونو دا جرأت نه درلود دافغان ځواکونو سره د جنگ په میدان کي مخامخ سي ولي چي افغانان په جگړو کي ډېر لږ له ماتي سره مخ سوي وو.

---

[49] ابوالحسن، محمد امین، گلستانه، مجمل التواریخ.(تهران: ابن سینا،۱۳۴۴،) ص: ۳۱۶

## کریم خان زند او احمدشاه دُراني

جان آر پیري امریکایي لیکوال د خپل کتاب کریم خان زند د درېیم فصل په ۲۰۶ صفحه کي لیکي:

"دُراني پاچا (احمد شاه بابا) د کریم خان سره د دوستۍ داسي تړون امضا کړ چي د هغه له مخه به دغه دوه ځواکمن شخصیتونه د نادر افشار د وخت امپراتوري پخپلو مینځو کي سره تقسیم او وېشي. ددغه معاهدې پر اساس دواړو دا ومنل چي د افغانستان او ایران د خاوري ترمنځ به د خراسان سیمه حایل (Buffer) وي"

بیا هم جان آر پیري د تُرکیې د ثبت سوو اسنادو ( Foreign, Turkey State Paper, Series) پر اساس راوړي «د راپورونو پر اساس کریم خان ته د احمد شاه بابا له لوري دوستانه لیکونه راتلل، هغه وخت چي احمد شاه په نیشاپور کي وو. هغه کریم خان د ګډو عملیاتو له پاره، د دې (آزادخان ته په ناوله الفاظ خطاب کول) پر ضد، تشویقوی او وعده ورکوي که چیري د هغه (احمد شاه دراني) سره د ایران په نیولو کي مرسته وکړي هغه ته به پوځ او پیسې ورکړي. د احمد شاه دراني ددغه پیغامونو په جواب کي کریم خان دوستانه جوابونه ورکول خو بېله کومي وعدې.[50] »

په دغه وخت کي یعني د ۱۷۵۴م،۱۷۵۵م کلونو تر منځ د خراسان ایالت د افغانستان د دُرانیانو د امپراتورۍ لخوا اداره کېده او د لُت او کافر دښتونو د دُرانیانو د امپراتورۍ او آزادخان تر واک لاندي سیمو طبیعي سرحدونه جوړکړي وه. د آزادخان سیمي د ایران د غرب څخه بیا تر آذربایجان او کُردستان پوري رسیدلې. په یاد سوي کلونو کي دا آوازې ډېري تودې وې چي احمد شاه دُرانی به د ایران پر لوېدیځ باندي حمله وکړي. د کره تاریخي اسنادو له مخي احمدشاه بابا د ۱۷۵۵م په پسرلي کي نیشاپور ته متوجه کیږي او د هغه کال په دوبي

[50] جان ر پیری: کریم خان زند. د ایران تاریخ ۱۷۴۷-۱۷۷۹ ص ۲۰۶ړ

کي د مشهد ښار محاصره کوي. پنځه میاشتي وروسته د مشهد ښار سقوط کوي او شاهرخ او امیران ئې احمدشاه دُرانی ته تسلیمیږي. د ۱۷۵۵م په پسرلي کي نیشاپور نیسي او شاهرخ د خپل لاس پوڅي په حیث په مشهد کي حاکموي. د غرب څخه د بیرته تلو په لار کي احمدشاه بابا خپل یوه ډله پوځیان د شاه پسند خان اساګزي په مشري د هغه تښتېدلو ابدالیه خلکو د نیولو له پاره وګمارل کوم چي د نیشاپور څخه د سبزوار په لور تښتېدلي وه. دغه ډله افغان پوځیان چي تعداد ئې څو سوو ته رسیده په ناڅاپي ډول د محمد حسن قاجار له منظم پوځ سره مخ سوه او سخت وځپل سوه. همدا علت وو چي احمد شاه دُرانی داسي پرېکړه کوي چي نور به د ایران لوېدیځ لوري ته د پرمختګ څخه تېریږي او د ۱۷۵۵م کال په مني کي یې امیرخان قرایي د خپل لاس پوڅي په حیث په خراسان کي وګوماری او دی خپله د هرات له لاري د کندهار خواته وخوځېدئ.

دا ډېره ناشونې ده چي احمدشاه بابا د اصفهان په لور د تګ او د اصفهان د نیولو اراده کړې وي؛ ځکه چي احمد شاه بابا په دې پوره پوه وو چي آزاد خان په هغه وخت کي په اصفهان او شېراز کي وو او ځان ئې د ایران پاچا اعلان کړی وو. د احمد شاه بابا د امپراتورۍ اخیري غربي سرحدونه خراسان (نیشاپور او سبزوار) وه چي د افغانستان او ایران تر منځ ئې طبیعي پوله هم جوړه کړې وه.





د احمد شاه دُرانی او آزادخان افغان تر واک لاندي سیمي

۱۷۵۳-۱۷۵۵ م

# څلورم څپرکی

## آزادخان افغان او محمد حسن خان قاجار



محمد حسن خان قاجار

### د محمد حسن خان قاجار لنډه پېژندنه

د ایران د تاج او تخت یو بل مدعي او غوښتونکی محمد حسن خان قاجار وو. محمد حسن قاجار د قاجاریانو د سلسلې د مشرانو له جملې څخه شمېرل کېدی، پلار ئې نادرافشار وژلی وو، محمد حسن خان قاجار ددې موقع په انتظار وو چې د خپل پلار د لاسه تللی مقام بیا راژوندی کړي؛ ځکه چې پلار ئې د خپل قوم مشر وو. د نادر افشار

وژل کېدلو، محمد حسن خان قاجار خپلي پخوانۍ هیلي ته نژدې کړی وو، خپلي هیلي ته د رسیدو په لار کي یې یوازنی خنډ آزادخان په نظر ورتلی. موږ دلته دغه موضوع تر څېړني لاندي نیولې ده او په شروع کي به دی معرفي کړو.

محمد حسن قاجار د فتح علي خان قاجار زوی دی. پلار یې، په ۱۷۲۶م، ۱۱۳۹هـ کال، نادر افشار د مشهد د ښار د باندي وواژه. محمد حسن خان د خپل پلار د وژل کېدو په وخت کي ۲۲ کلن وو او د ترکمنانو سره اوسېدی وروسته د علي شاه (د ابراهیم شاه ورور چي په خراسان کي ئې سلطنت کاوه او د دولت سره یو ځای سو او دحکومت پر کار وګمارل سو. هلته له یو څه وخت تېرولو یې، د یوه کوچني علت له امله، د علي شاه سره اختلاف پیدا سو او یو سهار بېله دې چي علي شاه ته خبر ورکړي د خپلو ملګرو سره یو ځای د خپل وطن په لور په تېښته ولاړ.[51]

د آزادخان مبارزه د محمدحسن خان سره په کال ۱۱۶۸ هـ ق، ۱۷۵۴ م پیل سوه. ددې د مخه دی د علي شاه او کریم خان زند سره په جنګ بوخت وو. په کال ۱۱۶۵هـ ۱۷۵۱م کله چي کریم خان له آزادخان افغان په شېراز کي جنګ کاوه، محمد حسن خان له حاج جمال فومني سره چي د ګیلان مشر او حمکران وو، جنګ وکړ او مات یې کړ خو وروسته یې د ګیلان حکومت بیرته حاج جمال ته ورکړ. په ۱۱۶۶هـ ۱۷۵۲م کریم خان له محمد حسن خان قاجار سره په استراباد کي جنک وکړ. په دغه وخت کي کریم خان زند غوښتل مازنداران او استراباد ونیسي نو د قزوین او ګیلان له لاري مازنداران ته ولاړ او محمد حسن خان له ما زنداران څخه استراباد ته راغی، کریم خان په حسن خان پسي استرآباد ته ولاړ او محاصره یې کړ.

همدلته وو چي ګاونډیتوب اغېز وکړ. ترکمن قبیلې له قاجاري قبیلې سره د نژدې والي

---

[51] ابوالحسن، محمد امین، ګلستانه، مجمل التواریخ.( تهران: ابن سینا،۱۳۴۴،) ص: ۴۶۹

له امله له نوموړي قبيلې سره مرسته وکړه. استراباد ته راغلل او د کريم خان اردو ئې دړې وړې کړه. په پايله کې کريم خان ماتې وخوړه او د تهران خواته ولاړ او محمد حسن خان مازندران ته متوجه سو.

د نادر افشار په ژوند کې محمد حسن خان قاجار د دغسې نوم او نښان څښتن نه وو لکه وروسته چې ئې کوم شهرت لاس ته راووړ. ډېر وخت به په پټه ګرځېدی، د نادر افشار مرګ د هغه د برې له پاره يوه وړوکې دروازه پرانيستله، په شروع کې ئې د احمدشاه ابدالي سره مخالفت شروع کړ خو په کال ۱۷۵۵م کې ئې په خراسان کې ماته وخوړله.

## د آزادخان مبارزې د محمد حسن خان قاجارسره ۱۱۶۸/۱۷۵۴هـ

په کال۱۷۵۴م/۱۱۶۸هـ ګيلان د آزادخان افغان په ولکه کې وو. عبدالعلي خان خراساني او خانچې خان افغان د آزاد خان له لوري د ګيلان د پولو په ساتلو باندې ګمارل سوی وو. په دغه وخت کې محمد حسن خان قاجار د اوه زره (۷۰۰۰) پوځ سره پر عبدالعلي خان او خانچې خان افغان بريد وکړ او د آزادخان پوځيان ئې په ډېره اندازه قتل او يا بنديان کړل. عبدالعلي خان او خانچې خان افغان د رشت په لوري تېښته وکړه. په دغه ډول د آزادخان افغان او محمد حسن خان تر منځ جنګونه شروع سول.[52]

## اُروميه د آزادخان اومحمد حسن خان د جګړوپه لمبوکښې

څرنګه چې مخکې ذکر سول محمد حسن خان قاجار په ۱۷۵۴م/۱۱۶۸هـ په ګيلان کې د ازادخان پر ګمارل سوو کسانو بريالی سو. وروسته د آذربايجان د نيولو په فکر کې سو. نو

[52] ابوالحسن بن محمد امين ګلستانه، مجمل التواريخ.( تهران: ابن سينا،۱۳۴۴،) ص: ۴۷۱

په همدې اساس په کال ۱۷۵۵م/۱۱۶۹هـ کې اُرومیه ته د طالش او مغان له لارې متوجه سو.

حسن خان په مغان کې کاظم خان قراچه داغی پل لورې ته جلب کړ او دواړه یو ځای د تبریز په لور وخوځېدل. محمد حسن خان، کاظم خان قراچه داغی ته د هغه ټول مال، اسباب او کورنۍ د یو ځای کېدلو په شکرانه وسپارل او د اولس زره (۱۷۰۰۰) پوځ سره د اُرومیه په لور وخوځېد او ښار ئې محاصره کړ. دا خبر آزادخان ته په داسې وخت ورسېد چې په اصفهان کې وو. حسن خان مخکې له دې چې ګیلان ته ولاړ سې دغه سیمې ته توجه اړولې وه، آزادخان د محاصرې د خبر سره سم خپل پوځ ورغوښت او د ۱۷۵۵م کال د اپریل د میاشتې په پنځلسمه نېټه یې چې ۱۱۳۴هـ ش د ثور د میاشتې د شپږمې نېټې سره سمون خوري د اصفهان څخه حرکت وکړ او د غه وو چې یوه لویه جګړه ئې پیل کړه.

حسن خان قاجار چې د آزاد خان د راتلو واورېدل بېره ئې ډېره سوله که څه هم د خپل اَردلاني ملګرو په لمسون یې د اُرومیه په محاصره لاس پورې کړی وو. د مجبورۍ له مخې ئې خپل جنګي پلان ته بدلون ورکړ، په داسې ډول چې څلور زره (۴۰۰۰) کسان ئې د اُورمیه کلا محاصرې د ادامې له پاره پرېښوول او خپله د آزادخان د مخنیوي له پاره د جون د میاشتې په نیمايي (سرطان) کې د آزادخان د لښکر په لور وخوځېد او د اُرومیه څخه شپږ فرسنګه لیرې هغوی ته ورسېدی. په دغه جګړه کې مختلفو قومونو د محمد حسن خان قاجار ملګرتیا کوله، لکه بغایري قاجار او خلاجي قومونه. محمد حسن خان د جنګ میدان د آزادخان په مقابل کې په خاص ډول چمتو کړی وو. د جبهې په ښی خوا کې قاجاري خان او ورسره بغایري متحدان عباس او علي قلي خان هر یوه د زرو پیاده او سپرو سره قرار درلود. د لارې مسیر ئې علي خان خلجي ته سپارلی وو، او اوه زره (۷۰۰۰) نورو کسانو د محمد ولي خان قاجار په مشرۍ له دغه ځواکو ملاتړ کاوه. ده خپله د خپلو خاصو غلامانو (لشکریان) سره د جنګ په کرښه کې پر یوې لوړې غونډۍ ځای ونیوی. ددوی په مقابل کې آزادخان هم په خاص ډول سره خپل پوځ ترتیب کړی وو، په شروع کې هر چا چې د جنګ

حالت ته کتل دابه ئې ویل چې برى د آزادخان دئ، د پوځ نظم ئې په داسي وو: د پوځ په ښي خوا کي فتح علي خان افشار د خپلو آذربایجاني پوځیانو سره قرار درلود. همدارنګه د پوځ په کیڼ اړخ کي قلندر خان افغان د خپلي ازبک او افغان ډلي سره په مورچل کي ناست وو. داسي ښکارېده چې حسن خان قاجار په ډېر ژر میدان پرېږدي ماته به خوري او آزادخان به برى ومومي. د آزادخان پوځیان په ډېره دلاورۍ سره د جنګ میدان ته داخل سول، د محمد حسنخان پوځ د هغوی په مقابل د جګړې توان په ځان کي نه لیدى او هر ګړى دا امکان وو چې هغوی به ډېره ټینګه ماته وخوري.

اما هغه څه چې د آزادخان د ماتي سبب سوه د هغه د متحدو قومندانانو د جملې څخه د یوه قومندان ناځواني او پر وعده باندي نه درېدل وه. هغه قومندان شهباز خان دنبلي وو او د هغې ډلي آذربایجانیانو مشري ئې کوله کوم چې په فتح علي خان افشار پوري تړلي وو. دى د خپل پوځ سره د قاجاري خان سره یو ځاى سو، او د آزادخان نور ځواکونه ئې هم د ځان سره ملګرى کړل چې ددې کار په پایله کي آزادخان ماته وخوړله. محمد حسن خان هم د خپلو ملګرو سره د محاصرې د ادامې له پاره وخوځېدى. سربېره پر دې چې د کومکي ځواکونو امېد موجود نه وو مګر یوسف خان هوتک بیا هم د حسن خان قاجار په مقابل کي څو ورځي مقاومت وکړ. بالاخره یوسف خان هوتک ولیدل چې هیڅ مرسته نه ورته رسیږي او په ډېر سخت حالت کي را ګیر دئ نو یې د دښمن د ځواکونو په مقابل کي د سیاسي تدبیر څخه کار واخیست. په ۱۷۵۵م کال د جولاى په میاشت، ۱۱۳۴ د اسد پر اتمه یې د اُرومیه کلا د روغي جوړي له لاري تسلیم کړه، دى او دوه ډلي افغانان او اُزبک جنګیالى چې تعداد ئې څلور زره (۴۰۰۰) کسانو ته رسیده او همدارنګه د ټولو افغاني کورنیو سره چې تعداد تر څلور زرو (۴۰۰۰) زیات وو په ځانګړى احترام سره د مازنداران په لور وکوچېدل تر څو هلته میشت سي. په دغه ډول اُرومیه حسن خان قاجار ونیوله.

## د اصفهان نیول د محمد حسن قاجارپه لاس

دې ټکي ته مو اشاره وکړه، کله چې آزاد خان د محمد حسن خان قاجار سره په آذربایجان کې په جنګ بوخت وو، کریم خان دغه موقع مناسبه وګڼله او اصفهان ئې ونیوی. په دغه وخت کې د اصفهان اوضاع ښه نه وه هلته قحطي وه او غله کمه وه، چې دا ستونځه خپله پر اصفهان د ډېرو حملو څخه پیدا سوې وه.

د ښار خلک اړوه چې د ښار د فاتحینو سره همکاري وکړي چې هر یوه کوښښ کاوه چې ځان له مخنی څخه د خلکو په سترګو کې ښه ښکاره کړي. خلک له دغه حالت څخه په تنګ راغلي وه، جان آر پیري اشاره کوي:

«د ۱۷۵۶م د مارچ په شلمه د محمد حسن خان له لوري یو استازی د نوروز د جشن په نمانځنه د اصفهان ښار ته د کریم خان سره د لیدو له پاره ورغئ. ده د ځان سره ئې یو وراندیز هم درلود، په دغه وړاندیز کې راغلي وه که چیري کریم خان د دربیم شاه اسماعیل پاچاهي چې د محمد حسن خان سره اوسېدی د ایران په هغه پاته برخه کې چې د محمد حسن خان تر واک لاندي ده په رسمیت سره وپېژني، نو به ئې د ګرمسیر سیمو د بېګلربیګي (نایب الحکومه) په حیث ټاکنه ترتیب کړي، چې غیر له دې څخه دي بیا د ډیري لږي مهربانۍ توقع هم نه لري».[53] کریم خان په دې شرایطو غیر له دې څخه د محمد حسن خان قاجار و غوښتنو ته د نه جواب ووایي بله چاره نه درلوده. کریم خان د خپل پوځ ډېره برخه له ځانه ناراضه کړې وه او ډېر هغه پوځیان چې دوه کاله مخکي ئې د پارس له ګرمسیرو سیمو د خدمت له پاره نیولې وه د خدمت د پرېښودلو غوښتونکي وه.

په دغسي بحراني اوضاعو کې او د محمد حسنخان د ضرب الاجل سربېره، کریم خان په دې باندي وتوانېد چې خپل ناراضه پوځیان راضي کړي او د محمد حسن خان سره جنګ وکړي. د جګړې په درو څلور ورځو کې خلکو ډېر زیانونه ولیدل او تر ډېر فشار لاندي وه.

---

[53] جان، ار پیري، تاریخ ایران بین سالهای ۱۷۴۷-۱۷۷۹م.(تهران:- ۱۳۶۵)ص:۹۴

کریم خان هم ځواکونه ورو ورو له لاسه ورکړل او کمزوری سو او پوځیان ئې د ښار د باندي تیت او پرک سول. کریم خان نور ددې توان نه درلود چې د محمدحسن خان د پوځ سره مقابله وکړي. د محمد حسن قاجار ځواکونو د اصفهان ښار محاصره کړ. محمد حسن خان قاجار څو ورځې د **"کاشان"** په شاوخوا کې تېرې کړې، ځکه چې کریم خان د جنګ توان نه درلود. حسن خان خپله بریا حتمي ګڼلې وه. کریم خان د محاصرې د زغملو توان په ځان کې نه لیدی، نو یوه ډله پخواني زند جنګیالي یې له ځانه سره ملګري کړل او د اصفهان له ښاره ووت او د ګُلون آباد په لور چې د یزد څخه ئې څو فرسخه فاصله درلوده وخوځېد. محمد حسن خان چې په کاشان کې وو په خپل مخ کې بل خنډ نه لیدی؛ ځکه چې اصفهان قاجاري ځواکونو محاصره کړی وو او کریم خان هم د ګُلون آباد په لور تللی وو. د ۱۷۵۶م کال د اپریل د میاشتي په اوله محمد حسن خان د کریم خان پاته کوچني ځواکونه مات کړل او هماغه ورځ ببېله دې چې له نور مخالفت او مقاومت سره م سي د اصفهان ښار ته ننووت.[54]

## د اصفهان نیول د آزادخان په لاس دوهم ځل

کله چې اصفهان د کریم خان د لاسه ووت له خپل دوه درې زره پلویانو سره یې د شېراز په لور شاتګ وکړ. لس ورځې وروسته د شېراز ښار ته داخل سو، د شېراز د ښار خلکو او پوځیانو د ندرخان په شمول چې تر اوسه پوري کریم خان ته وفاداره وه د هغه هر کلی وکړ. کریم خان د ندر خان سره د شېراز د ښار په ټینګښت لاس پوري کړ. په دغه وخت کې محمد حسن قاجار د اصفهان ښار پوره تر خپل واک لاندي راوستی وو، او پر هغه څه یې چې د کریم خان څخه پاته وه، چې هغه کم خاص څه نه وه، ځان مشغول کړی وو. د ځینو تاریخ لیکونکو د بیان پر اساس محمدحسن خان قاجار د اصفهان پر خلکو باندي ډېر

[54] جان، ار پیري، تاریخ ایران بین سالهای ۱۷۴۷-۱۷۷۹م.(تهران:- ۱۳۶۵)ص:۹۵

درانه ماليات وضع کړي وه، د جلفاد ارمنيانو څخه ئې اته زره (۸۰۰۰) تومنه وغوښتل. ارمنيان د خپل کمزوري اقتصاد له امله ونه توانېدل چي ذکر سوی مبلغ پوره کړي او هغه ته ئې تسليم کړي. د کليساوو ټولې ذخيرې او زېورات ئې خرڅ کړل مګر بيا هم ياد سوی مبلغ پوره نه سو. دغه ډول د ټولني پر ټولو قشرونو ئې ظلم کاوه، له همدې امله د پناه وړنکو سيل د جلفا او اصفهان څخه د کرمان، خراسان، يزد او د عراق په لوري جاري سو.[55] حسن خان قاجار په اصفهان کي د خپل واک په موده کي په خپلو سترګو او پرېشانه فکر سره د آزادخان ټول حرکتونه او عمليات څارل. د ۱۷۵۶م کال د مي په مياشت آوازه ګډه سوله چي آزاد خان د اصفهان د نيولو له پاره رشت ته پوځ استولی دی او د نوي حملې له پاره ځان چمتو کوي، خو دا يوازي يوه آوازه وه، ځکه آزاد خان د اصفهان خواته نه وو تللی. په هر صورت د حسن خان بېره او تشويش چي يوازي د آزادخان له لوري وو څه کم سو.[56] د ۱۷۵۶م د جون په مياشت محمد حسن خان پر شېراز باندي د حملې له پاره موقع مناسبه وبلله، نو د اصفهان حکومت يې اميرګونه خان ايرلوی افشار ته پرېښود او خپله بېله کوم مقاومته او خنډه د پارس ايالت ته داخل سو، خو دشېراز د نيولو له پاره ئې هڅي ناکامه سولې او ډېر ژر بېرته اصفهان ته ولاړ. دا ځل ئې اصفهان ته تګ يو بل علت هم درلود، هغه داچي خبر ورته راورسيد چي آزادخان د اصفهان لورته راځي.

حسن خان قاجار ته خبر رارسېدلی وو چي آزادخان او فتح علي خان د يو غټ پوځ سره ترقُم پوري رارسېدلي دي. محمد حسن خان د ناچارۍ له مخي د شېراز څخه ډېر ژر ځان اصفهان ته ورساوه چي د اصفهان ساتنه وکړي. د ۱۷۵۶م د جولای د مياشتي په يوولسمه د خپل اته زره (۸۰۰۰) کسيز پوځ سره يو ځای اصفهان ته داخل سو. د نصير خان لاري څخه ئې د شيراز د ساتني غوښتنه وکړه، د نصير خان له لوري ئې غوښتنه ومنل سوه. نصير خان د شېراز په لور حرکت وکړ خو مخکي له دې چي شېراز ته ورسيږي د آزادخان له لوري د

---

[55] جان، ار پيري، تاريخ ايران بين سالهای ۱۷۴۷-۱۷۷۹م.(تهران:- ۱۳۶۵) ص:۹۵

[56] هما ن، ص: ۹۶. ګلشن مراد

حسن خان د ماتي ئې واورېدل او ددې پر ځای چي شېراز ته ولاړ سي بيرته داراب ته ولاړ.[57] سربېره پر دې چي حسن خان د لسو ورځو په جريان كي په اصفهان كي وتوانېدی چي د اته لس تر شل زره (۲۰-۱۸) په شاوخوا كي جنګي لښكر آزادخان سره د جګړې له پاره چمتو كړي مګر بيائې هم د آزادخان په مقابل كي ماته وخوړله. د ماتي وروسته د كاشان په لوري وخوځېد. ويل كيږي چي دا ځل آزادخان څلوېښت زره (۴۰۰۰۰) جنګيالي لرل.

محمد حسن خان قاجار په دې پوهېده چي د آزادخان د پوځ سره د جګړې توان نلري، نو خپل ځواكونه ئې كاشان ته بوتلل او له هغه ځايه د كوه نمک د شرقي څنډې څخه يې د فېروزكوه او ساري خوا ته ځان ورساوه. ددې په مقابل كي آزاد خان خپل پرمختګ ته د اصفهان په لور ادامه وركړه. آزاد خان د دوهم ځل له پاره په ډېر لږ وخت كي يعني د ۱۷۵۶م د اګست د مياشت په نيمايي كي په دې بريالی سو چي اصفهان ونيسي او د اصفهان پر شاهي تخت كښېني. په دغه دوړل محمد حسن خان قاجار چي ځان ئې په ايران كي تر ټولو ځواكمن شخص باله د آزادخان څخه ماته وخوړه او تېښته يې وكړه.

د ګيتي ګشا د تاريخ خاوند، د اصفهان د نيولو پېښه د لوړ تفصيل سره ورته بيان كړې ده او په دې باور دی چي "محمد حسن خان قاجار د آزادخان سره د مقابلې توان نه درلود او د آزاد خان بېره ئې هر ګړی په زړه كي وه، ددې خبري شاهد دا دئ چي حسن خان قاجار اميرګونه خان افشار په اصفهان كي پرېښود او په خپله د پوځ سره د پارس په لوري ولاړ.[58]"

د نامي اصفهاني نظر بيا د جان آر پيري له نظره څخه بېل دی او وايي چي: «حسن خان قاجار اصفهان ته ولاړ، اصفهان ته د ننوتلو وروسته ئې دا خبر واورېد چي آزاد خان عراق ته حركت كړی دئ او وروسته له دې غواړي چي پر اصفهان حمله وكړي. له همدې امله حسن خان قاجار خپله توجه د دارالسلطنت څخه و كاشان ته واړاوله. دوې درې

---

[57] جان، ار پيري، تاريخ ايران بين سالهاى ۱۷۴۷-۱۷۷۹م.(تهران:- ۱۳۶۵) ص:۹۶

[58] ميرزا محمد صادق موسوى اصفهانى (نامى): د ګيتى ګشا تاريخ، څلورم چاپ ۱۳۶۸ر

ورځی ئې په کاشان کې تیري کړي وې چې د آزادخان د پوځ مخکښان د قُم ښار ته ورسېدل. حسن خان قاجار ته خپل ځان د افغان پوځیانو په مقابله ضعیف او کمزوری ښکارېده هغه وو چې د سیاه کوه له لاري د مازنداران په لوري وتښتېد».[59]

دوهم ځل له پاره چې آزادخان افغان د اصفهان د سلطنت پر تخت کښېناست نیت ئې نه وو چې د ډېر وخت له پاره په اصفهان کې پاته سي په چټکی سره ئې د اصفهان داخلي اوضاع سم کړه وروسته ئې پوځ چمتو کړ او د مازندران (ایران شمالی خواته موقعت لري) د نیولو په نیت ئې د مازندران په لور حرکت وکړ. په دغه سفر کې آزادخان د گیلان په نیولو باندې بریالی سو. گیلان په دغه وخت کې د امیرگونه خان افشار په واک کې وو، لکه څرنګه چې مخکې وویل سول امیرگونه افشار د محمد حسن خان قاجار لخوا د گیلان په ساتلو گمارل سوی وو. د آزادخان په راتګ سره امیرگونه خان افشار د مازندران په لور وتښتېد او گیلان آزاد خان ونیوی.

---

[59] نامي اصفهاني

## د ایران پرشمالي ایالتونو د آزادخان پوره واکمني

لکه څرنګه چي مخکي یادونه وسوه آزادخان دا وار غوښتل د ایران پر ټول شمال باندي حاکم سي نو ئې په چټکۍ سره د شمال په لور حرکت وکړ اما دا چاره یو څه وځنډېدله چي علت ئې محلي اړودوړ وو.

د مثال په ډول آزادخان ته لازمه وه چي د یوې ډلي محلي جنګیالیو سره فراهان ته ولاړ سي او د حاجي طغان فراهاني کلا اطاعت ته مجبوره کړي. ډېره به په زړه پوري وي چي ددغه پیښي جریان په پوره ډول سره بیان سي، هغه داچي: کلونه کېږي چي د حاج طغان فراهاني لور د هغه قبیلې ریاست کوي، کومه چي ددې د پلار د قلمرو په حدودو کي اوسېږي او د کریم خان سره تقریباً شپږ کاله د جګړې په حالت کي وه او د هري ممکني لاري ئې کریم خان ته سر خوږی جوړاوه، بالاخر د حاج طغان فراهاني لور د آزادخان اطاعت ومانه. آزاد خان د محمد حسن خان قاجار له تقعیبولو لاس نه وو اخیستی او هغه وخت چي د حاج طغان د کلا په نیولو بوخت وو، فتح علي خان ئې په فېروزکوه کي د محمد حسن قاجار په تعقیبولو باندي ګمارلی وو. فتح علي خان په کاشان کي د محمد حسن خان مالونه او اسباب ونیول. آزادخان بیا په ډېر تلوار سره د ورامین له لاري سم شمال ته ولاړ او اراده یې کړې وه چي د محمد حسن خان قاجار د ځواکونو د شاتګ لار مخکي له دې چي هغوی ګردنې ته ورسیږي وتړي خو دا پلان ئې وځنډېدی، ځکه چي اوس د محمد حسن خان قاجار د خپل تره (یا د تره زوی) په مشري غوره ځواکونه په خپل واک کي درلودل. محمد حسن خان ددې ځواک درلود چي د فېروزکوه لاري او د البرز څخه نوري تېرېدونکي  لاري وتړي.

محمد حسن خان قاجار خپل ځوی، محمد خان قاجار د آمل پر لاري وګوماری او نورو لاروته ئې هم ساتونکي واستول. ده خپله له یوه اندازه پوځیانو سره په علي آباد کي چي فېروزکوه د لاري پر سر پروت دی ځای ونیوی. د محمد حسن خان له نظره مازندران ته د رسېدو له پاره سمه لار همدا د فېروزکوه لار وه. حسن خان قاجار انګیرلې وه چي آزادخان به له دې لاري څخه مازندران ته راسي، ولې دده دغه انګېرنه غلطه وختله ځکه چي آزادخان

بله لار انتخاب کړه او د هغه غرنۍ لار څخه ئې صرف نظر وکړ. آزادخان د قزوین غوره کړه.

په هر صورت د حسن خان قاجار لښکر په علي آباد کي څو هفتې د افغان ځواکونو سره د ټکر خوړلو په انتظار تیري کړلې. حسن خان په دغه باندي پرېشانه وو داسي نه چي آزادخان د البرز غرونو ته لاس رسی پیداکړي. آزادخان د ۱۷۵۶م کال د اکتوبر په میاشت خپل سرداران راوغوښتل او د فېروزکوه څخه راوګرځېدل د طالقان له لاري يې قزوین ته مخه کړه. په لومړي سر کي **ګیلان** ته متوجه سو، لکه مخکي چي هم یادونه وسوه ګیلان ئې ونیوی. د ۱۷۵۶م د دسمبر د میاشت په پای کي آزاد خان په دې باندي بوخت وو چي شمالي ایالتونه په خپل واک کي راولي او ددې موخي له پاره ئې کښتۍ د لښکر د لېږد رالېږد له پاره چمتو کړي.

عبدالعلي خان عرب مېش مست او شهباز خان دنبلي مخکي له مخکي د **رودسر** نیولو او په لاره کي د درو د استقرار له پاره حرکت وکړ.[60]

آزادخان په ګیلان کي دوې میاشتي پاته سو، د دغه تم کېدلو علت د ژمي د سخت موسم رارسېدل وه. محمد حسن خان قاجار هم ژمی په آمل کي تېر کړ. آزادخان عبدالعلي خان عرب عامری د مازندران د لاري په ساتلو ګمارلی وو. عبدالعلي خان عرب په **رودسر** کي (هغه سیمه ده چي د لاهیجان څخه څلور فرسنګه فاصله لري) ټینګ مورچل جوړ کړی وو. همدارنګه خسروخان مکري د مورچل په شاته برخه کي د خپلو پوځیانو سره ځای نیولی وو. داسي نو د دښمن له پاره نامکنه وه چي له دې لاري راننوزي. همدغه تیاروالی د آزادخان د پوځ د بې پروایي سبب سو. محمد حسن خان له دغه موقع څخه استفاده وکړه او په ډېره چټکۍ سره ئې پر ګیلان باندي حمله وکړه. دغه حمله په داسي هوښیارۍ تر سره سوه چي د آزادخان د عسکرو څخه یو هم خبر نسو. عبدالعلي خان او خسروخان د بې خبرۍ له امله ماته وخوړله. د عبدالعلی خان او خسروخان مکري ماته په ګیلان کي د آزادخان د ماتي

[60] جان، ار پیري، تاریخ ایران ۱۷۴۷-۱۷۷۹م.(تهران:- ۱۳۶۵)ص:۹۷-۹۸ موسوي نامي اصفهاني، ص: ۵۵-۵۶

اسباب جوړ کړل ځکه چې هغوی په یو ډېر مهم کار کي غفلت کړی وو، یعني د جګړې اوله کرښه یې ونساتل سوای. له دې پیښي څخه وروسته محمد حسن خان قاجار خپل توجه بیا آذربایجان ته واړوله او یو ځل بیا د اُرومېه د کلا د نیولو تکل ئې وکړ. د اُرومیه د کلا د نیولو خیال د محمد حسن خان قاجار سره اوله موجود وو، له همدې امله وو چې آزاد خان یو ځل بیا په دوهم ځل لپاره اصفهان کي ونه ځنډېدی او ډېر ژر له اصفهان څخه ووت. اوس داسي معلومېږي چې د اصفهان څخه د آزاد خان د وتلو یوازنی علت همدا د محمد حسن خان قاجار نیت د آذربایجان په باره کي وو. څرنګه چې دغه راز یوازي له آزاد خان سره وو، نو له همدې امله خلکو د آزادخان د وتلو له پاره مختلف علتونه ښودل.

## په اصفهان کي د محمد حسن خان یو ځل بیا بری

د محمد حسن خان او آزادخان ترمنځ جګړې اتلس میاشتي رواني وې. په دغه اتلس میاشتو کي کریم خان ډېر او نهایي کوښښ وکړ چې د ایران داخلي سیمي ونیسي لکه د شېراز داخلي سیمي تر لوړو غرونو پوري، د ګرمسیر سیمي د خوزستان تر ساحلي دښتو پوري، دشتستان او د خلیج پارس بندرونه، بندر رېګ تر بوشهره پوري، بندر عباس او د نصیرخان تر واک لاندي کوهستاني سیمي. دا ټکی هم د یادولو وړ دی چې اصفهان د آزادخان د کال ۱۷۵۶م د جولای میاشت د عملیاتو وروسته د آزادخان د سردارانو لخوا اداره کېده. آزاد خان د اصفهان د اداره امیرګونه خان افشار، جعفر میرزا او طاهر سلطان ته سپارلی وه. وروسته له دې چې هغوی ئې د اصفهان د ساتلو له پاره وګومارل، دی خپله د حسن خان قاجار د حملې د مخنیوي له پاره د آذربایجان په لور وخوځېدی.

کله چې آزاد خان اُرومیه خواته روان سو، کریم خان، شیخ علي او د هغه ورور نظرعلي د پنځه زره (۵۰۰۰) جنګیالیو سره د اصفهان د بیرته نیولو له پاره ولېږل. امیرګونه خان ددوی په مقابل کي د ځواکونو د کمي له امله ماته وخوړله؛ کله چې شېخ علي خان پر

امیرګونه خان افشار باندي بريالی سو، نو ئې خپل ورور نظرعلي خان د ګلپايګان او بروجرد د بيا نيولو له پاره ولېږه په همدغه وخت کي داسي آواز خپره سوه چي محمد حسن خان قاجار د شل زره (۲۰۰۰۰) پوځ سره د کرمانشاه له لاري غواړي د کريم خان پر پوځ حمله وکړي. په دغه آوازه سره د زنديه لښکر اراده سسته سوله.

وروسته دا معلومه سوه چي محمد حسن خان قاجار خپل ځوان زوی آقا محمد خان قاجار د با اعتماده مشاورينو او اته زره (۸۰۰۰) پوځ سره د تبريز د اداري له پاره ګمارلی دئ او دی خپله د تبريز څخه وتلی دئ. محمد حسن خان قاجار په عين وخت کي يو بل پلان هم درلود، محمد ولي خان ئې وګماری چي د ساوه د لاري پر مختګ وکړي او ده پخپله مستقيماً د خمسه له لاري پر همدان حمله وکړه. نظرعلي خان د شېخ علي خان ورور وکولای سول پر وخت د اصفهان څخه پر شا ولاړ سي. د قاجاريانو دا دوې ډلي په سيلاخور کي سره يو ځای سولې او د شهباز خان د نبلي لښکرو هغوی ته نور هم ځواک ورکړ. دغه ډېر لوی ځواک برابر د اصفهان په لور وخوځېدی. شېخ علي خان د خپل کم لښکر سره ښار خالي کړ، خپل رئيسان ئې شېراز ته ولېږل او دی پخپله هم د دسمبر په نهمه د احتياط له مخي د اصفهان څخه ووت او دېرش زره (۳۰۰۰۰) پوځ سره د شېراز ښار ته ننووت.

د ۱۷۵۷م د دسمبر په پنځلسمه د قاجاري پوځ قومندان اصفهان ته د دوهم ځل له پاره داخل سو، يو څه وخت وروسته محمد حسن خان قاجار د اصفهان د ايالت واک په خپل لاس کي واخيست[61]

## د محمد حسن خان قاجاروژل

محمد حسن خان قاجار د دوهم ځل له پاره بيا هڅه وکړه چي شېراز ونيسي خو ده د

[61] جان ر پيری، د ايران تاريخ، تهران ۱۳۶۵، ص(۹۵)

شېراز د محاصره کولو څخه کومه ګټه ونکړه او ماته ئې وخوړله، کريم خان خلګو ته د ډاډ ګيرني له پاره د ايران د ټولو ايالتونو څخه ليدنه وکړه او ځان ئې د ايران حاکم ياداوه. دیادوني وړ ده چې د کريم خان زند برى پر محمد حسن خان قاجار د افغانانو د زحمت له برکته وو. هغوی چې په آذربايجان کې د يوسف خان هوتک له ماتي وروسته د محمد حسن خان قاجار له پوځ سره يو ځاى سوى وه، نن ورځ د کريم خان زند د زرنګۍ له امله د محمد حسن خان پوځ څخه را جلا او د کريم خان له پوځ سره يو ځاى سول او محمد حسن خان قاجار ته يې ماته ورکړه. کريم خان زند بايد له ياده نه واى ايستلي چې دا افغانان وه چې په ١١٧١هـ د شوال پر ٢٦، ١٧٥٨م د جولاى پر ٣ د شپې د شېراز د محاصرې ټينګي کربښي ماتي کړې او د کريم خان زند مرستي ته حاضرسول.[62] اما دا چې کريم خان زند ددغه خدمت او احسان جواب په څه ډول ورکوي ددې تاريخي پېښي بيان به بل ځاى وسي. د لته د محمد حسن خان د وژني د څرنګوالي باندي رڼغيږو. هغه وخت چې آزاد خان د عراق په خاوره کې د ځواکونو په راټولو بوخت وو، محمد حسن خان قاجار په شېراز کې د ماتي سره مخ سو او کريم په کاميابۍ سره اصفهان ته ننووت، څرنګه چې ئې غوښتل د محمد حسن خان کار خلاص او يکسره کړي، نو ئې پارس خپل ورور صادق خان ته وسپارى او پخپله د اصفهان څخه تهران ته ولاړ او هلته ئې شېخ علي خان د مازنداران لورته ولېږى.

عبدالعظيم رضايي د ايران د لس زره کلن تاريخ مؤلف ليکي چې [63]. "محمد حسن خان قاجار د استرآباد په جنګ کې د شيخ على څخه ماته وخوړله او مازندران ته وتښتېدئ او کله چې يې غوښته د يوه پُله څخه تېر سي، آس يې غوزار سو او دده مخالف قاجارانو، چې دښمنان يې وو، بريد پر وکړ او سر يې ځيني پرې کړ او شيخ على ته يې واستاوه چې هغه کريم خان زند ته په تهران کې ولېږئ". جنرال سر پرسي سايکس هم وايي چې: "کله چې حسن خان پر يوه پُله تېرېدئ آس يې غوزار سو او د دښمنو قاجاريانو څخه، چې په ور پسې وو، د

[62] جان، ار پيري، تاريخ ايران بين سالهاى ١٧۴٧-١٧٧٩م.(تهران:- ١٣۶۵)ص:١٠٧

[63] عبدالعظيم رضايى: د ايران لس کلنه تاريخ، تهران-اقبال ١٣۶٣.

حسین خان دولو ورور برید پر وکړ او ویې واژه او سر یې شیخ علی خان ته ولېږئ چي هغه کریم خان ته په تهران کي واستاوه". د محمد حسن قاجار کار داسي پای ته ورسېدئ او د آزادخان او کریم خان تر ټولو ستر رقیب داسي له منځه ولاړ.

## د کریم خان زند لخوا د افغانانو د قتل عام فرمان

مخکي مو یادونه وکړه چي د افغانانو د ښو خدماتو په مقابل کي د کریم خان له کارونو څخه بحث وکړو. اوس ئې وخت رارسېدلی دی چي د افغانانو د خدماتو په مقابل کي د کریم خان لخوا د زرهاوو بې ګناه افغانانو د وژلو او د هغه د چلند  څرنګوالی وڅېړو. آزاد خان په عراق کي وو او د کُردي او آذربایجاني قومونو په منځ کي د ملګرو په راټولو بوخت وو.

فتح علي خان افشار او شهباز خان دنبلي چي پر اُرومیه باندي ئې د محمد حسن خان قاجار د بري اسباب برابر کړل لا تر اوسه پوري پر اُرومیه تسلط درلود، خو داسي معلومېږي چي د اصل خطر انتظار باید د مازندران د افغانانو څخه ولري.

د نادر افشار د مرګ وروسته افغانان، د ټولو هغو ډلو له پاره چي د ایران سلطنت ته ئې سترګي نیولي وې، غټ خطر ګڼل کېدل. په دغه موده کي افغانان سره پاشل سوي وه، ځیني د احمد شاه ابدالي سره کندهار ته تللي وه او ځیني د آزاد خان سره ملګري سوي وه. اما وروسته له دې چي  په کال۱۷۵۷م کي آزاد خان د آذربایجان څخه عراق ته ولاړ او آذربایجان محمد حسن خان قاجار ونیوی، یوه اندازه افغانان د محمد حسن خان سره یو ځای سول خو دده (محمد حسن خان) له مرګ وروسته د کریم سره ملګري سول. د افغاني او بنیچه اي (هغه عسکر چه مالیه یی راتولوله) پوځیانو شمېر د کریم خان په پوځ کي د اوه زرو (۷۰۰۰) په شاه وخوا کي وو. کریم خان د زند د قلمرو ټولو پلویانو ته یو مخفي فرمان ولېږی چي ټول هغه افغانان ووژني چي د ایران په هرځای کي د پوځ په خدمت کي دي. دغه امر په شدت سره پرځای سو، په تهران کي شاهانه جشن (نوروز) ونیول سو او په ضمن کي

ئې ټول افغانان ونیول او بیائې ووژل.

په مازنداران کې د افغانانو د وژلو له پاره علي خان شاهسون ګمارلی سوی وو. ندر خان ته هم وظیفه ورکړل سوې وه چې ټول د پوځ او نظام افغانان په مازندران کې قتل کړي، خو علی خان شاهسون دمستی په حال کې د افغانانو د وژلو نقشه فاش کړه نو په زرهاو افغانانو په جنګ ځانونه خلاص کړل او د استرآباد په لور وتښتېدل. د استرآباد له وژنو څخه هم دوه سوه (۲۰۰) افغانانو ځانونه وژغورل او د ګُرګان د رود خانې په لور ولاړه خو ډېره برخه ئې ووژل سول او یا هم په سیند کې غرق سول. په سمنان کې ذکي خان د زرو (۱۰۰۰) په شاوخواکې افغانان ووژل. د دوی له منځه یوه افغان قومندان د شېرعلي خان په نامه په چم ځان خلاص کړ او د قُم او کاشان ښارونو تې ځان ورساوه چې هلته لا تر اوسه د آزادخان د پوځ بقایاوي موجودي وې خو په هغه ورځ ونیول او ووژل سو.

جان آر پیري په دې باره کې لیکي:

"د کاشان په ښار کې یو افغان له خطره خبر سو او خپل یو دوست په سندوخ کې وساتئ، او دغسي د ښاره ووت او ځان ئې آزادخان ته چې په بغداد کې وو ورساوه. په تهران کې نژدې نه زره (۹۰۰۰) کسه افغانان ووژل سول، دغه قتلونه او وژني د کریم خان پر لمن تور داغونه دي او د کریم خان د بې رحمۍ تعصب او نفرت ښې دي"[64]

[64] جان، ار پیري، تاریخ ایران بین سالهای ۱۷۴۷-۱۷۷۹م.(تهران:- ۱۳۶۵)ص:۱۱۹

# پنځم څپرکی

## د آزادخان افغان ورستی ورځې

### ولی آزادخان عراق ته ځي؟

اوس نو د ۱۱۷۳هـ، ۱۷۶۰م د پیښو بیانولو ته راورسېدو. په دغه کال چې نور د محمد حسن خان قاجار خبری نه کېدلې، کریم خان دایران په مرکز کې اوسېدی. د یوه اړخه ئې زړه په قرار وو؛ خو له بله اړخه ډېر په تشویش کې وو، چې آزاد خان اوس هم کولای سي چې په زرهاو جنګیالي راټول او د ده سره ئې وجنګوي. په دغه وخت کې د کریم خان زند پام د ایران د شمال لور ته وو، په عین وخت کې آزادخان هم له عراق نه د ایران د نیولو اراده کړې وه.

اما په اخیرو ورځو کې کریم خان خپله توجه تهران ته اړولې وه او غوښتل ئې چې د تهران څخه نظامي اډه جوړه کړي چې ددغه نظامي اډې څخه د محمد حسن خان د پوځ د پاته شوو افرادو پر ضد چې لږ لږ په شمال کې لیدل کېده کار واخلي او یا د آزادخان مقابله وکړي چې په عراق کې اوسېدی، او د کُردستان او آذربایجان څخه یې لښکر راټولاوه.

کریم خان په اصفهان کې د ژمي له تېرېدو وروسته اراده وکړه چې په آذربایجان کې عملیات شروع کړي. د ۱۱۷۳هـ ق د شعبان په میاشت کې (۱۷۶۰م اپرېل) د خمسه څخه ووتی او د څو ورځو د تېرېدو وروسته د سلطانیه له لاري تبریز ته داخل سو. په دغه وخت کې د فتح علي خان افشار او شهباز خان دنبلي، چې د ازادخان د پخوانیو ملګرو څخه وو، د تبریز واک په لاس کې وو او تبریز ته ئې هیڅ بل څوک نه پرېښودل او هر رنګه دفاع له پاره چمتو وو.

کریم خان د زند ځواکونو په مشري د ښار پر ساتونکو ځواکونو چې مشري ئې فتح علي

خان افشار او شهباز خان دنبلي کوله څوځلي برید وکړ مګر هر وار ناکامه سو. بالاخره د روژې د میاشتي په پنځمه، د ۱۷۶۰م د اپرېل د میاشتي په یوویشت یې ماته و خوړله او لاچاره د مراغې په لور ولاړ.

په مراغه کي کریم خان زند له سختو مقاومتونو سره مخ سو. د مراغې حاکم حاجي قاسم د خپل ورور حاجي محمد علي سره د سیمیز دعوی طلب پوځ په اتفاق د ښار دفاع کوله. کریم خان د مراغې ښار محاصره کړ، په هغه جنګونو کي چي دښار په شا وخوا او نواحیو کي وسوه د ښار ساتونکي پوځ ماته وخوړله او کریم خان بریالی سو. کله چي حاجي قاسم او ورور ئې حاجي محمد علي محاصره سول نو ئې د کریم څخه د عفوي غوښتنه وکړه او بیرته د مراغي د ښار واک ورکړل سو.

خو د کریم خان نظامي موقعیت مناسب نه وو نو له همدې امله څومره چي مراغه په چټکۍ سره نیولې وه په هماغه سرعت سره ئې پرېښودله او بیرته تهران ته ولاړ. په دغه وخت کي د تهران ګرمي د زغملو نه وه. همدارنګه په تهران کي یو ساري مرض ګډ سوې وو چي د کریم ډېره برخه پوځیانو ئې نیولي وو، ځکه ئې د ۱۱۷۴هـ د محرم د میاشتي په شپږمه چي د ۱۷۶۰م د اګست د اتلسمي سره سمون خوري د خپلو درباریانو په ملتیا تهران پرېښود.

کریم خان زند ددې وروسته په سلطانیه کي واوسېدی خو هلته هم ډېر پاته نه سو او یوازي څلور میاشتي ئې هلته تېري کړې. په دغه وخت کي د کریم خان په لښکر او قوم کي د بې اتفاقۍ نښي لیدل کېدلې. د سپتمبر د میاشتي په اولو ورځو کي کریم خان د ژمي د تېرولو له پاره قزوین ته ولاړ چي هلته د پسرلي په موسم کي د فتح علي خان افشار پر ضد د یوې کاملي حملې له پاره ځان چمتو کړي، لیکن آزادخان افغان په دغه چاره کي له مخکي خبر وو او غوښتل ئې چي پر فتح علي خان افشار باندي حمله وکړي.

تر دې ځایه لا دا نه ده څرګنده چي فتح علي خان افشار څوک دئ؟ هغه د افشار قوم یو نوموتی مشر وو، د نادر افشار په وخت کي ئې د پارس د قومندان لقب خپل کړ او په

۱۱۵۸هـ، ۱۷۴۴م د اُرومیه حاکم وټاکل سو. کله چې د ابراهیم میرزا لښکر مات سو او د شاهرخ خان پلویانو تبریز ونیوی او د مهدي خان سر ئې ور پرې کړ، فتح علي خان افشار تبریز ته ولاړ، یاغیان ئې وځپل، د آذربایجان پر ټول ایالت مسلط سو او د لږ وخت وروسته د آزادخان سره یو موټی او د سیمې په حکومت ور سره شریک سو. فتح علي خان چې د نادر افشار په پوځ کې یې خدمتونه کړي وو وکولای سوای چې د نیول سوو سیمو د خلکو ملاتړ په بریالی توګه ځانته جلب کړي. ددې کار د تر سره کولو له پاره لومړي د محمد حسن خان سره یو ځای سو، بیائې و غوښتل چې د ایالت حاکم سي نو خپل پخوانی مشرئې پرېښود او د هغه اتحادیې د مشرتابه ادعا ئې وکړه چې ده خپله د هغه په جوړښت کې لاس درلود. شرایط داسي وو چې کریم خان ددې توان نه درلود، د آزادخان او فتح علي خان تر منځ د اختلافاتو څخه ګټه پورته کړي، ځکه چې د ده پوځ د ورپیښ مرض او د خمسه، ګیلان او مازندران د بغاوتونو له امله کمزوری وو.

دا وه ۱۷۶۰م کال په جریان کې د کریم خان حالات. لازمه ده چې په دغه موده کې د هوتکیانو د سلطنت د راژوندي کوونکي او د ایران د تخت لوی مدعي آزادخان د ژوند د پیښو څخه هم خبر سو چې په دغه موده کې ئې څه کول؟

کله چې آزاد خان د۱۱۷۰هـ، ۱۷۵۷م د دوبي په موسم کې د اُرومیه په جنګ کې ماته وخوړله، له دې ماتي وروسته د عراق او آذربایجان په خاوره کې د پوځ په راټولولو بوخت سو، تر څو د خپل پخواني سیال کریم خان زند سره مقابله وکړي. په دغه وخت کې آزادخان ډېر لږ پوځیان درلودل او بغداد ته ولاړ.

د بغداد په سفر کي، د سليمان پاشا د ښځي د عادله خاتون (د احمد پاشا لور) په بلنه، د آزاد خان سره نه يوازي پوځيان ملګري وو



عادله خاتن د احمد پاشا لور

بلکه د هغه د حرمسراى ډېري ښځي هم ورسره وې چي ددغه ښځو د جملې څخه د شاه اشرف هوتک پخوانۍ ښځه هم وه. دغه ښځي د لښکر په مخ کي رواني وې. د آزادخان افغان حرمسراى د احمد پاشا د لور د په بلنه د آذربايجان څخه د عراق خواته حرکت وکړ. آزاد خان غوښته چي خپل حرامسراى په بغداد کي تر عادله خاتون پوري ورسوي.

د ګُلشن مراد له نقله څخه عادله خاتون په مذهب باندي شيعه وه او د عراق د

پخواني والي احمد پاشا لور او د هغه وخت د ناست حاکم سلیمان پاشا ښځه وه.[65] آزادخان د خپلو پوځیانو او د لوی حرامسرای سره د عراق د والي سلیمان پاشا د تاوده هرکلي سره مخ سو. سلیمان پاشا مېلمه پالنه او احترام پر ځای کړل او یو د خواخوږۍ پیغام یې ورواستاوه چي په حرمسرای کي یې خوښي او هوساینه خپره کړله.

جان آر پیري لیکي: "چي آزادخان یو ځل بیا د قره چورلو د کُردانو غرنیو سیمو ته شاتګ وکړ او د پنځو میاشتو په شا وخوا کي یعني د ۱۷۵۸م کال د جنوري ترلسمي پوري ئې خپل تګ بغداد ته وځنډاوه.او یو کال وروسته د افغان سردار او ملګرو یې، د محمد حسن خان د توقع پرخلاف، په بغداد کي هرکلی او ښه راغلی وسو".[66]

د جان آر پیري روایت د آزادخان د سفر په هکله واضح او روښانه نه دي.

اول داچي سفر ئې د محمد حسن خان سره اړه نلري ځکه چي په دغه وخت کي محمد حسن خان ماته خوړلې وه. دوهم دا روښانه نه سوه چي له کومه وخته آزادخان د پنځو میاشتو له پاره شا تګ کړې دئ؟

په هر صورت په لار کي ،مخکي له دې چي بغداد ته ورسېږي، په اشنو کي د حکاري ډلي ته ولاړ. هغوی یې هرکلی وکړ. حکاري په تُرکیه کي یوه غرنۍ سیمه ده چي د ایران او عراق پولو ته نژدې پرته ده. آزادخان مخکي له دې چي بغداد ته ورسیږي په کاظمین (د امام موسی کاظم او لمسي امام جواد زیارت په عراق) کي یو څه وخت پاته سو. سلیمان پاشا د بغداد والي چي خبر سو د هغه ئې ډېر احترام وکړ. د کاظم موسوي د لیکني سره سم په لوی اسلامي دایرة المعارف کي داسي راغلي دي:

"سلیمان پاشا د آزادخان او استازو ډېر درناوی وکړ او دی پخپله د آزادخان د احترام

[65] نقل جان ار پیري از ګلشن مراد، ګلشن مراد، ص:۸۶-۹

[66] جان، ار پیري، تاریخ ایران بین سالهای ۱۷۴۷-۱۷۷۹م.(تهران:- ۱۳۶۵)ص:۱۲۳

او حفظ حرمت له پاره کاظمین ته ولاړ او د ځان سره ئې بغداد ته راووست. له دې وروسته ئې ډېر پوځیان چې د موصُل، کِرکُوک، دیاربکر او کُردستان وه هغه ته ورکړل".[67]

آزادخان افغان په بغداد کې خپل ځواک زیات کړ. له دې وروسته ئې د آذربایجان د بیا نیولو اراده وکړه. په دغه وخت کې آذربایجان د هغه د پخوانیو متحدینو فتح علي خان افشار او شهباز خان دنبلي په واک کې وو. بالاخره په مراغه کې د هغوی سره جنګ واقع سو چې موږ به ئې په تفصیل سره بیان کړو.

## د مراغه جګړه او د آذربایجان د بیرته نیولو د ازاد خان هڅه

پر آذربایجان باندې د آزادخان د حملې په اړه مختلف نظرونه سته. د یوه کمزورې روایت له مخه د بابل یوه کرملی کشیش داسي اټکل کړی وو چې آزادخان خپله غوښتل چې له دغه هڅو نه لاس واخلي او په بصره کې د سلیمان پاشا څخه یوه بېړۍ واخلي او کندهار ته ولاړ سي. خو داسي معلومېږي چې سلیمان پاشا غوښتل د خپل قلمرو د پراخوالي لپاره او په ایران کې د نوي ځواکمنانو په مقابل کې ترینه استفاده وکړي.[68]

د بابلي کشیش د اټکل څخه داسي معلومېږي چې آزادخان له جګړې نه نور ستړی دی او د جنګ شوق ورسره نسته خو د ځینو له انده دغه نظر ضعیف معلومېږي او وایي: څرنګه چې آزاد خان په سیمه کې د افغانانو د قدرت د بیا ټینګولو اراده درلوده د هري ممکني وسیلې څخه ئې کار اخیستۍ او لکه څنګه چې ئې موخه په ایران او افغانستان کې د یو لوی ځواک منځته راوستل وو له هیڅ ډول هڅو څخه ئې لاس نه اخیستۍ. شاید کندهار ته ئې د تلو موخه همدا وه. په هر صورت آزادخان د عراق د والي سلیمان پاشا په همکاري په عراق کې د

[67] کاظم، موسوي، دایرة المعارف اسلامي، ج ۱( تهران: مرکز دایرة المعارف، ۱۳۶۹.)ص: ۳۲۲

[68] جان آر پیري، همان همان ص: ۱۲۳.

مُوصل، کِرکُوک او د دیار بِکر څخه درې زره (۳۰۰۰) کسیزه پوځ چمتو کړ او باور یې درلود چې آذربایجان ته د تګ په مهال به ډېر نور جنګیالي هم راټول کړي. له بله اړخه هَرکل د ګُرجستان پاچا ته د فتح علي خان او کریم خان له لوري خطر متوجه وو. هَرکل سلیمان پاشا ته پیشنهاد ولېږی چې د آزادخان سره، چې دده پخوانی متحد وو، د ده د همکارۍ او مرستې په باره کې ورغیږي. دغه وخت چې د ۱۷۵۹م د پسرلي موسم وو آزادخان له خپل کوچني پوځ سره د ایران په لور حرکت کړی وو او په دې باور وو چې د پاشا غرني تبعه به هم د ده ملاتړ وکړي.

دا هغه وخت وو چې آذربایجان د فتح علي افشار او شهباز دنبلي لخوا اداره کېده، یوازې څو میاشتې کېدلې چې دغه دوو خانانو له ماتي خوړلی خان (محمد حسن خان قاجار) څخه خپل حساب رابېل کړی وو. دوی د کریم خان له لوري نور د خطر احساس نه کاوه، له نوي سره ئې د خپل واک په غوړولو او ټینګولو باندې کار شروع کړی وو. دوی نه غوښتل چې یو ځل بیا په خپل واک کې کوم چاته برخه ورکړي. د آزادخان دغه پخواني متحدین چې یو وخت ئې د آزادخان څخه اطاعت کاوه اوس د آزادخان په مقابل کې ولاړ وو. هغوی د آزادخان د شل زره (۲۰۰۰۰) کسیزه پوځ سره مخامخ سول. د اټکل له مخې د ۱۷۶۰م د دوبي په موسم کې له دې نه مخکې چې آزادخان مراغې ته ورسیږي هغوي د دیزجردوی په کلي کې چې د مراغې له ناحیو څخه شمېرل کیږي مقابلې ته ور ووتل.

آزادخان د شرایطو پر اساس خپل د پخوانیو سیمو په نیولو کې هیڅ شک نه درلود. د اټکل له مخې د ۱۷۶۰م کال د دوبي په موسم کې د خپل غټ او ګډ پوځ سره چې تقریباً شل زره (۲۰۰۰۰) کُردان هم له هغه سره یو ځای سوي وو د تبریز په لور وخوځېد. مخکې له دې نه چې آزادخان مراغې ته داخل سي له هغه اتحادیې سره مخ سو چې د خلکو، قومونو او آذربایجاني ډلو څخه جوړه وه او څلوېښت زره (۴۰۰۰۰) جنګیالی یې درلودل. دغه جنګیالي د فتح علي خان افشار او دنبلي خان په مشرۍ د جګړې میدان ته داخل سول چې په هغوی کې د امیرګونه خان ایرلوی افشار طارمي بنچه ای، نجف قلي خان دنبلي، علي خان شقاقي

او کاظم خان قراچه داغی جنګیالي شامل وو.

آزادخان دخپل کم پوځ باوجود، د جنګ له پاره ښه تدبیر په کار اچولی وو، په داسي ډول سره چي افغاني او کُردي ډلي په ښي اړخ کي او اِیلیاتي ایراني جنګیالي چي محمود خان بابام د سلیمان پاشا زوی ئې مشري کوله په کیڼ اړخ کي واقع وو او د پوځ په زړه کي تُرکان ځای پر ځای سوي وو.

د مقابل طرف د پوځ ترتیب بیا داسي وو چي فتح علي خان او کاظم خان په ګډه د افشاریانو، قراچه داغیانو او نخجوانیانو سره د پوځ په زړه کي ځای پر ځای سوي وو. په ښي اړخ کي شقاقي کُردان او د امیرګونه خان افشار جنګیالي، چي بعضي مورخینو په نظر افغانان او تُرکان وو، ترتیب سوي وو. د فتح علي خان شاته توپخانه ځای پر ځای وه. اما آزادخان توپخانه نه درلوده. افغاني سردارانو جنګي عملیات له ښي اړخه پر سپرو باندي په برید سره شروع کړل، خو د دنبلي د ټینګو کرښو په مقابل کي ئې پرمختګ و نکړ.

امیرګونه خان د آزادخان د پوځ په ښي اړخ باندي حمله وکړه او په قدرت سره ئې مات کړ. فتح علي خان د پوځ د زړه څخه د توپخانې د اور په مرسته د آزادخان د پوځ پر زړه باندي برید وکړ خو آزادخان او د هغه ځانګړیو ساتونکو په پوره ځواک او شدت سره د فتح علي خان د پوځ پر زړه باندي حمله وکړه او هغوی یې مات کړل او دوه فرسخه د هغوی په تعقیبولو پسي ولاړل. هغه ګړی داسي معلومېدل چي آزاد خان جګړه ګټلې ده ځکه د دښمن د پوځ مرکزیت ئې له منځه وړی وو خو دغه بریا تر پای ته ونه رسېدله. د آزادخان هغه ځواکونه چي دښمن په تعقیبولو پسي تللي وه بیرته راوګرځېدل. جریان داسي وو چي شهباز خان دنبلي موقع تشخیص کړې وه، کله چي فتح علي خان افشار د پوځ په زړه کي ماته خوري، شهباز خان د هغه د ځای ډکولو له پاره ورځي او پر آزادخان حمله کوي. د محمود بابان د کُرد د پلي ځواکونه  تسلیمېدل او یا هم تښتېدل پخپله د آزاد خان د پوځ له پاره غټه ماته وه. د آزاد خان د پوځ هغه برخه چي د دښمن د پوځ په بې فایدې تعقیبولو پسي تللې وه

بیرته راوګرځېدله او وئې لیدل چي ددښمن د پوځ شل زره (۲۰۰۰۰) کسه لا په خپل ځای پاته دي، اما د دوی پوځ مختلفو ډلو ماته خوړلې ده، نو د کُردستان په لور د شاتګ څخه بله لار ورپاته نه سوله.

په پایله کي د مراغې جنګ د فتح علي خان افشار او شهباز خان دنبلي په ګټه پای ته ورسېدی او د آزادخان افغان ځواکونه او ملګري د محمود خان بابان د تسلیمېدو له امله مات سول. آزادخان له دې ماتي وروسته یو ځل بیا په ایران کي د قدرت د لاسته راوړلو له پاره په کرمانشاه کي هلي ځلي شروع کړې تر څو یو تازه دمه پوځ د فیلي لَرانو او همدان د خلکو څخه جوړکړي مګر موقع یې مناسبه ونه لیده او دا چاره ئې بل وخت ته وځنډوله خو د هغي ورځي له پاره ئې سخت انتظار کاوه.

دغه وخت آزاد خان یوه بله لار غوره کړه هغه دا وه چي د دیارلس سوه (۱۳۰۰) افغانی اتباعو او خپل حرمسرای سره یو ځای د بغداد څخه ووتی او د مُوصل، کِرکُوک، ګنجه او ایروان له لاري څخه ګُرجستان ته ولاړ چي هلته د هَرکل پاچا له ځانګړي هرکلی او احترام سره مخامخ سو[69]. هَرکل په ډېر احترام سره د آزاد خان حرمسرای ته په خپل دربار کي هوسا ځای ورکړ او دوه کاله ئې د هغوی مېلمه پالنه وکړه.[70]

## په ګُرجسان کي آزاد خان ته دکریم خان زند پیغام

کریم خان زند د آزادخان د کارونو څخه همېشه په تشویش کي وو کله چي هَرکل د آزادخان څخه هرکلی وکړ په دې سره ئې ډېر چُرت خراب وو او بېره ئې دوه چنده سوې وه. داښکاره وه چي آزادخان ورځ په ورځ خپل ځواکونه قوي کول او ډېرول. د هَرکل یو موټی

[69] آزاد خان افغان د هرکل د خور سره واده کړی وو

[70] جان، ار پیري، تاریخ ایران بین سالهای ۱۷۴۷-۱۷۷۹م.(تهران:- ۱۳۶۵)ص:۱۲۵ روضت الصا ص:۳۱.

کېدل د آزادخان سره هغه ته نوي قوت ورکړ. سربېره پردې د عادله خاتون او سليمان پاشا همکاري چي له مخکي ئې د آزادخان د همکارۍ او مېلمه پالني اعلان کړی وو آزاد خان ته پياوړتيا ورکوله.



هَرکُل (ارکُل-هراکليوس) د ګُرجستان بادشاه

کريم خان د آينده احتمالي خطراتو د ليري کولو له پاره د آزاد خان سره د روغي جوړي پلان جوړ کړ. د همدې پلان د عملي کولو له پاره د شاملو خانانو څخه دوه نفره محمد زمان خان او عبدالغفار سلطان چي يو څه موده يې په ګُرجستان کي تېره کړې وه د دوستانه

پیغامونه سره هَرکل او آزادخان ته ور ولېږل او غوښته یې چي آزادخان په روغه او جوړه باندي قانع کړي او بیرته ئې ایران ته راولي تر څو د ده سره په سوله کي یو ځای حکومت وکړي او د ده فکر آرام سي.

کریم خان خپل دغه آرزو ته د هَرکل پاچا په منځګړیتوب او همکاری سره ورسېدی. د کریم خان لیک چي آزادخان ته ورسېدی او هَرکل پاچا هم منځګریتوب شروع کړ، آزادخان د کریم خان لیک ته مثبت جواب ورکړ. ده، کریم خان، رښتینی او پر خبره ولاړ شخص ګڼی؛ نو یې وړاندیز ومانه او هَرکل هم ځانګړي ترتیبات نیولي وه او آزاد خان یې په ځانګړي ډول د ایران خواته رخصت کړ. کله چي په کال (۱۱۷۶هـ، ۱۷۶۲م) د کریم خان ځای ته ورسېد هغه یې تود هر کلی وکړ.

ایران ته د آزادخان په راتلو سره د کریم خان تشویش له منځه ولاړ او د شمال له لوري بېغمه سو. کریم خان آزادخان ته تر ټولو سردارانو په درنه سترګه کتل، د نامي اصفهاني د لیکني پر اساس چي لیکي:



## آزاد خان د کريم خان زند په دربار کي


"آزاد خان د کريم خان د وخت پر ټولو نوموتو اميرانو لوړتيا درلوده. دی د زنديانو په پايتخت شېراز کي اوسېدی؛ تر څو چي د کريم خان د مرګ نه دوه کاله وروسته، په ۱۱۹۵هـ،۱۷۸۱م کال کي وفات سو. د ده له وصيتونو څخه يو وصيت دا وو چي جسد ئې په امانت په شيراز کي ښخ سي او په مناسب وخت کي بيا کابل ته يووړل سي. خو د ده دغه وصيت د سياسي بدلونونو له امله پرځای نسو". د نامي اصفهاني د ليکني پر اساس چي کاظم موسوي هم منلې ده د آزاد خان جسد په شېراز کي خاورو ته وسپارل سو او کابل ته نه دی وړل سوی. يوازي جان آر پيري نظر په دې باره کي بېل دی، جان آر پيري ليکي:

"آزادخان د وکيل الدوله کريم خان له مرګه دوه کاله وروسته په کال ۱۱۹۵هـ/۱۷۸۱م کي وفات سو او جسد ئې د هغه په غوښتنه کابل ته يووړل سو او هلته ښخ دي". په دي باره کي د نامی اصفهانی نظر سم دی[71].

---

[71] ميرزا محمد صديق موسوی. تاريخ ګيتی ګشا در خاندان زند-تهران انتشارات امير کبير، ۱۳۶۳ ص ۱۲۲.

# احمدشاه درانی او آزادخان افغان

د احمد شاه بابا د شخصیت او کارنامو په اړه څه ویل ضروري ندي ځکه چي دی د معاصر افغانستان بنسټ ایښوونکی او په نړۍ کي یوه پیژندل سوې څېره ده، اما د احمد شاه بابا پیژندنه د آزاد خان د هم عصره تاریخ لیکونکو له نظره د آزاد خان د شخصیت په پیژندنه کي مرسته کوي. نو دا لازمه ګڼو چي دلته د تاریخ د مؤرخینو د نقل قول پر اساس د احمد شاه بابا په باره کي په لنډ ډول سره څه ووایو تر څو د آزاد خان موقف په افغانستان کي لوستونکي په ښه ډول درک او وپیژني. د یادولو وړ ده چي د معمول سره سم غیر افغاني مؤرخینو، په ځانګړې ډول ایراني مؤرخینو د افغاني تاریخي شخصیتونو ډېر لږ توصیف کړی او د هغوی په باره کي لږ حقیقت بیان کړی دئ؛ مګر ددغه دواړو افغان تاریخي شخصیتونو په اړه اکثره ریښتني ایراني مؤرخینو هغوی په نېکی سره یاد کړي او د هغوی صفت ئې کړی دئ

په ۱۷۳۸م کي نادر افشار کندهار ونیوی، دغه وخت احمدشاه ابدالي ۱۶ کلن وو. کله

چي شلو کالو ته رسېدلی وو د نادر افشار د پوځ له افسرانو څخه وو، آزاد خان په دغه وخت کي ۳۲/۳۰ کاله عمر درلود او د نادر شاه د پوځ د خپلواکو او مهمو قومندانانو او افسرانو له جملې څخه وو چي يوه ډله افغاني ځواکونه ئې رهبري کول. آزاد خان په دغه وخت کي نادر افشار ته د همکارۍ لاس ورکوي مخکي ذکر سول چي د آزادخان افغان نوم او يا د هغه کړني او اهداف د ايران د تاريخ سره يو ځای دي. هغسي چي احمد شاه بابا په افغانستان کي افغاني امپراتوري جوړه کړه، ده د ايران خلک پر ځان راټول کړي وو او د ايران د تخت او سلطنت غوښتونکی وو، ددې پر اساس دا ضروري او لازمه ده، چي په سياسي او اجتماعي برخه کي ددغه غيرتمن افغان د لاسته راوړنو د تشريح کولو له پاره د نادر افشار د دورې څخه وروسته د ايران تاريخ ته لنډه کتنه وکړو.

د هغه ايراني مؤرخينو د آثارو مطالعه چي افغان تاريخي شخصيتونو ته ئې اشغالگر ويلی دئ، هم لازمه ګڼو. دا کار کله کله د واقعيتونو څخه پرده پورته کوي او لوستونکي آخيري قضاوت ته پرېږدي. مثلاً محمد آصف رستم الحکما، د مشهوره کتاب "رستم التواريخ" ليکونکی چي د آزاد خان په وخت کي اوسېدی، په خپل کتاب کي د افغاني شاهانو لکه آزادخان افغان، شاه اشرف هوتک او شاه محمود هوتک صفتونه کړي دي او هم ئې د هغوی په باره کي بد ويلي دي، صفتونه ئې په دې کړي دي چي له حقيقت څخه سترګي نه پټيږي او بد يې په دې ياد کړي دي چي هغوی افغانان وو نه ايرانيان. په هر حال احمد شاه بابا هم يو له هغو کسانو څخه وو چي د نادر افشار له مرګ څخه وروسته ئې د خپلواکۍ بيرغ پورته کړ، د معاصر افغانستان بنسټ ئې کښېښود او د ايران د سلطنت غوښتونکی وو.

معاصر مؤرخين د احمد خان ابدالي په اړه ليکي چي د احمد خان نيکونه په ملتان کي اوسېدل او دی همالته زېږدلی دی د ځينو پيښو په اساس له خپل پلار محمد زمان خان سره کندهار ته او له هغه ځايه هرات ته تللئ او هلته ميشت سوی دئ. څه موده وروسته دی او ورور ذوالفقار خان د هوتکيانو (شاه حسين هوتکی) لخوا ونيول سول او په کندهار

کي بنديان ول تر هغې چي نادر افشار کندهار ونيو او دوی يې له زندانه راوايستل او احمد خان يې، د مهربانۍ له مخي، د مازندارن مامور کړ. احمد خان نادر افشار ته وړ او مناسب کارونه وکړل او همېشه به د نادر د پوځ په صفو کي وو او نادر له ده ډېر خوشحاله او راضي وو. په اکثره مجلسونو کي يې خپلو اميرانو او خدمتګارانو ته ويل: په ايران، توران او هندوستان کي ما د احمد خان غوندي د غوره اعمالو او افعالو لرونکی سړی نه دی ليدلی. احمد خان د ابدالي قوم له درې تر څلوره زره سپرو سره د نادر خيمه او حرم ساتنه کوله، څنګه چي د لوی انسان نښي پکښي وې يوه ورځ نادر ورته وويل: په تاکي د سردارۍ نښي سته او له ما وروسته به د پاچاهۍ پر تخت کښېنې.

دايرة المعارف فارسی د آزادخان افغان او احمد خان  ترمنځ يو ډول رقابت ته اشاره کوي او داسي ښکاري چي د ايراني مؤرخينو په اثارو کي دغه اختلاف ددغه دوو افغان قامونو ابدالي او غلجي  قبيلو تر منځ د شته اختلاف څخه سرچينه اخلي. مجمل التواريخ هم د آزاد خان افغان او احمد خان ابدالي ترمنځ اختلاف ته اشاره لري او ليکي: "آزاد خان له غلجي قبيلې څخه دی چي د ابدالي طايفې سيال بلل کېږي. ده اراده درلوده چي له خپلو خوانينو او لښکر سره د آذربايجان د ولايت تر نيولو وروسته عراق ته ولاړ سي او د عراق لښکر له ځان سره متحد کړي او بيا خراسان ته مخ کړي او هلته احمد شاه ابدالي مات کړي او پر احمد شاه د بريا وروسته د پادشاهۍ پر تخت کښېني خو دغه کار وځنډېدی ولي چي په آذربايجان او نورو ولايتونو کي په جنګ او وژنو بوخت پاته سو".

## د آزاد خان افغان مړينه

لکه څرنګه چي مخکي ذکر سول په اسلامي دايرة المعارف کي راغلی دي چي آزادخان له ايراني مشرانو سره له ډېرو جګړو او مېړانو وروسته، بالاخر ۱۱۵۹هـ/ ۱۷۸۱م د کريم خان له مرګ څخه دوه کاله وروسته د ۷۶ کالو په عمر د خناق په ناجوړي له دې نړۍ

ځخه سترګي پټي کړې او جنازه ئې په شیراز کښی خاورو ته وسپارل سوه. که څه هم ده وصیت کړی وو چي جنازه ئې کابل ته ولېږل سي خو د سیاسي عواملو له کبله دا کار عملي نسو. که څه هم د آزادخان ژوند د هغه سیاسي سیالانو ته د زغم وړ نه وو، د ده مرګ هم ډېر خلک د غم پر تغر کښېنول. هغه وخت د خراسان خلک په دوو ډلو وېشل سوي وو، ځیني د آزاد خان د مرګ غمجني پیښي ته خوشحاله وو دا هغه کسان وو چي آزاد خان ئې د خپل قدرت له پاره خطر ګڼی، خو بل اړخ ته بیا هغه خلک چي د آزاد خان پلویان وو په مرګ باندي يې غمجن سول.

آزاد خان افغان او احمد شاه ابدالي په اتلسمه پېړۍ کي د اولس کالو د عمر په توپیر سره اوسېدل که چیري د احمد شاه ابدالي زوکړه په کال ۱۷۲۲م او د آزادخان دا په ۱۷۰۵م کي سوې وي نو احمد شاه بابا له آزاد خان ځخه اولس (۱۷) کاله په عمر کم دی. دغه دوو مشهورو افغان حکمرانانو په دوو جلا ستراتیژکو منطقو کي قرار درلود. د ډېرو په فکر آزادخان او احمد شاه بابا په خپل ژوند کي یو له بله سره نه دي مخامخ سوي، ببله شکه په هیڅ تاریخ کي د دوی دوو په منځ کي د دښمنۍ یا همکارۍ ذکر نه دی سوی. دواړو خپل ژوند دارنګه تېر کړی چي یو له بله سره ئې جنګ یا همکاري نه ده کړې. د تاریخي متونو له قوله کله چي آزاد خان د کریم خان زند ځخه ماته وخوړله او دغه خبر احمد شاه بابا ته ورسېدی، احمدشاه بابا دوه ګوني احساسات لرل: داچي د هغه تر ټولو لوی سیال ماته خوړلې وه د خوشحالۍ احساس ئې کاوه او د بله پلوه ځکه خواشینی وو چي یو تاریخي او سیاسي شخصیت لرونکی افغان ماته خوړلې وه.

داکتر ګنداسنګ د دُراني احمد شاه د کتاب لیکوال دا پېښه داسي بیانوي:

"احمد شاه ته د آزادخان ماتي یو غبرګ او مخلوط احساس پیدا کړ یعني له یوې خوا ببغمي او بله پلوه خواشیني. د زند زیاتېدونکی زېرمي او ستري قوې د ده د شمال لوېدیځو قلمرونو له پاره ستر خطر پیداکولای سو؛ خو د پارس خلک په خپل ملک کي د

رغاوني په سختو کارونو اخته وو چي په هغه کي د خپل سلطنت جوړولو خيال هم شامل وو، نو هيڅ کله ئې هڅه ونه کړه چي افغانستان ونيسي او افغانان زور ازمايلو ته وپاروي"[72]

د آزادخان شکست د احمد شاه بابا له پاره له يوه اړخه ضايعه وه ځکه چي آزاد خان و پردويو ته د افغانانو تاريخي قوت ورښکاره کړي وو او له همدې سببه د افغانستان د خاوري د ښمنانو پر افغانستان باندي د حملې کولو جرأت نسواى کولاى. د گنداسنگ د ليکني په تائيد ښاغلی قدرت الله حداد په خپل کتاب د پښتنو لرغونی تاريخ کي داسي ليکي: "کله چي احمد شاه بابا د آزاد خان په شکست خبر سو، ډېر خفه سو. د احمد شاه بابا دوه ګونی حالت وو؛ خواشينی په دې وو، چي يو مېړنی افغان مات سوی دئ او خوشحال په دې وو چي يوازنی حريف ئې مات سو." ددغه تاريخي ټوټې په بيانولو سره په دې باندی پوهېږو چي د پرديو مداخلې څرنګه ددغه دوو قومونو ترمنځ د اختلافاتو سبب سولې او دغه دوې قبيلې په داخلي شخړو اخته سولې. ښايي کندهار ته د آزادخان د تلو علاقه هم د دې له پاره وه چي وکولای سي د افغانانو ترمنځ يوځل بيا يووالی راولي او د خپلو نيکونو د حکمرانۍ مرکز بيا احيا کړي. دا پخپله يو علت دی او کولای سو په څنګ کي ئې نور علتونه هم پيداکړو. څرنګه چي آزادخان غوښتل داسي يو دولت منځ ته راوړي چي له ايران، هندوستان او افغانستان څخه جوړوي نو ددغه هدف د لاسته راوړلو له پاره ضروري وه چي د افغانستان د خاوري تاريخي مرکزونو ته لکه کندهار او غزني ته سفرونه وکړي. د دې حقيقت څخه داسي ښکاري چي آزادخان هيڅ وخت د احمد شاه بابا سره د جنګ اراده نه درلوده.

---

[72]ډاکټر گنداسنگ. درانی احمد شاه،(کابل: مطبعه اسد دانش، ۱۳۶۶) ص: ۲۰۲.

## د آزادخان افغان موخي

آزادخان د خپلو موخو د لاسته راوړلو له پاره هڅې کولې، د مؤرخينو د ليکنو څخه ښکاري هغه د داسي موخو له پاره هڅې کولې چي تر افغانستان لوړي وې. په يو بل روايت د هغه موخي په افغانستان کي نه خلاصه کېدلې، لکه څرنګه چي هندي مؤرخ ډاکتر ګنداسنګ هم دې باره کي په خپل کتاب (احمد شاه دراني) چي په پښتو ژباړل سوی دئ ليکي:

"…. په دغه خبري پوهېدل په زړه پوري ده چي څنګه د غلزيانو د قبيلې د آزادخان افغان قدرت چي د پاچاهۍ له پاره ئې خپل مقاصد اعلان کړی وو، شنډ سو او د احمد شاه د امپراتورۍ په خلاف وېره له منځه ولاړه". ګنداسنګ د افغانانو تاريخ د کتاب، ليکوال فراير( Fryer)، صفحه( ۸۲ -۸۳) څخه نقل قول کوي او ليکي چي فراير وايي: "آزادخان د خپل ملت تر نورو مشرانو ډېر کلک، زړه ور او منور سړی وو، د ده عدالت، د برابرۍ افکار او له شيعه ګانو څخه د ده پلوي سبب شول چي زيات شمېر پارتيزان کسان د ده به شا وخوا راغونډ سي. څنګه چي ده خپل زياتېدونکی قدرت وليد نو په ښکاره ئې د عراق، خراسان او حتی د افغانستان د نيولو هدف اعلان کړ او وې ويل چي احمد شاه له دې د پاره بايد خلع سي، چي يو غاصب دي او فکر يې کاوه چي پاچاهي د غلزيو د قبيلې په يوه مشر پوري اړه لري، خو د ختيځ لور ته د ده حرکت د کريم خان زند له خوا خنډ سو.".[73]

تاريخي شواهد داسي ښيي چي آزادخان او احمد شاه بابا يو دبل په مقابل کي نه دی درېدلی او هيڅ برخورد ئې نه دی سره کړئ.

[73] ډاکټر ګنډاسنګ، درانی احمد شاه. (کابل: اسد دانش، ۱۳۶۶) ص:۱۹۹.

## ولي د افغانستان په تاریخ کې د آزادخان یادونه نه ده سوې؟

مخکي له مخکي د یادوني وړ ده چي متأسفانه د افغانستان په تاریخونو کي تر اوسه پوري د آزادخان یادونه نه ده سوې. آزادخان د افغانستان په تاریخ کي له میرویس نیکه، شاه محمود او شاه اشرف هوتکی څخه وروسته په خپل قوم کي تر ټولو لوی شخصیت دی. د آزاد خان په باره کي چي څه لیکل سوي دي غیر افغاني تاریخ لیکونکو په ځانګړې ډول ایرانیانو لیکلي دي. ایراني لیکوالان او مؤرخین هغه د یوه غلجي افغان په حیث پېژني چي په ایران کي ئې سلطنت کړی دئ، او د صفویانو مرکز اصفهان ئې خپل پایتخت ټاکلی وو. سربېره پر دې چي افغان او ایرانی لیکونکو په ښو یاد کړی دئ، خو دا ښکاره خبره ده چي ایرانیان به آزادخان د هغه ایراني سیالانو په مقابل غوره ونه بولي او آزادخان په باره کي به ټول تاریخي حقایق بیان نه کړي. غربي سرچینو هم له ایراني سرچینو څخه اخیستل سوي معلومات تکرار کړي دي.

د امریکایي لیکوال جان آر پیري په کتاب کي چي د آزادخان په باره کي څه راغلي دي د ایراني مؤرخینو څخه رانقل سوي دي. د روسي، ګُرجستاني، تُرکي او آذربایجاني مؤرخینو آثار، چي ددوی په خپلو ژبو لیکل سوي دي، تر اوسه پوري مطالعه او څېړل سوي نه دي.

په مسکو کي یو ځوان افغان لیکوال د محمد طاهر کاني په نامه وایي چي د مسکو په کتابتونونو کي د آزادخان د تاریخ په هکله ډېر آثار موجود دي. همدارنګه د فرانسې او تُرکیې په ملي آرشیفونو کي اسناد موجود دي چي باید مطالعه سي او تر خلکو پوري ورسیږي، د اصفهان په موزیم کي د آزادخان د پاچاهۍ سکه، فرمانونو او تصویر موجود دي چي باید تر څېړني او مطالعې لاندي ونیول سي.

د افغانستان د معاصر لیکوالانو له جملې څخه لیکوال او څېړونکي محترم څېړنوال

حبيب الله رفيع هم په پښتو ژبه د آزادخان په باره کي اسناد لري چي اميد دي ډېر ژر د آزادخان په اړه تکميل او چاپ سي. همدارنګه آغلي مبينه ميوند خپل مونوګراف د آزادخان په اړه د کابل پوهنتون اجتماعي علومو پوهنځی د تاريخ په څانګه کي تکميل کړ چي هغه هم په پلان کي ده چي چاپ سي.

ولي پر دې باندي ډېر ټينګار کيږي چي موږ افغانان د خپلو افغانانو د تاريخ او شخصيتو په اړه خپله يو څه وليکو ددې پر ځای چي د پردو ليکني مطالعه کړو؟ حقيقت ښکاره دئ چي پردي تاريخ د خپل ملي او سياسي ګټو پر اساس ويني، هر هغه څه چي ئې خوښ وي هغه ليکي. زموږ ګاونډيان همېشه زموږ تاريخ او افتخارات خپل بولي او په هغه باندي وياړي. ځيني غربي ليکوالان هم پټي سترګي ببله علمي څېړنو زموږ د همسايګانو د ليکنو څخه اخيستنه کوي. د ډېر افسوس ځای دا دی چي يو څه وخت مخکي په انګليسي ژبه د افغانستان د تاريخ په اړه ډېر لږ آثار پيداکېدل بې له انګريزي (بريتانوي) ليکوالو د آثارو څخه. تاسي خپله فکر وکړی چي هغوی به په دوو اخري پېړيو کي د افغانانو سره د دريو ناکامو جګړو په درلودلو سره د افغانانو د تاريخ په هکله څه ليکلي وي؟

لکه څرنګه چي په شروع کي وويل سول دغه اثر هم ډيري تشي، تېروتني او کمی لري چي ډېرو علمي څېړنو ته ضرورت لري، دغه کتاب په ډېر تلوار او لږ وخت سره راټول او د تکميلېدو وروسته چاپ سو. هيله ده چي ددغه اثر تشي، تېروتني، او کمی د نورو پراخو څېړنو، سيمنارونو، کنفرانسونو، او علمي او تاريخي ناستو په جوړولو سره اصلاح سي.

بهتره به داوي چي په دغه برخه کښي د سيد جمال الدين افغاني وينا ته غوږ ونيسو، څرنګه چي قدرت الله حداد په خپل کتاب کي راوړي:

"افغانان هر ميدان په اتفاق ګټي او په نفاق ئې بايلي. دی وايي: که موږ د ميرويس،

محمود، اشرف او آزادخان لارښوونې عملي کړې وای تل به بريالی وو".

سيد جمال الدين افغان په تتمة البيان في التاريخ الافغان کې داسې ليکي:

"افغانان په ايران کې يو داسې د خپلواکۍ بيرغ جګ کړی چې روسانو او عثماني دولت ته ماته ورکړې. هغه مهال د خپلواکۍ بيرغ کښته سي چې دوی د نفاق لاره ونيسي او و نه سي کولای د شاه اشرف، شاه محمود او آزادخان افغان لارښوونې تر سره کړی.[74]"

[74] حداد، قدرت الله، د پښتو لرغونی تاريخ کې رڼاوې،ص:۵۲.

# ضمیمه

# Appendix

## آزادخان بابا

کله چي نادر افشار په ۱۷۳۷م کال په خراسان کښي قدم کښېښود، په دغه وخت کښي آزادخان یو ۳۲ کلن او تازه دمه ځوان وو لیکن د هوتکیانو او ابدالیانو تر منځ د کشمکش او شخړو له امله سرګردان وو. نادر افشار د دوی تر منځ د بي اتفاقۍ تخم کرلی وو او د دوی له بې اتفاقي څخه ئې ګټه اخیستله. د ابدالیانو او غلجیانو تر منځ بې اتفاقي تر هغه اندازې پوري رسېدلې وه چي د هرات تسلیمول ئې اسانه کړي ول او پر دې سربېره ئې په ایران کي د هوتکیانو پر دولت د حملې زمینه برابره کړې وه.

د آزادخان موقف، په هغه وخت کي چي د هوتکیانو دولت له منځه ځي او نادر افشار راپورته کیږي، ډېرو څېړونو ته اړتیا لري. د هغه لسو کلونو په جریان کي چي نادر افشار په ایران کي راپورته کیږي او په ۱۷۳۷م کي کندهار ته داخلیږي، آزاد خان یو هوښیار عیار ځوان وو او عمر ئې په دغه دوره کي د ۲۰ بیا څخه تر ۳۲ کلونو پوري وو داچي په دغه موده کي دی چیري وو تر اوسه پوري کره تاریخي اسناد نسته، د لاسته راغلو اسنادو څخه داجوتیږي چي په اصفهان کي د شاه اشرف هوتک د واک په اخري ورځو کي سیدال خان ناصر د شاه اشرف د جنرال په حیث مقاومت کاوه، آزادخان د سیدال خان او هوتکیانو له کورنیو سره جنګي مرستي کولې لکه څرنګه چي د شاه محمود هوتک خور بي بي زینب له شعرونو څرګندیږي.

په ډېرو سرچینو کي بیا داسي راغلي کله چي نادر افشار کندهار ته ورسېد، آزادخان د کابل په شا وخوا کي له هغه سره یو ځای سوی دئ.

تر قره باغ پوري چي د غزني په ۱۲ کلیومتري کي واقع دی نادر افشار ته هیڅ مشکل پېښ نه سو، د نورالـه لاروي د لیکني پر اساس نادر په ټوله لار کي د افغانانو سره ښه چلند کاوه؛ ځکه چي نادر غوښتل په ایران او افغانستان کي یوه لویه امپراتوري جوړه کړي چي مرکز یې خراسان وي. داسي ویل کېږي چي نادر د حنفي مذهب پیرو وو نو د افغانانو سره یې چي اکثریت یې د حنفی مذهب پیروان وو د جنګ اراده نه درلوده.

د نادر پوځ د غزني د کار خلاصېدو وروسته د کابل په لور و خوځېد نادر خپل یوه اندازه پوځیان په غزني کي پرېښودل او دی پخپله کابل ته ولاړ. نادر مخکي له دې چي د غزني څخه د کابل په لور حرکت وکړي خپل یوه اندازه پوځیان د هزاره جاتو د سیمو لکه دایکندي، چغتو، دایزنګي او نورو سیمو د ځپلو او لوټولو له پاره و ګمارل. په هزاره جاتو کي د نادر د پوځیانو تلاښ نتیجه ورنکړه او یوازي دومره یې وکولای سوای چي یوه څه ماشومان او سپین ږیري له ځان سره بوزي.

آزاد خان په دغه وخت کي ۳۳ کالو په عمر یو زړه ور او خپلواک ځوان وو او یو لوی پوځ یې تر فرمان لاندي وو. ویل کیږي چي نادر افشار سره به یې مخکي لا سوله کړې وي. خو په هر صورت هغه له خپلو ډیرو پلویانو سره چي اکثره یې غلجي پښتانه وو د ایران په لور ولاړ او د اصلان خان سره یې د آذربایجان حکومت خپل کړ.

دا معلومه نده چه د نادر او د هند بابري حکومت تر منځ جګړو کښي آزاد خان د نادر د لوري پلوي کړې ده که نه؟. د هغه (آزاد خان) د مشر ورور **بهادرخان** نوم هم په تاریخ کي ذکر سوی دئ او په کابل جنوب خوا کي د هغه په نامه یوه کلا سته چي د **بهادرخان کلا** ورته وایي.

د بي بي زینب پښتو اشعار شاهدي ورکوي چي آزادخان له اوله سره د نادر پلوي نه کوله ، داسي ویل کیږي کله چي نادر د کندهار څخه د غزني په لور حرکت وکړ په لار کي یې د خلګو سره ښه سلوک کاوه له همدې امله د کندهار او غزني پر لار پرتو خلکو چي اکثره یې

پښتانه وو د نادر افشار سره جنګ ونکړ او د غزني او کابل دفاع يې ونکړه، لوی علت دا وو چې نادر د هند د نيولو اراده کړې وه او د افغانانو بالخصوص پښتنو هم دا هيله وه چې په غزني او کابل کې د بابري حکومت واک پای ته ورسيږي.

د نادر افشار سره د آزاد خان د جګړې د نه کولو يو بل علت دا هم وو، چې نادر افشار د سني مذهب پيرو وو او پر افغانانو په ځانګړي ډول ابدالي او غلجي پښتنو باندي يې باور درلود او همدې امله يې پر آزادخان هم باور کړی وو او د ايران خاوره تر آذربايجان او ارمنستان پوري هغه ته ور پر ايښې وه.

نادر افشار د کابل تر نيولو وروسته هندوستان ته د تګ اراده کوي او آزادخان د ايران په لور ځي. داهم بايد زياته سي چې د افغانستان په مشرقي سيمو کې د نادر افشار د پرمختګ يو بل علت دا وو چې پښتنو د هند بابري حکومت څخه نفرت درلود او حاضر نه وو چې دفاع يې وکړي. کله چې د نادر پوځ د افغانستان د مرکز او مشرق په لور حرکت کاوه د ابداليانو او غلجيانو پوځ د هغوی په مخ کې روان وو. ځيني په دې عقيده دي چې د نادر په لاس د کابل د نيولو په وخت کې ( ۱۱۵۰هـ /۱۷۳۷م ) آزادخان افغان له خپل غټ غلجي پوځ سره د نادر له پوځ سره د همکارۍ له پاره يو ځای سوی او له هغه وروسته ايران ته تللی دئ او د نادر افشار تر مرګه پوري يې پر آذربايجان حکومت کړی دئ. د کاظم موسوی له انده آزادخان په ۱۱۵۰هـ ۱۷۳۷م ايران ته راغلی او د امير اصلان خان قرقلو د نادر افشار د عمه زوی او دآذربايجان حاکم سره يې په ګډه حکومت کړی دئ.[75]

د مرحوم غبار له انده نادر افشار د حنفي مذهب ته ميلان درلود او په دې هڅه کې وو چې حنفي مذهب په ايران او افغانستان کې د رسمي مذهب په حيث ومنل سي. د هوتکيانو د

---

[75] تبصره: که څه هم په تاريخونو کښي نه دي راغلي اما داسي ګمان کيږي چې آزاد خان په دغه وخت کښي ۳۲- ۳۳ کلن وو او امکان لري چې د کابل، غزني او کلات په سيمو کې ئې استوګنه درلوده او له هغه وروسته به د نادر افشار سره يو ځای سوی وي.

دېرش کاله حکومت په دوران کې ایران د افغانستان د خاوري یوه برخه وه له همدې امله نادر افشار د افغانستان له خاوري سره لېوالتیا لرله او افغنستان ته ئې لومړی پام واړاوه.


## د آزادخان کلی په غزنی کښې

دا چي آزاد خان څه وخت، څومره موده او ولي د ایران او آذربایجان څخه غزني ته تللی دئ او هلته ئې د غزني د ښار د شمال په لس کیلومتری کي یوه مظبوطه کلا جوړه کړې ده او دده څخه هلته اولادونه پاته سوي دي ډېرو څېړنو ته ضرورت لري. اما ددې کلا د مشرانو له خبرو څخه داسي معلومیږي چي آزادخان د خپلي یوې ایرانی مېرمني سره هلته لویه کلا جوړوي چي تر اوسه پوري د آزاد خان د کلا په نامه یادیږي. دغه مطلب شفاهي روایتونه هم تائید وي.

د آزادخان د کورنۍ د پاته کسانو له جملې څخه د یوې سپین سري د خولې بیان رانقلول به بې ګټي نه وي، هغه داسي وایي:

"آزادخان د کریم خان زند له خور او یوه دوه کلن کوچني سره چي د مخکني مېړه څخه ئې وو افغانستان ته راځي. د دوی ملګرتیا په زرو هاو سپرو او پلیو لښکرو کوله، پر لار باندي د ښځي ماشوم مړ سو. آزاد خان ددغه ښځي سره چي وروسته په «ایراني بي بي» مشهوره سوله د غزني سیمي ته راغلو". آزاد خان له خپلي ښځي څخه پوښتنه کوي چي کوم ځای دي خوښ وي، هلته به کلا درته جوړه کړم. د آزادخان مېرمني له دې وروسته چي شا وخوا سیمي ئې ولیدلې، د آزادخان د کلا اوسنی موقعیت یې، چي ځانګړې آب هوا لري، خوښ کړ آزادخان هم هلته کلا جوړه کړه.


**نقشه**




د غزني د ښار په شمال كي د

آزادخان د کلا سطحي نقشه:





د کلا اوسنی شکل




د کلا اصلي شکل

وايي څو ورځي ئې د کلا پر مځکه آسونه او پيلان وځغلول تر څو د کلا بنسټ ښه پوخ سي. بالاخر ئې د زرهاو کارګرو په نيولو سره کلا داسي جوړه کړه  چي څلور برجونه ئې لرل.

لکه څرنګه چي پورته ذکر سول دغه بيان چي آزادخان په باره کښي وسو فقط د يو نقل قول دئ او تر اوسه پوري تاريخي اسناد وجود نه لري چي سل په سلو کي ومنل سي. اما تاريخ دا ښيي، چي کريم خان د نادر افشار له مرګ وروسته د ايران پاچاهي خپل حق ګڼي له آزادخان سره جګړې کوي او ماتي خوري په يوه جګړه کښي کريم خان ماته خوري او تښتي، د حرامسراى او کورنۍ ټول غړي يې لکه مور درى خوندي او کوچنيان د آزاد خان بنديان کيږي، خو آزادخان چي د افغاني خاصيتونو څخه ئې يو خاصيت مېړانه وه د هغه له کورنۍ څخه په مېړانه ساتنه کوي.  همدارنګه پروفيسور جان آر پيري، په خپل کتاب کي کريم خان زند، د ايران تاريخ، ۱۷۴۷- ۱۷۷۹ م ، په ۲۹۶ مخ کي د کريم خان حال بيان کړى او د کريم خان د دوو خويندو ذکر يې کړئ دئ. د دوى مړونه ئې شېخ علي او بله محمد خان ياد کړي

دي او ويلي يې دي چې د درېيمي خور مېړه ئې نامعلوم دئ.

له دې څخه داسي ښکاري چې دا به د کريم خان هغه خور وي چې آزادخان له ځان سره غزني ته راوستله او هلته ئې کلا ورته جوړه کړه، کومه کلا چې نن ورځ ورته د آزادخان کلا ويل کيږي او د غزني د ښار د شمال په لس کيلومتري کي پرته ده. دغه کلا د آزاد خان کلا باندي شهرت لري او د آزاد خان په امر جوړه سوې ده.

## د آزاد خان څخه پاته سوې کورنۍ

د آزادخان د کلا اوسېدونکي، چې شمېر يې يو څو محدودو کورنيو ته رسيږي، ټول ځانونه د آزادخان لمسيان بولي او آزاد خان ته ئې د «بابا» لقب ورکړی دئ، يعني په «آزاد خان بابا» ئې يادوي، دوی اکثريت خپل تخلص «آزاد » او يا «آزادځوی» انتخابوي، دغه کورنۍ اکثراً مهاجر سوي دي خو په دې کي هيڅ شک نسته چې دوی ټوله ځانونه د آزادخان افغان لمسيان بولي او هريو خپله شجره د يوه پلار څخه بل پلار ته او بالاخره دغه سلسله و آزاد خان ته رسوي.

د آزادخان په کلا کي د يوځ سپين سري ښځي د شفاهي روايت پر اساس هغه ښځه د کريم خان خور وه چې د آزاد خان سره افغانستان ته راغلې وه او بيرته ايران ته تللې وه. اولادونه ئې همدلته پاته سول. د هغې څخه يو زوی او څلور لمسيان پاته سوي دي، د زوی نوم ئې دوست محمد خان وو هغه څلور زامن درلودل: ميرخان، احمد خان، منصور خان او سردار خان. د يوه شفاهي روايت په اساس هر يو د آزادخان د کلا په يوه برج کي اوسېدئ. مشر زوی ئې سردار خان وو.[76] وايي له دغه مېرمني يوه لور هم پاته سوه چې وروسته له واده

[76] شفاهي روايت د يوې سپين سري د خولې چې د آزادخان په کلا په غزنی کي اوسېدله.

کوم نژدې کلي ته ولاړه".

بې له آزادخان له اولادي په غزنی کښې، د آزاد خان افغان د کورنۍ څخه د څلورو ښځو او یوه زوی نومونه خارجي مآخذ لري. د لوی اسلامي دایرة المعارف څخه په استفاده اولینه مېرمن یې د اشرف خان افغان لور وه. کله چې آذربایجان ته ولاړ هلته ئې د محمد موسی افشار، نایب الحکومه، د لور (قز آغا) سره واده وکړ. درېیمه مېرمن د ګُرجستان د واکمن هَرکل (هراکلیوس) خور وه. د محمد امین ګُلستانه له قوله هغه ئې په زور واده کړې وه او څلورمه مېرمن ئې په عراق کې د «زور» د ښار د واکمن خالد پاشا لور وه [77]

همدارنګه په خارجي مآخذو (ایراني) کې د آزادخان افغان د یوه ځوی د **احمد خان** په نوم یادونه سوې ده، چې د پلار (آزادخان) له مرګه وروسته د زندیه مشرانو له جملې څخه ګڼل کیږي او په ۱۱۹۸ق/ ۱۷۸۴م کې، یعني درې کاله د پلار له مرګ وروسته، د جعفر خان زند له لوري په دې ګمارل کیږي چې د کاشان له ښار څخه د اقا محمد خان قاجار د حملې په مقابل کې ساتنه وکړي. لیکن په هغه نښته کې چې دده او اقا محمد خان قاجار تر منځ د نصراباد په سیمه کې وسوه، احمد خان ماته وخوړله. د یو بل روایت له مخه احمد خان د کم پوځ له کبله په خپل ځان کېددې پوځي وړتیا نه لیدله چې د قاجاري خان سره مقابله وکړي، له همدې کبله مخکې له جګړې د کاشان څخه د اصفهان په لور ولاړ او کله چې ئې هلته هم کوم څه ونه کړل، پوځ ئې له منځه ولاړ.[78] مګر د ابوالحسن محمد امین ګُلستانه د لیکنې څخه داسې معلومیږي چې وروسته له دې چې علي مراد خان په قُم کې دا خبر واورېد،چې علي عرب خان زند د آقامحمد خان قاجار څخه ماته خوړلې او د آقامحمد خان لښکر ډېروالی ور معلوم سو، نو احمد خان د آزاد خان زوی ئې مشر وټاکه او په پوره امکاناتو او شان شوکت سره ئې د کاشان په لور ولېږئ، تر څو هر چیري چې د ده


[77]کاظم موسوي. اسلامي دایرة لمعارف (تهران، مرکز. اسلامي دایرة المعارف،(۱۳۶۹)ج، ۱، ص: ۳۲۲س:۲.

[78]کاظم موسوي.


په نظر مناسب وي په قُم یا کاشان کې د قاجار د پوځ سره جنګ وکړي. احمد خان کاشان ته ولاړ آقامحمد خان هم له قُم څخه حرکت وکړ.


احمد خان د سنسن په سیمه کې سنګر ونیوئ، چې د کاشان د دارالمومنین څخه شپږ فرسنګه فاصله لري. وروسته د څو ورځو له تېرېدو د نصرآباد لته ولاړ. د احمد خان افغان او آقامحمد خان قاجار پوځونه په نصرآباد کې سره مخامخ کیږي او وروسته له څه موده جنګه د احمد خان لښکر ماته خوري ځکه چې د آقا محمد خان قاجار جنګیالي ډېر وو. له دغه خبر څخه علی مراد خان ډېر متأثر سو او نور ئې ددې توان ونه درلود چې د آقا محمد خان د لوی پوځ په مقابل کې ودرېږي، په دې ډول یې اصفهان هم له لاسه ورکړ.[79]

[79]میرزا محمد صادق، موسوي نامي. تاریخ ګیتی ګشاه درتاریخ خاندان زند.(تهران: امیر کبیر،۱۳۶۳،) ص:۲۶۴-۲۶۵





د آزاد خان افغان سره د ليکوال ونی (شجره)


آزاد خان افغان
دوست محمدخان
احمدخان
سردارخان
منصورخان
میر خان
تاج محمد خان
رحم دل خان
محمد اعظم خان
امیر محمد خان
نورالحق خان
موسی خان خان
محمد ابراهیم خان
محمد علم خان
دُر محمد خان
شمس الحق خان
محمد قاسم خان
محمد محسن خان
محمد نسیم خان
محمد اسحق خان
محمد یونس خان
محمد اکرم خان
محمد افضل خان
محمد اعظم خان
نصرت الله خان
ذبیح الله خان
دبی الله خان
فضل محمد خان
فقیر محمد خان
عبدالحمد خان
نور محمد خان
نور محمد خان
گل محمد خان
یار محمد خان
سید محمد خان
عبدالحق خان
نجیب الله خان
نقیب الله خان
شاه جان خان
اسدالله خان
احمد الله خان
حشمت الله خان
غلام حیدر خان
زلمی خان
محمد انور خان
محمد میرویس خان
عبدالصبور خان
عبدالقهار خان
عبدالولی خان
محمد نادر خان
میرویس خان
محمد فواد خان
اسدالله خان
محمد ناصر خان
محمد ضمیر خان
خلیل الرحمن خان
محمد نجیم خان
محمد کاظم خان
احمد ضیا خان
آرش خان
محمد یوسف خان
نوید خان
یما خان
محمد آصف خان
جاوید خان
محمد عارف خان
تیمور خان
محمد کبیر خان
سلیمان خان
محمد داود خان
الیاس خان
د آزاد خان بابا د اولادي شجره
چمتو کونکی: نجیم آزادزوی





**د آزادخان بابا د اولادي شجره**

چمتو کونکی: نجیم آزادزوی



آزاد خان افغان
دوست محمدخان
میر خان
منصورخان
سردارخان
احمدخان
میر علم خان
علام جان خان
عبدالجبار خان
عبدالرحمن خان
میر افضل خان
عبدالقادر خان
جلال الدین خان
عبدالرحیم خان
محمد نبی خان
محمد ایوب خان
عبدالمتین خان
عمی خان
عبدالرازق خان
همایون خان
سنجر خان
عبدالحی خان
جاوید خان
عبدالهادی خان
صلاح الدین خان
عبدالحمید خان
محمد یعقوب خان
عبدالروف خان
عبدالرازق خان
محمد عمر خان
زلمی خان
احمد شاه خان
احمد شاکر خان
احمد فهیم خان
احمد ضیا خان
زمر خان
جمشید خان
محمد زمان خان
خان محمد خان
دین محمد خان
گل محمد خان
عوث الدین خان
ولی محمد خان
نور محمد خان
عبدالقیوم خان
علام ربان خان
علام بهالدین خان
میر افغان خان
گل محمد خان
شیر محمد خان
آعا محمد خان
احمد فرید خان
زلگی خان
فیروز خان
محمد علی خان
علام جیلان خان
علام سرور خان
علام نبی خان
علام ذکریا خان
عبدالرحیم خان
عبدالحکیم خان
عبدالقدر خان
عبدابصیر خان
عبدالشبیر خان
پرویز خان
عبدالحد خان
احمد شبیر خان
میرویس خان
توریالی خان
بریالی خان
پشتون خان
د آزادخان بابا د اولادي شجره
چمتو کونکی: نجیم آزادزوی




**د آزادخان بابا د اولادي شجره**

**چمتو کونکی: نجیم آزادزوی**

**************

## شعر

زمونږ فلکلور کې د کوقاف د ښاپیریانو قصې
ورسره جوختی د وحشی تورو دیوانو قصې

له کومه شوي دغه کله او هم چا راوړي
ایا باد او که مرغانو په هوا راوړي

نن ښکاره شوه چی زمونږ له ګران وطن نه
لوی سردار وه له افشار سره وه تللی دی ګلشن نه

آذربیجان کې حکمران شو ورسره یی خپل لښکر وه
دا ښاغلي آزاد خان وه ډیر باتور او زړه ور وه

د کوقاف حاکم یاغی شو،سرېې واخیست له پاچانه
آزادخان د پاچا خوښ شو هوښیاری کې د هرچانه

د کوقاف په لور روان شو هم خطری دیری وی
په جګو دنګو غرو کې تنګی دری ډیری وی

سخت ازمایښت وه سیالی پخی ډیری وې
بری یی راوړ،آزاد بیګ شو آزاد خان په هره خوا کې

له شیرازه تر بغداده، جنګیدلې آزاد خان د فارس ټوله دنیا کې
د آزاد خان شخصیت شو ستورې ځلیده پای په آسمان کې

د تاریخ بهیر دې راوړ، شو پاچا په اصفهان کې
خو افسوس، گمنام اتل دی لیکوال تری بی خبر تیر شوی

په شان عصمت کې سکندر دده تر خوا تیر شوی
څوک چی اشنا ورسره، تری ناپیلیون هیر شوی

له قبرستانه، نکړی ژغ چی حال یی څه تیر شوی
تاریخ شاهید دی چی په شان او په عزت تیر شوی.

*س. منګل*



اعلحضرت آزاد خان (شاه) افغان

# فهرست مآخذ

1. محمد هاشم آصف: رستم التواریخ، کتاب و انتشارات پارس، سال انتشار: جولای ۲۰۰۹ (۱۳۸۸ خورشیدی).
2. جان ر. پری: کریم خان زند، تاریخ ایران، ۱۷۴۷-۱۷۷۹ ، چاپ: شیکاگو یونیورسیتی پریس، لندن-شیکاگو سال ۱۹۷۹م.
3. حداد، قدرت الله. د میراني او میرانو خبري، اقبال پشتون یار، ۱۳۷۹.
4. محبوبه تهرانی: کریم خان زند، ناشر: کتاب پارسه، چاپ سوم ۱۳۹۰.
5. دکتر غلامعلی رجایی: ایران و کریم خان زند، انتشارات اطلاعات، تهران ۱۳۹۷ه.ش.
6. محمد طاهر کانی: اعلحضرت آزاد خان افغان، خپرندوی: د افغانستان د کلتوری ودي ټولنه، جرمنی. چاپ کال: ۱۳۹۰ (۲۰۱۱م).
7. حجازی، محمد: خلاصه تاریخ ایران تا انقراض قا جاریه. تهران: انتشارات ابن سینا، ۱۳۳۵.
8. دوکتور گنداسنگ: درانی احمدشاه. ترجمه سرمحقق مرستیال نصرالله سوبمن، مطبعه اسد دانش، کابل ۱۳۶۶.
9. دکتر پرویز رجبی: کریم خان زند و زمان او، نشر اختران، چاپ ۱۳۸۷.
10. سایکس، ژنرال سرپرسی سایکس: تاریخ ایران. ترجمه سید محمد فخرداعی گیلانی، تهران: انتشارات دنیای کتاب، ۱۳۶۶.
11. سیستانی، محمد اعظم . قیام های مردم افغانستان بر ضد نادرشاه افشار. کابل: مطبه دولتی، ۱۳۶۸.
12. شیرازی،سیدحسین: تاریخ دُرانیان. مرکزچاپ وانتشارات تهران، ۱۳۸۹.
13. ضیاءالادبا، علی رضا: تاریخ ایران.، ذی القعده سنه ۱۳۲۳. به شکل دست خط در کتابخانه کانون فرهنگی امام صادق (ع) درچنداول کابل، تاسیس۱۳۵۵
14. غبار، میرغلام محمد. افغانستان درمسیرتاریخ. تهران: نشرانقلاب، ۱۳۶۲.
15. فرهنگ ، میرمحمدصدیق: افغانستان در پنج قرن اخیر.
16. گلستانه، ابولحسن محمد امین: مجمل التواریخ . تهران: چاپخانه دانشگاه. ۱۳۴۴.
17. لارودی، نورالله: زندگانی نادر پسرشمشیر. نشریات مجمع ناشرکتاب، ۱۳۴۴.

18. موسوی نامی اصفهانی، میرزامحمد صادق: تاریخ گیتی گشا در خاندان زند. تهران: امیرکبیر، ۱۳۶۳.
19. هدایت، رضا قلی خان: روضت الصفا. تهران: انتشارات کتاب فروشی های پیروز، ۱۳۳۹.
20. دایرت المعارف بشر، جام. تهران: امیرکبیر.
21. مصاحب، غلام حسین: دایرت المعارف فارسی، تهران: فرانکلن، ۱۳۴۵.
22. موسوی، کاظم: دایرت المعارف بزرگ اسلام، تهران: مرکز دایرت المعارف بزرگ اسلامی، ۱۳۶۹.
23. پارشاطر،احسان: دانشنامه ایران واسلام، تهران: بنگاه ترجمه ونشرکتاب، ۱۳۴۵.
24. ناظم باختری،الحاج خلیل الله: مقاله تحت عنوان رادمردیکه بنامش سکه پادشاهی زده شد. وازنیکان به نیکی یادکنیم .

**Bibliography**

1. Perry, John R. Karim Khan Zand; A History of Iran, 1747-1779. Publication of the Center for Middle Eastern Studies, No. 12. The University of Chicago Press, Chicago and London. Published 1979 in the United States.

2. Tytler, Sir Kerr Fraser. Afghanistan, A Study of Political Developments in Central Asia. Second Edition. Oxford University Press, London. Published First Editioin 1950, Second Edition 1953 and Reprinted 1958.

3. Lambton, K.S. Qajar Persia, Qajar Dynasty, University of Texas Press, 1987.

4. Persiani, Alessandro. The Persians, From Earliest days to the twentieth century Publisher: Elek Books, 1971.

5. Beck, Sanderson. Persia (Iran) and Afghanistan 1500-1950. Mideast and Africa, 1700-1850, Persia of Nadir & Zands, 1726-1794.



د کابل پوهنتون د انجینرۍ پوهنځی پخوانی استاد پوهنمل مهندس محمد نجیم آزادزوی په غزني کې زیږیدلی او لومړنۍ زده کړې یې د مزارشریف په باختر لیسه، د غزني په سنایي لیسه او د کابل په غازي لیسه کې بشپړې کړې دي. په ۱۸ کلنۍ کې د زده کړو لپاره امریکا ته ولاړ. په ۱۹۷۸ کال کې د کابل پوهنتون د انجینرۍ له پوهنځي څخه فارغ شو او د انجینرۍ پوهنځي په علمي کادر کې پاتې شو او درې کاله یې تدریس وکړ. د ۱۹۸۱ په اګست کې، هغه د هیواد پرېښودلو ته اړ شو. هغه په پاکستان کې د ۸ میاشتو لپاره د یونیسف سره د افغان کډوالو په کمپونو کې د اوبو رسولو او چاپیریال ساتنې په برخه کې کار کړی دی. د ۱۹۸۱ په اګست کې، هغه متحده ایالاتو ته لاړ او د MIT څخه یې د ښاري پلان جوړونې او مهندسی په برخه کې د ماسټرۍ سند ترلاسه کړ. له ۱۹۸۵ څخه تر ۱۹۹۳ پورې، هغه په بوسټن ښهر کې د مسلکي دندې سربیره، د بوسټن په مختلفو پوهنتونونو کې تدریس کړی. د مې په ۱۹۹۳ کې، هغه په بوستون کې د «آزاد مهندسی دفتر» تاسیس او پرانست. د ۱۹۹۳ راهیسې، دا ډیری پروژې بشپړې کړې. له ۲۰۰۱ کال راهیسې د افغانستان د بیارغونې په بیلابیلو پروژو کې دخیل دی. مهندس ازادزوی په امریکایی او نړیوالو ورځپاڼو کې د مهندسۍ، ښاری پلان جوړونې او د افغانستان د بیارغونې په اړه ګڼې مقالې لیکلی دی.

"داګړی د کوم ایراني مشر د نه موجودیت له امله آزاد خان د ایران د پاچاهۍ پر پلاز (تخت) ناست دی، د اصفهان دارالسطنه ئې د سلطنت مقام ټاکلی، د نادر افشار د قوانینو او ټګلارې مطابق حکومت کوي او د حکومتولۍ څخه ئې داسې ښکاري چې د خلکو سره ئې کړه وړه په عدل او انصاف سره دي..."

*رستم التواریخ د محمد آصف رستم الحکماء چاپ: پارس بوک، کال: ۲۰۰۹ م*

"د شاه اشرف هوتک څخه وروسته لوی واکدار چې په ایران کښې راپورته سو هغه آزاد خان «لندړ» دئ، ده ځان د ایران پاچا اعلان کړ او د نادر افشار له مرګه څخه وروسته د کریم خان له ټینګو دښمنانو څخه شمېرل کېدی. د افغاني او ایراني روایاتو پر اساس ددې دواړو دښمنانو اوږد مهاله جنګونه د ایران د تاج او تخت د نیولو له پاره بالاخره د یوې ربښتیني طرحي پر اساس په سوله او دوستۍ سره پای ته ورسېدل، آزاد خان وروسته له دې سولې څخه ډېر کلونه د خپل پخواني رقیب او دښمن په دربار کښې په ډېر احترام او عزت تېر کړل".

*علی احمد جلالی در کتاب تاریخ افغانستان از نگاه عسکری، نقل از افغنستون در صفحه ۱۸۹*

"آزاد خان ډېر لوی فکر درلود، ده غوښتل چې افغانستان، ایران او هندوستان د یوه قدرت تر اداري لاندې راولي او یوه لویه امپراتوري جوړه کړي، ددغه هدف د لاسته راوړلو له پاره ئې قومي او مذهبي مسایلو ته اهمیت نه ورکاوه ټولو ته ئې په یوه سترګه کتل او خپلو هیلو ته د رسېدو له پاره ئې دغه ټګلاره ګټوره بلله. د ده راتګ و غزني ته هم د ده د اهدافو یوه برخه وه"

*گنداسنگ نویسنده کتاب درانی احمد شاه، ترجمه مرستیال نصرالله سوبمن به زبان پشتو*